# د پیدایښت کتاب

سریزه

هر انسان غواړي په دې پوه شي چې هغه د کوم ځای څخه راغلی دی او هغه دنیا چې هغه په کې پیدا شوی دی څنګه پیدا شوې ده. د پیدایښت کتاب د تورات اولنی کتاب دی چې دې مهمو سوالونو ته ځواب ورکوي.

د پیدایښت د کتاب اول فصل د دنیا د پیدا کېدلو، د اولنیو انسانانو یعنې زمونږ د نیکونو حضرت آدم او بي بي حوا په پیدا کېدلو سره شروع کیږي او د عدن په باغ کې د هغوی د ښه ژوند په باره کې او وروسته بیا په ګناه کې د راګیرېدلو او د خدای پاک د حضور څخه د شړلو په باره کې دوام مومي. وروسته بیا د حضرت آدم او بي بي حوا د زامنو یعنې هابیل او قاین په باره کې معلومات ورکوي او د یوولسم فصل تر پای پورې د حضرت نوح، طوفان او هغې کشتۍ په باره کې چې حضرت نوح یې د خدای پاک په لارښوونې سره جوړه وي مونږ ته معلومات راکوي. د دې کتاب د دولسم فصل په شروع کېدلو سره د اسراییلو د اولنیو نیکونو چې اولنی یې حضرت ابراهیم ؤ چې په ایمانداری سره د خدای پاک څخه په اطاعت کولو یې د ایماندارانو د پلار نوم وګاټه دوام مومي. د پیدایښت کتاب وروسته بیا د حضرت ابراهیم د زامنو حضرت اسماعیل او حضرت اسحاق او د حضرت اسحاق د زوی حضرت یعقوب او همدارنګه د حضرت یعقوب د دولسو زامنو په باره کې چې د اسراییلو د دولسو قبیلو بنسټ ایښودونکي شول معلومات ورکولو ته دوام ورکوي. د پیدایښت د کتاب اخرنۍ برخه د حضرت یعقوب د یو زوی چې حضرت یوسف نومیږي د هغه په باره کې په خبرو کولو سره چې مصر ته یې د حضرت یعقوب او د هغه د اولادې یعنې اسراییلو د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هجرت شرایط برابر کړل پای ته رسیږي.

د پیدایښت کتاب کوم افسانوی کتاب نه دی چې شروع یې له دې څخه وشي چې په تېرو زمانو کې څه وو او څه نه وو، بلکه مونږ ته معلومات راکوي چې دنیا څنګه پیدا شوه او د انسان په ژوند کې ګناه څنګه راپیدا شوه. دا یو لیکل شوی تاریخ دی. دا تاریخ په پنځوسو فصلونو کې په داسې شکل سره بیان شوی دی چې د هر انسان پام ځانته راجلبوي.

خدای پاک دې وکړي چې د دې کتاب لوستل ستاسو دپاره د برکت سبب وګرځي او د تل ژوندون هغه نعمت مو په برخه شي چې خدای پاک غواړي تاسو ته یې درکړي.

د موضوعګانو فهرست:


د کائناتو او انساني نسل پیدایښت ۱: ۱ – ۲: ۲۵

د ګناه شروع کېدل او د انسان سقوط ۳: ۱ – ۲۴

د حضرت آدم څخه تر حضرت نوح پورې ۴: ۱ – ۵: ۳۲

حضرت نوح او سیلاب ۶: ۱ – ۱۰: ۳۲

د بابل برج ۱۱: ۱ – ۹

د سام څخه تر حضرت ابراهیم پورې ۱۱: ۱۰ – ۳۲

حضرت ابراهیم، حضرت اسحاق او حضرت یعقوب ۱۲: ۱ – ۳۵: ۲۹

د عیسو اولاده ۳۶: ۱ – ۴۳

حضرت یوسف او د هغه ورونه ۳۷: ۱ – ۴۵: ۲۸

اسراییلیان په مصر کې ۴۶: ۱ – ۵۰: ۲۶




Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دنيا څنګه پيدا شوه

١ (١) په ابتدا کې خداى پاک اسمان او ځمکه پيدا کړل. (٢) ځمکه خالي او بې شکله وه او د
ژورو دريابونو په سطح باندې تياره وه او د خداى پاک روح د اوبو په مخ باندې ګرځېده. (٣)
خداى پاک وفرمايل: <رڼايي دې شي> او رڼايي شوه. (٤) خداى پاک رڼايي وليدله چې ښه ده او
هغه رڼايي د تيارې څخه جدا کړه. (٥) خداى پاک رڼايي د ورځې په نوم ياده کړه او تياره يې د
شپې په نوم ياده کړه، ماښام ؤ او سهار شو. دا اوله ورځ وه.

(٦) خداى پاک وفرمايل: <د اوبو ترمنځ دې فضا وي چې پاسنۍ اوبه د لاندې اوبو څخه جدا
کړي.> (٧) خداى پاک فضا جوړه کړه او د فضا لاندې اوبه يې د پاسنيو اوبو څخه جدا کړې او
هماغه شان وشول. (٨) خداى پاک فضا د اسمان په نوم ياده کړه، ماښام ؤ او سهار شو. دا دوهمه
ورځ وه.

(٩) خداى پاک وفرمايل: <د اسمان لاندې اوبه دې په يو ځاى کې راټولې شي او وچه دې ښکاره
شي> او هماغه شان وشول. (١٠) خداى پاک وچه د ځمکې په نوم ياده کړه او اوبه يې د درياب په
نوم يادې کړې او خداى پاک وليدل چې دا ښه دي. (١١) خداى پاک وفرمايل: <ځمکه دې نباتات
راشنه کړي. هغه تخم لرونکي نباتات، مېوه لرونکي ونې چې خپل جنس او شکل ته ورته مېوه او
تخم د ځمکې پرمخ ونيسي.> او هماغه شان وشول. (١٢) ځمکې هغه بوټي راشنه کړل چې د خپل
جنس په شان تخم نيسي او هغه مېوه دارې ونې چې د هغو تخم د هغوى د جنس په شان وي او
خداى پاک وليدل چې دا ښه دي. (١٣) ماښام ؤ او سهار شو. دا دريمه ورځ وه.

(١٤) خداى پاک وفرمايل چې <د اسمان په فضا کې دې رڼاګانې وي چې ورځ د شپې څخه جدا
کړي او هغه دې د ښنبو په خبر د ورځو، فصلونو او کلونو دپاره وي، (١٥) او د اسمان په فضا کې
دې رڼاګانې وي چې ځمکه روښانه کړي> او هماغه شان وشول. (١٦) خداى پاک دوه لويې
رڼاګانې جوړې کړې، لمر يې د ورځې د رڼا ورکولو دپاره او سپوږمۍ يې د شپې د رڼا ورکولو دپاره
او ستورې يې هم جوړ کړل. (١٧) خداى پاک هغوى د اسمان په فضا کې ځاى په ځاى کړل ترڅو
ځمکې ته رڼايي ورکړي، (١٨) چې ورځ او شپه ورباندې رڼا شي او رڼا د تيارې څخه جدا کړي او



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای پاک ولیدل چې دا ښه دي. ۱۹ ماښام ؤ او سهار شو، دا څلورمه ورځ وه.

۲۰ خدای پاک وفرمایل: <اوبه دې د ژوندیو موجوداتو څخه ډکې شي او مرغان دې د ځمکې د
پاسه د اسمان په فضا کې والوزي.> ۲۱ نو خدای پاک لوی دریابي حیوانات او د مخلوقاتو ټول
ډولونه چې په اوبو کې اوسیږي جوړ کړل. هغه همدارنګه ډول ډول مرغان د هغوی د جنس په شان
جوړ کړل او خدای پاک ولیدل چې دا ښه دي. ۲۲ خدای پاک هغوی ته برکت ورکړ، ویې فرمایل:
<بارداره او زیات شئ او دریابونه ډک کړئ او مرغان دې د ځمکې په مخ زیات شي.> ۲۳ ماښام
ؤ او سهار شو. دا پنځمه ورځ وه.

۲۴ خدای پاک وفرمایل: <په ځمکه کې دې ژوندي حیوانات د دوی د جنس په څېر راپیدا شي،
کورني حیوانات او وحشي حیوانات او خزندې دې د هغوی د جنس په شان راپیدا کړي> او هماغه
شان وشول. ۲۵ نو خدای پاک وحشي حیوانات د هغو د جنس په شان او کورني حیوانات او
خزندې د هغوی د جنس په شان جوړ کړل او خدای پاک ولیدل چې دا ښه دي.

۲۶ خدای پاک وفرمایل: <مونږ به انسان په خپل شکل او زمونږ په شان جوړ کړو ترڅو دوی په
ماهیانو، په مرغانو، په کورني حیواناتو، په ټوله ځمکه او خزندو باندې حکم چلوي.> ۲۷ نو
خدای پاک انسان په خپل شکل پیدا کړ، هغه یې د خدای پاک په شکل پیدا کړ. هغوی یې نر او ښځه
پیدا کړل. ۲۸ خدای پاک هغوی ته برکت ورکړ او ویې فرمایل: <بارداره او زیات شئ او ځمکه د
خلکو څخه ډکه کړئ او د خپل واک لاندې یې راولئ او په ماهیانو، په مرغانو او په ټولو حیواناتو
باندې حکم چلوئ.>

۲۹ خدای پاک وفرمایل: <ما تاسو ته د ځمکې په مخ باندې ستاسو د خوراک دپاره هغه بوټي او
هغه مېوه دارې ونې درکړي دي چې تخم نیسي. ۳۰ ما ټولو وحشي حیواناتو، مرغانو، خزندو او
هغو ټولو ته چې د ژوندون ساه په کې ده ټول شنه بوټي د هغوی د خوراک دپاره ورکړل.> او
همداسې وشول.

۳۱ هر هغه څه چې خدای پاک جوړ کړي وو هغه یې ولیدل چې ټول ډېر ښه وو! ماښام ؤ او



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سهار شو. دا شپږمه ورځ وه.

۲ ۱ نو اسمان او ځمکه او نور ټول شیان جوړ شول. ۲ په اوومه ورځ خدای پاک هغه ټول کارونه چې کول یې سرته ورسول او کار یې بس کړ. ۳ خدای پاک اوومه ورځ مبارکه وبلله او هغه یې خاصه وګرځوله ځکه چې په هغه ورځ هغه پیدایښت پوره کړ او کار یې بس کړ. ۴ دا د اسمان او ځمکې پیدا کېدل وو.

## د عدن باغ

څه وخت چې ښښتن خدای اسمانونه او ځمکه جوړ کړل، ۵ تر هغه وخته پورې لا هیڅ وابنه یا نور بوټي راشنه شوي نه وو، ځکه چې ښښتن خدای باران نه ؤ اورولی او څوک نه ؤ چې په ځمکه باندې کار وکړي. ۶ نو د ځمکې څخه د اوبو ویالې راووتلې او د ځمکې مخ ته یې اوبه ورکړې.

۷ ښښتن خدای خاوره راواخیستله او د هغې څخه یې آدم جوړ کړ او د هغه په پوزه کې یې د ژوندون روح پو کړ او هغه ژوندی بدن شو.

۸ ښښتن خدای په عدن کې لمرخاته خواته یو باغ جوړ کړ او هغه انسان چې هغه جوړ کړی ؤ هغه یې په دې باغ کې واچاوه. ۹ خدای پاک په دې باغ کې هر قسم ښایسته او مېوه داري ونې راشنې کړلې او د باغ په منځ کې دوه نورې ونې وې. یوه د ژوندانه ونه او بله د ښو او بدو د پېژندلو ونه.

۱۰ د عدن څخه یو سیند جاري شو چې باغ ته اوبه ورکړې او دا سیند بیا په څلورو سیندونو باندې ووېشل شو. ۱۱ د اولنې سیند نوم فیشون دی چې د حویلې په ټوله ځمکه باندې راتاو شوی دی او هلته سره زر دي، ۱۲ چې د هغه ځای سره زر ډېر ښه دي. د خوشبویۍ مواد او قیمتي تیږې هم په کې پیدا کیږي. ۱۳ دوهم یې د جیحون سیند دی چې د کوش د ټولې ځمکې څخه راتاو شوی دی. ۱۴ دریم سیند د دجلې په نوم یادیږي چې د آشور لمرخاته خواته بهیږي او څلورم د فرات سیند دی.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ نو څښتن خدای حضرت آدم د عدن په باغ کې واچاوه چې د هغه خدمت او ساتنه وکړي.
۱۶ څښتن خدای حضرت آدم ته وفرمایل: <د باغ د ټولو ونو څخه مېوه خوړلی شې. ۱۷ مګر
د ښو او بدو د پېژندلو د ونې څخه نه، ځکه کله چې د هغې ونې مېوه وخورې بې شکه چې مړ به
شې.>

۱۸ څښتن خدای وفرمایل: <دا ښه نه ده چې آدم دې یوازې اوسي، زه به د هغه دپاره یو مناسب
ملګری جوړوم چې د هغه سره مرسته وکړي.> ۱۹ نو بیا څښتن خدای د خاورې څخه ټول
حیوانات او مرغان جوړ کړل او هغه یې حضرت آدم ته راوستل ترڅو وګوري چې په هغوی باندې
کوم نوم ږدي. په دې ترتیب سره په هغوی ټولو باندې نومونه کېښودل شول. ۲۰ بیا حضرت آدم په
ټولو کورني او وحشي حیواناتو او مرغانو باندې نومونه کېښودل.

د هغوی څخه یو هم د حضرت آدم دپاره مناسب ملګری نه ؤ. ۲۱ نو څښتن خدای حضرت آدم
په درانه خوب باندې ویده کړ او د هغه د پوښتیو څخه یې یوه راواخیستله او د هغې ځای یې په
غوښه باندې ډک کړ. ۲۲ څښتن خدای د هغې پوښتۍ څخه ښځه جوړه کړه او هغه یې حضرت
آدم ته راوستله. ۲۳ حضرت آدم وفرمایل:

<دلته اوس زما په شان یو څوک شته!

هډوکی یې زما د هډوکي څخه اخیستل شوی او غوښه یې زما له غوښې څخه

د هغې نوم ښځه ده ځکه چې هغه د سړي څخه اخیستل شوې ده>

۲۴ له همدې کبله سړی خپل مور او پلار پرېږدي او د خپلې ښځې سره یوځای شي او سره یو
وجود شي.

۲۵ سره د دې چې حضرت آدم او د هغه ښځه دواړه لوڅ وو، خو دوی نه شرمېدل.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د انسان اولنی ګناه

**۳** ۱ د هغو ټولو وحشي حیواناتو د ډلې څخه چې څښتن خدای جوړ کړي وو، مار ډېر مکرجن
ؤ. یوه ورځ هغه ښځې ته راغی او پوښتنه یې ورڅخه وکړه: <آیا په رښتیا سره خدای پاک تاسو ته
ویلي دي چې په باغ کې د هیڅ یوې ونې مېوه ونه خورئ؟>

۲ ښځې ځواب ورکړ: <خدای پاک فرمایلي دي چې مونږ کولی شو د باغ د ټولو ونو د مېوو
څخه وخورو، ۳ بې له هغې ونې څخه چې د باغ په منځ کې ده. هغه مونږ ته فرمایلي دي چې د
هغې ونې مېوه مه خورئ حتیٰ هغې ته لاس هم مه وروړئ، که داسې مو وکړل نو تاسو به مړه
شئ.>

۴ مار ښځې ته وویل: <داډه اوسئ تاسو به مړه نه شئ. ۵ خدای پاک پوهېږي چې که چېرې
تاسو د دې ونې مېوه وخورئ نو ستاسو سترګې به خلاصې شي او تاسو به د خدای پاک په شان شئ
او په ښو او بدو شیانو باندې به پوه شئ.> ۶ ښځې ونې ته په ځیر وکتل او هغه ونه د هغې په
نظر کې ښکلې او مېوه یې خوندوره ښکاره شوه، فکر یې وکړ چې دا ونه به د پوهې د حاصلولو
دپاره خومره ښه وي. نو هغه مېوه یې راواخیستله او ویې وخوړله او خپل مېړه ته یې چې د هغې
سره ؤ هم ورکړه او هغه هم وخوړله. ۷ په هماغه وخت کې د هغوی سترګې وغړېدلې او پوه
شول چې لوڅ دي نو د اینځر پاڼې یې یو تر بله سره وګنډلې او ځانونه یې ورباندې پټ کړل. ۸
مازدیګر کله چې باد لګېده، حضرت آدم او د هغه ښځې د څښتن خدای د قدمونو اواز واورېد چې
په باغ کې ګرځېده. هغوی وویرېدل او ځانونه یې د ونو ترشا پټ کړل. ۹ څښتن خدای په
حضرت آدم باندې غږ وکړ: <ته چېرته یې؟>

۱۰ هغه ځواب ورکړ: <په باغ کې مې ستا د قدمونو اواز واورېد، ووېرېدم او خپل ځان مې پټ کړ
ځکه چې لوڅ وم.>

۱۱ خدای پاک ورڅخه پوښتنه وکړه: <تاته چا وویل چې لوڅ یې؟ آیا د هغې ونې مېوه دې
خوړلې ده چې ما درته ویلي وو چې هغه مه خوره؟>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٢ حضرت آدم وفرمايل: <هغې ښځې چې تا ماته راکړې ده، دا مېوه راکړه او ما وخوړله.>

١٣ نو څښتن خدای د ښځې څخه پوښتنه وکړه: <تا څه وکړل؟>

ښځې ځواب ورکړ: <مار زه وغولولم او ما هغه مېوه وخوړله.>

١۴ نو څښتن خدای مار ته وويل: <په دې سبب چې تا دا کار کړی دی ته به د نورو ټولو کورني
او وحشي حيواناتو څخه زيات لعنتي يې! ټول عمر به په سينه باندې ښوئيږې او خاورې به خورې.
١۵ زه به داسې وکړم چې ته او دا ښځه به د يو بل څخه کرکه کوئ. ستا د نسل او د ښځې د نسل
ترمنځ به همېشه دښمني وي. هغه به ستا سر ټکوي او ته به د هغه پونده چيچې.>

١۶ څښتن خدای ښځې ته وفرمايل: <د اولاد د زېږولو په وخت کې به ستا دردونه زيات کړم،
خو ته به د مېړه شوق کوې او هغه به په تا باندې حکم چلوي.>

١٧ څښتن حضرت آدم ته وفرمايل: <دا چې تا د خپلې ښځې خبره اورېدلې ده او د هغې ونې
مېوه دې وخوړله چې ما درته ويلي وو چې هغه ونه خورې، نو دا ځمکه ستا په سبب لعنتي شوه او
ته به ټول عمر د هغې څخه په ډېر زحمت سره خوراک لاس ته راوړې. ١٨ ځمکه به هرزه بوټي
او اغزي راشنه کوي او ته به ځنګلي بوټي خورې. ١٩ د خپل تندي په خولو باندې به خواړه
خورې، تر هغه وخته پورې چې بېرته هغې خاورې ته وروګرځې د کومې څخه چې جوړ شوی يې،
ځکه چې ته خاوره يې او بېرته به خاورې ته ورګرځې.>

٢٠ حضرت آدم په خپلې ښځې باندې حوا نوم کېښود ځکه چې هغه به د ټولو انسانانو مور وي.
٢١ څښتن خدای د حضرت آدم او د هغه د ښځې دپاره د حيوان د پوستکي څخه کالي جوړ کړل
او هغوی ته يې ورواغوستل.

## حضرت آدم او بي بي حوا له باغ څخه شړل کيږي

٢٢ څښتن خدای وفرمايل: <اوس چې آدم زمونږ په شان شو چې ښه او بد پېژني بايد دا اجازه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورنه کړای شي چې د ژوندانه د ونې څخه مېوه وخوري او تر ابده پورې ژوندی پاتې شي.> ۲۳
نو څښتن خدای دوی د عدن د باغ څخه وشړل چې لاړ شي او په هغې ځمکې باندې کار وکړي چې
د هغې د خاورې څخه حضرت آدم جوړ شوی ؤ. ۲۴ حضرت آدم يې وشاړه او د عدن د باغ
لمرخاته خواته د ننوتلو په دروازه کې يې کيروبيان او هغه اور لرونکې توره چې هرې خواته به
تاوېدله، ودرول ترڅو څوک ونه شي کولی چې د ژوندانه ونې ته ورنژدې شي.

## قائن او هابيل

**۴** ۱ حضرت آدم د بي بي حوا سره يوځای شو او بي بي حوا اميدواره شوه او زوی يې پيدا
شو. بي بي حوا وفرمايل: <زه به په هغه باندې قائن نوم ږدم ځکه چې هغه مې د څښتن په مرسته
راوړ.> ۲ وروسته بيا هغې بل زوی هابيل وزېږاوه. هابيل شپون شو، خو قائن زميندار شو. ۳
لږه موده وروسته قائن د خپلې ځمکې د حاصلاتو يوه برخه د څښتن حضور ته نذرانه وړاندې کړه.
۴ او هابيل هم خپل اولنی پيدا شوی ورى قرباني کړ او ډېره ښه حصه يې د څښتن حضور ته
نذرانه وړاندې کړه. څښتن هابيل او د هغه نذرانه قبوله کړه. ۵ خو قائن او د هغه نذرانه يې قبوله
نه کړه، نو قائن ډېر په قهر شو او خپل سر يې ښکته واچاوه. ۶ څښتن قائن ته وفرمايل: <ته ولې
په قهر شوې؟ او ولې دې خپل سر ښکته اچولی دی؟ ۷ که ښه کار دې کړی وای، آيا قبول شوی
به نه وای؟ مګر ښه دې نه دي کړي. اوس ګناه د دې موقعې په لټه کې ده چې په تا باندې حمله
وکړي، هغه غواړي چې حکم درباندې وچلوي مګر ته بايد په هغې باندې غالب شې.>

۸ قائن خپل ورور هابيل ته ووېل: <راځه چې پټي ته لاړ شو.> هغه وخت چې دوی په پټي
کې وو قائن په خپل ورور هابيل باندې حمله وکړه او ويې واژه.

۹ بيا څښتن د قائن څخه پوښتنه وکړه: <ستا ورور هابيل چېرته دی؟>

هغه ځواب ورکړ: <زه څه خبر يم؟ آيا زه د خپل ورور ساتونکی يم؟>

۱۰ بيا څښتن وفرمايل: <تا څه وکړل؟ خپل ورور دې وواژه او د هغه وينه په ځمکه باندې تويه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوه. اوس ستا د ورور وینه ماته فریاد کوي چې تاته سزا درکړم. ⑪ زه به په تا باندې لعنت ووایم، ځکه چې تا هابیل وواژه او د هغه وینه دې په ځمکه باندې توی کړه. ته به هیڅکله په دې ځمکه باندې کښت ونه کړې. ⑫ که ته په دې ځمکه باندې خواري وکړې، هغه به ستا دپاره هیڅ حاصل درنه کړي. ته به بې کوره یې او خپل پاتې عمر به یو ځای او بل ځای په پرېشانی او سرګردانی کې تېروې.>

⑬ قائن وویل: <ته ماته داسې سخته سزا راکوې چې زه یې د زغملو توان نه لرم. ⑭ ما نن د دې خاورې څخه شړې، چې خپل کور پرېږدم او ستا د حضور څخه لېرې لاړ شم. زه به بې کوره پرېشانه او سرګردانه ګرځم او هرڅوک چې ما پیدا کړي نو وبه مې وژني.>

⑮ څښتن ځواب ورکړ: <نه! که څوک تا ووژني زه به هغه ته اووه واري سزا ورکړم.> نو څښتن په قائن باندې یوه نښه کېښودله چې دا به د هغه چا دپاره خبرداری وي څوک چې وغواړي قائن ووژني. ⑯ قائن د خدای پاک د حضور څخه لاړ. هغه په نود (یعني سرګردانی) نومي ځای کې چې د عدن لمرخاته خواته پروت ؤ ژوند اختیار کړ.

## د قائن اولاده

⑰ قائن د خپلې ښځې سره یوځای شو او زوی یې پیدا شو او په هغه باندې یې خنوخ نوم کېښود. هغه یو ښار جوړ کړ او د خپل زوی خنوخ نوم یېورباندې کېښود. ⑱ د خنوخ څخه عیراد پیدا شو او د عیراد څخه محویائیل پیدا شو، د محویائیل څخه متوشائیل پیدا شو او د متوشائیل څخه لمک پیدا شو.

⑲ لمک دوه ښځې وکړې، د یوې نوم عاده ؤ او د بلې نوم ظله ؤ. ⑳ د عادې څخه یابال پیدا شو او هغه اولنی نفر ؤ چې کورني حیوانات یې روزل او په خېمو کې اوسېده. ㉑ د هغه د ورور نوم یوبال ؤ او هغه اولنی نفر ؤ چې رباب او شپېلی به یې وهله. ㉒ د ظلې څخه هم توبل قائن پیدا شو او هغه آهنګر ؤ او د برنجو او اوسپنې څخه به یې د کار هر ډول وسایل جوړول. نعمه د توبل قائن خور وه.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۳ یوه ورځ لمک خپلو ښځو ته وویل:

<ای عادي او ظلې زما خبرې واورئ

ما یو ځوان سړی وژلی ځکه زه یې وم وهلی

۲۴ که بدل د قائن اخیستل کیږي په اووه واري

نو د لمک به اخیستی شي اووه اویا واري>

## شیث او انوش

۲۵ حضرت آدم بیا د خپلې ښځې سره یوځای شو او زوی یې پیدا شو او د هغه نوم یې شیث کېښود. هغې وفرمایل: <دا ځکه چې خدای پاک ماته د هابیل په ځای چې د خپل ورور قائن له لاسه ووژل شو بل زوی راکړ.> ۲۶ د شیث زوی پیدا شو او د هغه نوم یې انوش کېښود. په همدې وخت کې خلکو د ښتن عبادت کول شروع کړل.

## د حضرت آدم اولاده

(اول تواریخ ۱: ۱ – ۴)

**۵** ۱ دا د حضرت آدم د اولادې د پیدا کېدلو لیکلی بیان دی. کله چې خدای پاک انسان پیدا کړ، هغه یې د خپل ځان په شان پیدا کړ. ۲ هغوی یې نر او ښځه پیدا کړل او برکت یې ورته ورکړ او هغوی یې انسانان وبلل. ۳ حضرت آدم د یوسلو دېرش کالو ؤ چې د هغه زوی پیدا شو چې د هماغه په شان ؤ او په هغه باندې یې شیث نوم کېښود. ۴ د شیث د پیدا کېدلو څخه وروسته حضرت آدم اته سوه کاله نور هم ژوندی ؤ او نور زامن او لورګانې یې پیدا شوې. ۵ نو حضرت آدم د نهه سوه دېرش کالو په عمر ؤ چې وفات شو.

۶ شیث د یوسلو پنځو کالو ؤ چې د هغه زوی انوش پیدا شو. ۷ او وروسته له هغې چې دی د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

انوش پلار شو، شیث اته سوه اووه کاله ژوند وکړ او نور زامن او لورګاني يې پيدا شوي ﴿٨﴾ او په
نهه سوه دولس کلنی کې مړ شو.

﴿٩﴾ انوش د نوي کالو په عمر ؤ چې زوی يې پيدا شو او د هغه نوم يې قينان کېښود. ﴿١٠﴾ وروسته
له دې چې هغه د قينان پلار شو انوش اته سوه پنځلس کاله ژوند وکړ او نور زامن او لورګاني يې پيدا
شوي ﴿١١﴾ او په نهه سوه پنځه کلنی کې مړ شو.

﴿١٢﴾ قينان اويا کلن ؤ چې د هغه زوی مهللئيل پيدا شو. ﴿١٣﴾ وروسته له دې چې هغه د مهللئيل
پلار شو قينان اته سوه څلوېښت کاله ژوند وکړ او نور زامن او لورګاني يې پيدا شوي ﴿١٤﴾ او په نهه
سوه لس کلنی کې مړ شو.

﴿١٥﴾ مهللئيل پنځه شپېته کلن ؤ چې د هغه زوی يارد پيدا شو. ﴿١٦﴾ مهللئيل د يارد د زېږېدو څخه
وروسته اته سوه دېرش کاله ژوند وکړ او نور زامن او لورګاني يې پيدا شوي ﴿١٧﴾ او په اته سوه پنځه
نوي کلنی کې مړ شو.

﴿١٨﴾ يارد د يوسلو دوه شپېته کالو ؤ چې د هغه زوی خنوخ پيدا شو. ﴿١٩﴾ وروسته له دې چې هغه
د خنوخ پلار شو يارد اته سوه کاله ژوند وکړ او نور زامن او لورګاني يې پيدا شوي ﴿٢٠﴾ او په نهه
سوه دوه شپېته کلنی کې مړ شو.

﴿٢١﴾ خنوخ د پنځه شپېته کالو ؤ چې د هغه زوی متوشالح پيدا شو. ﴿٢٢﴾ وروسته له دې چې هغه د
متوشالح پلار شو خنوخ درې سوه کاله د خدای پاک سره په دوستی کې تېر کړل او نور زامن او
لورګاني يې پيدا شوي. ﴿٢٣﴾ خنوخ درې سوه پنځه شپېته کاله ژوند وکړ. ﴿٢٤﴾ هغه د خدای پاک
سره په دوستی کې خپل ژوند تېر کړ او له هغې څخه وروسته هغه د سترګو څخه پناه شو ځکه چې
خدای پاک هغه پورته يووړ.

﴿٢٥﴾ متوشالح د يوسلو اووه اتيا کالو ؤ چې د هغه زوی لمک پيدا شو. ﴿٢٦﴾ وروسته له دې چې
هغه د لمک پلار شو، متوشالح اووه سوه دوه اتيا کاله ژوند وکړ او نور زامن او لورګاني يې پيدا شوي
﴿٢٧﴾ او په نهه سوه نهه شپېته کلنی کې مړ شو.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ لمک د یوسلو دوه اتیا کالو ؤ چي د هغه زوی پیدا شو. ۲۹ لمک وویل: <دا به زمونږ دپاره په ستونزو، په سخت کار او د لاسونو په تناکو کي تسلي وي چي مونږ يې په هغي ځمکي باندي کوو چي خدای پاک ورباندي لعنت ویلی دی.> نو په هغه باندي يې نوح نوم کېښود. ۳۰ وروسته له دي چي حضرت نوح پیدا شو، لمک پنځه سوه پنځه نوي کاله ژوند وکړ او نور زامن او لورګاني يې پیدا شوي ۳۱ او په اووه سوه اووه اویا کلنی کي مړ شو.

۳۲ وروسته له دي چي حضرت نوح د پنځه سوه کالو شو، د هغه دري زامن پیدا شول چي سام، حام او یافث نومېدل.

## د انسان بدکاري

۱-۲ د انسانانو شمېر د ځمکي په مخ په زیاتېدو شو او د هغوی لورګاني پیدا شوي. د هغوی شخه ځیني دومره ښکلي وي چي د فرښتو ډېري خوښي شولي او د هري یوي سره يې چي غوښتل ودونه يې وکړل. ۳ هغه وخت ښښتن وفرمایل: <زه به انسان پرېنږدم چي هغه د همېش دپاره ژوندی وي او عمر به يې د یوسلو شلو کالو شخه زیات نه وي، ځکه چي هغه فاني دی.> ۴ کله چي فرښتو د انسانانو د لورګانو سره ودونه وکړل د هغوی شخه ډېر لوی او قوي انسانان پیدا شول او د پخوانی زماني او حتیٰ وروسته هم مشهور جنګیالیان وو.

۵ ښښتن ولیدل چي په دنیا کي د انسان بدکاري زیاته شوه او د دوی ټول خیالونه او ارادي خرابي دي. ۶ نو ښښتن پښېمانه شو او هغه خفه شو چي انسان يې د ځمکي په مخ پیدا کړی دی. ۷ نو هغه وفرمایل: <زه به د ځمکي له مخ شخه ټول ژوندي مخلوقات له منځه یوسم! زه به انسانان، حیوانات، مرغان او خزندي له منځه یوسم. زه پښېمان یم چي دوی مي جوړ کړل.> ۸ خو خدای پاک د حضرت نوح شخه راضي ؤ.

## حضرت نوح

۹ دا د حضرت نوح قصه ده. حضرت نوح په خپله زمانه کي نېک او پرهېزګار سړی ؤ او خدای



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاک ته ډېر نژدې ؤ. ۱۰ هغه درې زامن درلودل: سام، حام او یافث. ۱۱ مګر د خدای پاک په
نظر کې ځمکه د فساد څخه ډکه شوې وه او د ظلم زیاتي لمن هرې خواته خپره شوې وه. ۱۲
خدای پاک ولیدل چې دنیا فاسده شوې ده ځکه چې ټول انسانان بې لارې شوي او فاسد شوي دي.

۱۳ خدای پاک حضرت نوح ته وفرمایل: <ما دا فیصله کړې ده چې ټول انساني نسل ببخي له
منځه ورم، ځکه چې دنیا د دوی د زور زیاتي د عملونو څخه ډکه شوې ده. ۱۴ د ځان دپاره د
ډېرو ښو لرګیو څخه کشتۍ جوړه کړه، په هغې کې کوټې جوړې کړه او دننه او دباندې ورته د قیر
پوښ ورکړه. ۱۵ او هغه داسې جوړه کړه چې اوږدوالی یې یوسلو پنځه دېرش متره، سور یې دوه
ویشت متره او لوړوالی یې دیارلس متره وي. ۱۶ په کشتۍ باندې یو بام جوړ کړه او د پنځه
شلوېښت سانتي مترو په شاوخوا کې د بام او د کشتۍ د اړخ ترمنځ فاصله پرېږده. کشتۍ درې منزله
جوړه کړه او په یوه اړخ کې ورته دروازه جوړه کړه. ۱۷ زه په ځمکه باندې سیلاب راولم چې ټول
ژوندي موجودات له منځه یوسي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي مړه شي. ۱۸ مګر زه به ستا
سره لوظ وکړم چې ته به د خپلو زامنو، خپلې ښځې او د خپلو زامنو د ښځو سره کشتۍ ته ورننوزې.
۱۹ د ټولو ژوندیو مخلوقاتو څخه یوه یوه جوړه نر او ښځه د ځان سره کشتۍ ته راوله ترڅو هغه
ژوندي وساتې. ۲۰ د هر ډول مرغانو، حیواناتو او خزندو څخه به دوه دوه تاته راشي ترڅو ژوندي
وساتل شي. ۲۱ د خپل ځان او هغوی دپاره هر ډول خواړه له ځانه سره واخله او ذخیره یې
کړه.> ۲۲ نو حضرت نوح ټول کارونه د خدای پاک د حکم سره سم سرته ورسول.

## سیلاب

**۷** ۱ څښتن حضرت نوح ته وفرمایل: <د خپلې ټولې کورنۍ سره کشتۍ ته ننوزه، ځکه چې په
ټوله دنیا کې مې یوازینی سړی ته ولیدلې چې نیک کارونه کوې. ۲ د ټولو پاکو حیواناتو څخه
اووه، اووه جوړې نر او ښځه او د ناپاکو حیواناتو څخه یوه، یوه جوړه نر او ښځه د ځان سره واخله.
۳ او همدارنګه د هر قسم مرغانو څخه اووه جوړې نر او ښځه واخله ترڅو د هغوی نسل د
ځمکې په مخ باندې ژوندی پاتې شي. ۴ ځکه چې زه به پس له اووه ورځو څخه په ځمکه
باندې څلوېښت شپې او څلوېښت ورځې باران واوروم او ټول ژوندي مخلوقات چې ما جوړ کړي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دي هغه به له منځه یوسم.> ⑤ حضرت نوح هغه ټول کارونه سرته ورسول چي خدای پاک ورته حکم کړی ؤ.

⑥ حضرت نوح د شپږسوه کالو په عمر ؤ چي په ځمکه باندې سیلاب راغی. ⑦ حضرت نوح او د هغه زامن او ښځه او د زامنو ښځې يې د سیلاب څخه د بچ کېدلو په خاطر کشتۍ ته ننوتل.
⑧-⑨ لکه څنګه چي خدای پاک حضرت نوح ته حکم کړی ؤ، د پاکو او ناپاکو حیواناتو څخه او د مرغانو او خزندو څخه یوه، یوه جوړه نر او ښځه حضرت نوح ته راغلل او کشتۍ ته ورننوتل.
⑩ نو پس له اووه ورځو سیلاب راغی.

⑪ حضرت نوح شپږسوه کلن ؤ او د دوهمي میاشتي په اوولسمه ورځ د ځمکي لاندې ژورو ځایونو څخه اوبه راووتلې او د اسمان دروازې خلاصې شوې. ⑫ څلویښت شپې او څلویښت ورځې په ځمکه باندې باران واورېده. ⑬ او په هماغه ورځ حضرت نوح او د هغه زامن، سام، حام او یافث او د حضرت نوح ښځه او د هغه د زامنو درې ښځې کشتۍ ته ورننوتل. ⑭ د هغوی سره د هر قسم کورني او وحشي حیواناتو، خزندو او د هر قسم مرغانو ⑮ یعني د ژوندیو مخلوقاتو څخه یوه یوه جوړه حضرت نوح ته راغله او کشتۍ ته ننوتل. ⑯ لکه څنګه چي خدای پاک حکم کړی ؤ، هغوی د هر ژوندي مخلوق څخه نر او ښځه ننوتل. نو څښتن د هغوی پسې دروازه وتړله.

⑰ باران څلویښت ورځې واورېد او اوبه د ځمکې په مخ زیاتې شوې او کشتۍ يې پورته کړه او د ځمکې څخه اوچته شوه. ⑱ اوبه ډېرې پورته شوې او کشتۍ د اوبو په مخ باندې روانه شوه. ⑲ اوبه تر دې اندازې زیاتې شوې چي تر اسمان لاندې ټول لوړ غرونه يې پټ کړل. ⑳ اوبه د غرونو د څوکو څخه اووه متره اوچتې شوې. ㉑ د ځمکې په مخ هر ژوندی موجود یعني کورني او وحشي حیوانات، مرغان، خزندې او انسانان ټول مړه شول. ㉒ د ځمکې په مخ ټول ساه لرونکي مړه شول. ㉓ څښتن د ځمکې په مخ ټول ژوندي مخلوقات، انسانان او حیوانات، خزندې او مرغان له منځه یوړل او یوازې حضرت نوح او هغوی چي په کشتۍ کي د هغه سره وو، پاتې شول.
㉔ اوبه یوسلو پنځوس ورځې وروسته مخ په کمېدلو شوې.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د سیلاب پای ته رسېدل

۸ ⑴ خدای پاک حضرت نوح او هغه ټول حیوانات چې په کشتۍ کې د هغه سره وو را په یاد
کړل، نو خدای پاک په ځمکه باندې باد راوالوزاوه او اوبه په کمېدو شوې. ⑵ خدای پاک د
ځمکې لاندې اوبه او د اسمان د اوبو دروازې بندې کړې او باران ودرېد. ⑶ په یوسلو پنځوسو
ورځو کې اوبه ورو، ورو د ځمکې د مخ څخه کمې شوې. ⑷ او د اوومې میاشتې په اوولسمه ورځ
کشتۍ د ارارات په غرونو باندې ودرېده. ⑸ اوبه کمې شوې او د لسمې میاشتې په اوله ورځ د
غرونو څوکې ښکاره شوې.

⑹ وروسته له څلوېښتو ورځو حضرت نوح د کشتۍ کړکۍ خلاصه کړه ⑺ او کارغه یې دباندې
ولېږه، خو کارغه به یو خوا او بل خواته الوت تر هغې پورې چې ځمکه وچه شوه. ⑻ حضرت
نوح غوښتل پوه شي چې آیا د ځمکې په مخ باندې اوبه کمې شوې دي یا نه، نو یوه کوتره یې
والوزوله. ⑼ مګر کوترې د خپل ځان دپاره د ناستې ځای پیدا نه کړ ځکه چې د ځمکې په مخ
باندې لا اوبه ولاړې وې او هغه بېرته کشتۍ ته راستنه شوه. حضرت نوح خپل لاس وراوږد کړ، هغه
یې ونیوله او کشتۍ ته یې ننه ایستله. ⑽ هغه اووه ورځې نور صبر وکړ او بیا یې کوتره ولېږله. ⑾
کوتره د ماښام په وخت کې بېرته هغه ته راستنه شوه او د زیتون تازه پاڼه یې په مښوکه کې نیولې وه،
نو حضرت نوح پوه شو چې اوبه کمې شوې دي. ⑿ هغه اووه ورځې نور انتظار وکړ او یو ځل بیا
یې کوتره ولېږله، مګر دا ځل هغه بېرته رانغله.

⒀ په هغه وخت کې حضرت نوح د شپږسوه یو کالو په عمر ؤ. د هماغه کال د اولې میاشتې په
اوله نېټه ځمکه مخ په وچېدو شوه. حضرت نوح د کشتۍ پوښ لرې کړ، شاوخوا یې وکتل او ویې
لیدل چې د ځمکې مخ وچ شوی ؤ. ⒁ د دوهمې میاشتې په اوویشتمه ورځ ځمکه بېخي وچه
شوه.

⒂ خدای پاک حضرت نوح ته وفرمایل: ⒃ <د خپلې ښځې، خپلو زامنو او د هغو د ښځو سره
د کشتۍ څخه دباندې راووزئ. ⒄ ټول مرغان او حیوانات د ځان سره دباندې راوباسه، ترڅو
دوی خپل همجنس وزېږوي او په ټوله ځمکه باندې خپاره شي.> ⒅ نو حضرت نوح د خپلې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښځې، خپلو زامنو او د هغوی د ښځو سره د کشتۍ څخه راووت. ۱۹ ټول حیوانات او مرغان د خپلو جنسونو سره ډلې ډلې د کشتۍ څخه ووتل.

## حضرت نوح قرباني وړاندې کوي

۲۰ حضرت نوح د ښتن دپاره د قربانۍ ځای جوړ کړ او هغه د هر قسمه پاکو حیواناتو او مرغانو څخه یو یو واخیست او هغه ټول یې د قربانۍ په ځای کې د سوزېدونکې نذرانې په توګه قرباني کړل.
۲۱ او د سوزېدونکې قربانۍ بوی په ښتن باندې ښه ولګېده، هغه د خپل ځان سره وویل: <زه به بیا هیڅکله ځمکه د انسان د عملونو په سبب لعنتي نه کړم. زه پوهېږم چې د انسان خیال د هغه د ځوانۍ له وخت څخه خراب دی، خو زه به هیڅکله بیا ټول ژوندي موجودات له منځه نه وړم لکه څنګه چې مې له منځه یوړل. ۲۲ ترخو پورې چې دنیا موجوده وي نو د ځمکې کرل، رېبل، یخني او ګرمي، اوړی او ژمی او شپه او ورځ به هم وي.>

## د حضرت نوح سره د خدای پاک لوظ

**۹** ۱ خدای پاک حضرت نوح او د هغه زامنو ته برکت ورکړ او ویې فرمایل: <ستاسو اولادونه دې زیات شي ترخو ټوله دنیا ستاسو په اولادې باندې ډکه شي. ۲ ټول حیوانات، مرغان، خزندې او ماهیان به له تاسو څخه وېرېږي او دا ټول به ستاسو په اختیار کې وي. ۳ هر شی چې ژوندی دی او حرکت کوي، هغه به ستاسو د خوراک دپاره وي. لکه څنګه چې ما تاسو ته شنه بوټي درکړل، اوس هرڅه تاسو ته درکوم. ۴ یو شی چې تاسو یې باید ونه خورئ هغه داسې غوښه ده چې وینه په کې وي. دا مې منع کړې دي ځکه چې په وینه کې ژوندون دی. ۵ که څوک د یو انسان څخه ژوند واخلي هغه به سزا ومومي. که چېرې کوم حیوان یو انسان ووژني زه به هغه ته د مرګ سزا ورکوم. ۶ انسان د خدای پاک په شکل جوړ شوی دی، نو چا چې هغه وواژه، هغه به هم د بل چا په وسیله وژل کیږي.

۷ تاسو باید زیات ماشومان وزېږوئ، ترخو ستاسو اولاده په ټوله دنیا کې زیاته شي.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۸) خدای پاک حضرت نوح او د هغه زامنو ته وفرمایل: (۹) <زه ستاسو او ستاسو د راتلونکي
نسل سره (۱۰) او ټولو ژوندیو مخلوقاتو سره چې ستاسو سره وو، یعني مرغانو، کورني او وحشي
حیواناتو، هغوی ټول چې ستاسو سره د کشتۍ څخه راووتل او همدارنګه د ځمکې په مخ ټولو
ژوندیو مخلوقاتو سره (۱۱) لوظ کوم چې بیا به هیڅکله ټول ژوندي مخلوقات د سیلاب په وسیله له
منځه نه ځي. هیڅکله به بیا سیلاب ځمکه نه خرابوي.> (۱۲) خدای پاک وفرمایل: <دا د هغه لوظ
نښه ده چې زما او ستاسو او د هغو ټولو ژوندیو مخلوقاتو ترمنځ به وي چې ستاسو سره دي او دا
لوظ به د ټول راتلونکي نسل دپاره وي. (۱۳) زه د وريځو په منځ کې شنه او سره ږدم او دا به زما او
د دنیا په منځ کې د لوظ نښه وي. (۱۴) کله چې زه په ځمکه باندې وريځې راخپرې کړم او په هغې
کې شنه او سره راښکاره شي، (۱۵) زه به خپل هغه لوظ چې ستاسو او ټولو ژوندیو مخلوقاتو سره
مې کړی ؤ رایادوم او نور به هیڅکله ټول ژوندي موجودات د سیلاب په وسیله له منځه نه ځي. (۱۶)
کله چې په وريځو کې شنه او سره راښکاره شي، زه به هغې ته ګورم او خپل هغه ابدي لوظ به
رایادوم چې زما او د ځمکې په مخ د ټولو ژوندیو مخلوقاتو ترمنځ شوی ؤ.> (۱۷) نو خدای پاک
حضرت نوح ته وفرمایل: <دا د هغه لوظ نښه ده چې ما د ځان او د ځمکې په مخ د ټولو ژوندیو
موجوداتو سره کړی ؤ.>

## حضرت نوح او د هغه زامن

(۱۸) د حضرت نوح زامن چې د کشتۍ څخه راووتل هغه سام، حام او یافث وو. وروسته بیا د حام
زوی پیدا شو او نوم یې کنعان ؤ. (۱۹) دا د حضرت نوح درې زامن وو چې د هغوی څخه د دنیا
ټول خلک راپیدا شول.

(۲۰) حضرت نوح دهقان ؤ او هغه اولنی سړی ؤ چې د انګورو باغ یې جوړ کړ. (۲۱) یوه ورځ هغه
شراب وڅښل او نېشه شو، خپل کالي یې وویستل او په خپله خېمه کې لوڅ پروت ؤ. (۲۲) حام
خېمې ته ننوت او ویې لیدل چې هغه لوڅ دی، نو هغه دباندې راووت او خپلو ورونو ته یې هم
وویل. (۲۳) بیا سام او یافث څپنه واخیستله او په خپلو اوږو باندې یې واچوله. هغوی په شا باندې
خېمې ته ورغلل، خپل پلار یې ورباندې پټ کړ او خپل مخونه یې بلې خواته واړول ترڅو د خپل



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پلار لوڅوالی ونه ویني. ۲۴ کله چې حضرت نوح د نېشې څخه په حال شو، په دې پوه شو چې د هغه کشر زوی د هغه سره څه کړي دي. ۲۵ هغه وفرمايل:

<لعنت دې وي په کنعان باندې

هغه به د خپلو ورونو غلام وي

۲۶ د سام څښتن خدای ته ثناه ووايئ!

کنعان به د سام غلام وي

۲۷ زه دعا کوم چې څښتن دې يافث ته

ډېره زياته ځمکه ورکړي

او پرېږده چې هغه د سام سيمه ونيسي

کنعان دې د هغه غلام وي>

۲۸ د سيلاب څخه وروسته حضرت نوح درې سوه پنځوس کاله ژوند وکړ ۲۹ او د نهه سوه پنځوس کالو په عمر وفات شو.

## د حضرت نوح د زامنو اولاده

(اول تواريخ ۱: ۵ - ۲۳)

**۱۰** ۱ دا د حضرت نوح د زامنو حام، سام او يافث اولاده ده چې د سيلاب څخه وروسته زېږېدلې ده.

۲ د يافث زامن: جومر، ماجوج، مادای، ياوان، توبال، ماشک او تيراس. ۳ د جومر زامن:



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

آشکناز، ریفات او توجرمه. ﴿۴﴾ د یاوان زامن: الیشه، ترشیش، کتیم او رودانیم. ﴿۵﴾ دا د هغو خلکو نیکونه وو چې د دریاب په غاړه او په جزیرو کې اوسېږي. دا ټوله د یافث اولاده وه چې خپلې ژبې، خپل قومونه او خپلې ځمکې یې درلودلې.

﴿۶﴾ د حام زامن: کوش، مصرایم، فوط او کنعان. ﴿۷﴾ د کوش اولاده سبا، حویله، سبته، رعمه او سبتکا وه. د رعمه اولاده شبا او ددان وه. ﴿۸﴾ د کوش یو زوی نمرود نومېده، هغه د دنیا اولنی قوي جنګیالی ؤ. ﴿۹﴾ هغه د خدای پاک په نظر کې یو ډېر قوي ښکاري ؤ، له دې کبله خلک وایي: <خدای پاک دې ستا څخه د نمرود په شان لوی ښکاري جوړ کړي.> ﴿۱۰﴾ د هغه په پادشاهۍ کې اول بابل، ارک، اکد او کلنه شامل وو چې دا درې واړه د شنعار په خاوره کې پراته دي. ﴿۱۱﴾ او د هغه ځای څخه نمرود آشور ته لاړ او د نینوا، رحوبوت عیر او کالح ښارونه ﴿۱۲﴾ او ریسن چې د نینوا او د کالح د لوی ښار ترمنځ پروت دی جوړ کړل.

﴿۱۳﴾ د مصرایم اولاده د لودیانو، عنامیانو، لهابیانو، نفتوحیانو، ﴿۱۴﴾ فتروسیانو، کسلوحیانو او کریت قومونه دي. (فلسطینیان د کریت د قوم څخه وو.)

﴿۱۵﴾ کنعان د صیدون پلار ؤ چې د هغه مشر زوی ؤ او همدارنګه هغه د حیتیانو، ﴿۱۶﴾ یبوسیانو، اموریانو، جرجاشیانو، ﴿۱۷﴾ حویانو، عرقیانو، سینیانو، ﴿۱۸﴾ اروادیانو، صماریانو او حماتیانو نیکه هم ؤ. د هغه څخه وروسته د کنعانیانو قبیلې خپرې شوې. ﴿۱۹﴾ د کنعان پولې د صیدون څخه د جرار خواته تر غزې او بیا د سدوم، عمورې، ادمه او صبوئیم څخه تر لاشع پورې ورسېدلې. ﴿۲۰﴾ دا د حام اولاده ده چې په خپلو قبیلو او سیمو کې اوسېدل او هر یو په خپلو ژبو خبرې کولې.

﴿۲۱﴾ د سام څخه چې د یافث مشر ورور ؤ هم زامن پیدا شول او سام د ټولو عبرانیانو نیکه ؤ. ﴿۲۲﴾ د سام زامن عیلام، آشور، ارفکشاد، لود او ارام وو. ﴿۲۳﴾ د ارام زامن عوص، حول، جاتر او ماشک وو. ﴿۲۴﴾ ارفکشاد د شالح پلار ؤ او شالح د عابر پلار ؤ. ﴿۲۵﴾ د عابر څخه دوه زامن پیدا شول، د یو نوم فالج ؤ ځکه چې د هغه په وخت کې د دنیا خلک ووېشل شول. د هغه د ورور نوم یقطان ؤ. ﴿۲۶﴾ د یقطان څخه الموداد، شالف، حضرموت، یارح، ﴿۲۷﴾ هدورام، اوزال، دقله، ﴿۲۸﴾ عوبال، ابیمائیل، شبا، ﴿۲۹﴾ اوفیر، حویله او یوباب پیدا شول. دا ټول د یقطان زامن وو. ﴿۳۰﴾ هغه سیمه چې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی په کې اوسېدل هغه د میشا څخه د سفارې د لمرخاته غرنی سیمې پورې غزېدلې وه. (۳۱) دا
د سام اولاده ده چې په خپلو قبیلو او سیمو کې اوسېدل او هر یو په خپلو ژبو خبرې کولې.

(۳۲) او په دې سره د حضرت نوح د اولادې لست پوره کیږي. د سیلاب څخه وروسته د هغوی د
اولادې څخه قومونه رامنځته شول او په ټوله دنیا کې خپاره شول.

## د بابل برج

۱۱ (۱) په هغه وخت کې د ټولې دنیا خلکو یوه ژبه درلودله او یو قسم خبرې به یې کولې. (۲)
خو وروسته هغوی د مشرق خواته کډه وکړه او د شنعار په ځمکه کې یې یوه میدانې پیدا کړه او هلته
اوسېدل. (۳) هغوی یو بل ته وویل: <راځئ چې خښتې جوړې کړو او هغه ښې پخې کړو.>
هغوی د تیږو په ځای خښتې او د مسالې په ځای قیر استعمال کړ. (۴) هغوی وویل: <راځئ چې
د خپل ځان دپاره یو ښار ودان کړو او په هغه کې یو لوړ برج جوړ کړو چې سر یې اسمان ته
ورسیږي، ترڅو د خپل ځان دپاره یو نوم وګټو، داسې نه شي چې په ټوله دنیا کې خپاره شو.>

(۵) مګر کله چې څښتن راښکته شو چې هغه ښار او برج چې خلکو جوړ کړی ؤ وګوري، (۶)
هغه وفرمایل: <اوس هغوی یو قوم دی او په یوه ژبه خبرې کوي. دا یوازې د کار شروع ده. هغوی
به ډېر ژر د دې توان پیدا کړي چې هرڅه وغواړي هغه به سرته ورسوي. (۷) راځئ چې کوز شو
او د هغوی ژبه سره ګډه وډه کړو ترڅو دوی یو د بل په خبرو باندې پوه نه شي.> (۸) نو څښتن
هغوی په ټوله دنیا کې خپاره کړل او هغوی مجبور شول چې د ښار د جوړولو څخه لاس واخلي.
(۹) په دې سبب هغه ځای د بابل په نوم یاد شو ځکه چې څښتن هلته د هغوی ژبه ګډه وډه کړه او
هغوی یې په ټوله دنیا کې خپاره کړل.

## د سام اولاده

(اول تواریخ ۱: ۲۴ – ۲۷)

(۱۰) دا د سام اولاده ده: د سیلاب څخه دوه کاله وروسته هغه وخت چې سام د سلو کالو په عمر ؤ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغه زوی آرفکشاد پیدا شو. ⑪ د آرفکشاد د پیدا کېدو څخه وروسته سام پنځه سوه کاله نور هم ژوند وکړ او نور اولادونه یې پیدا شول.

⑫ آرفکشاد د پنځه دېرشو کالو په عمر ؤ چې د هغه زوی شالح پیدا شو. ⑬ د شالح د پیدا کېدو څخه وروسته آرفکشاد څلورسوه درې کاله نور ژوند وکړ او نور زامن او لورګانې یې پیدا شوې.

⑭ هغه وخت چې شالح د دېرشو کالو په عمر ؤ د هغه زوی عابر پیدا شو. ⑮ پس له هغې، شالح څلورسوه درې کاله نور هم ژوند وکړ او نور زامن او لورګانې یې پیدا شوې.

⑯ عابر د څلوردېرشو کالو په عمر ؤ چې د هغه زوی فالج پیدا شو. ⑰ کله چې فالج پیدا شو، عابر څلورسوه دېرش کاله نور هم ژوند وکړ او زامن او لورګانې یې پیدا شوې.

⑱ فالج د دېرشو کالو په عمر ؤ چې د هغه زوی رعو پیدا شو. ⑲ د رعو د پیدا کېدلو څخه وروسته فالج دوه سوه نهه کاله نور هم ژوند وکړ او نور زامن او لورګانې یې پیدا شوې.

⑳ رعو د دوه دېرشو کالو په عمر ؤ چې د هغه زوی سروج پیدا شو. ㉑ د سروج د پیدا کېدلو څخه وروسته رعو دوه سوه اووه کاله ژوند وکړ او نور زامن او لورګانې یې پیدا شوې.

㉒ سروج د دېرشو کالو په عمر ؤ چې د هغه زوی ناحور پیدا شو. ㉓ د ناحور د پیدا کېدلو څخه وروسته سروج دوه سوه کاله ژوند وکړ او نور زامن او لورګانې یې پیدا شوې.

㉔ ناحور د نهه ویشتو کالو په عمر ؤ چې د هغه زوی تارح پیدا شو. ㉕ د تارح د پیدا کېدلو څخه وروسته ناحور یوسلو نولس کاله ژوند وکړ او نور زامن او لورګانې یې پیدا شوې.

㉖ وروسته له دې چې تارح د اویا کالو په عمر شو، د هغه زامن حضرت ابرام، ناحور او هاران پیدا شول.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د تارح اولاده

۲۷ دا د تارح اولاده ده چې د هغه څخه حضرت ابرام، ناحور او هاران پیدا شول. هاران د حضرت لوط پلار ؤ. ۲۸ د هاران پلار لا ژوندی ؤ چې هغه خپل د زېږېدو په ځای یعنې اور کلدانیانو کې مړ شو. ۲۹ حضرت ابرام د سارای سره واده وکړ او ناحور د ملکې سره چې د هاران لور وه واده وکړ. هاران د یسکا پلار هم ؤ. ۳۰ سارای شنډه وه او ماشومان یې نه درلودل.

۳۱ تارح خپل زوی حضرت ابرام، خپل لمسی حضرت لوط چې د هاران زوی ؤ او د هغه نږور یعنې د حضرت ابرام ښځه سارای د ځان سره واخیستل او د اور کلدانیانو څخه ووتل چې د کنعان خاورې ته لاړ شي. خو کله چې هغوی حران ته راغلل هلته پاتې شول. ۳۲ تارح د دوه سوه پنځو کالو په عمر په حران کې مړ شو.

## خدای پاک حضرت ابرام انتخابوي

**۱۲** ۱ خښتن حضرت ابرام ته وفرمایل: <خپل وطن، خپلوان او د خپل پلار کور پرېږده او هغه هېواد ته لاړ شه چې زه یې درته ښایم. ۲ زه به ستا څخه لوی قوم جوړ کړم او تاته به برکت درکړم. ستا نوم به مشهور کړم او د نورو دپاره به د برکت سبب وګرځې.

۳ څوک چې تاته برکت درکوي زه به هغوی ته برکت ورکړم

مګر څوک چې په تا باندې لعنت وایي زه به په هغوی باندې لعنت ووایم

او ستا په وسیله به د دنیا ټولو قومونو ته برکت ورکړم>

۴ لکه څنګه چې خدای پاک حضرت ابرام ته فرمایلي وو هغه لاړ او حضرت لوط هم ورسره لاړ. حضرت ابرام د پنځه اویا کالو په عمر ؤ چې د حران څخه روان شو. ۵ حضرت ابرام خپله ښځه سارای، خپل وراره حضرت لوط، خپل غلامان او هغه ټوله شتمني چې په حران کې یې پیدا



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړې وه د ځان سره واخيستل او کنعان ته روان شول.

کله چې هلته ورسېدل، ۶ حضرت ابرام په هغې خاوره کې ګرځېده ترڅو د موره مقدسې ونې ته
ورسېده چې هغه په شکيم کې يو پاک ځای ؤ. (په هغه وخت کې په هغې خاورې کې کنعانيان
اوسېدل.) ۷ څښتن حضرت ابرام ته ښکاره شو او هغه ته يې وفرمايل: <دا هغه وطن دی چې زه
غواړم هغه ستا اولادې ته ورکړم.> نو حضرت ابرام په هغه ځای کې چې څښتن ورته ورښکاره
شوی ؤ د قربانۍ ځای جوړ کړ. ۸ بيا يې هغې غرنۍ سيمې ته کډه وکړه چې د لمرپرېواته خوا
څخه بيت ئيل او د لمرخاته خوا څخه عای ته رسيږي. حضرت ابرام په هغه ځای کې خپلې خېمې
ودرولې او هلته يې د قربانۍ ځای جوړ کړ او د څښتن عبادت يې وکړ. ۹ بيا هغه د يو ځای
څخه بل ځای ته کډه کوله او د کنعان جنوب خواته لاړ.

## حضرت ابرام په مصر کې

۱۰ مګر په کنعان کې قحطي راغله او هغه دومره سخته شوه چې حضرت ابرام مصر ته لاړ چې
هلته د لږ وخت دپاره واوسيږي. ۱۱ څه وخت چې هغه د مصر سرحد ته ورنژدې شو، خپلې
ښځې سارای ته يېوويل: <ته ښايسته ښځه يې. ۱۲ کله چې مصريان تا ووينې، وبه وايې: دا د
هغه ښځه ده. نو دوی به ما ووژني او تا به ژوندۍ پرېږدي. ۱۳ هغوی ته ووايه چې ته زما خور
يې، نو ستا په خاطر به هغوی زما سره ښه رويه وکړي او ما به ژوندی پرېږدي.> ۱۴ څه وخت
چې هغه مصر ته داخل شو، مصريانو وليدل چې د هغه ښځه ډېره ښايسته وه. ۱۵ کله چې د
فرعون درباريانو هغه وليدله، هغوی د فرعون په مخکې د هغې صفت وکړ او هغه يې د فرعون ماڼۍ
ته وروستله. ۱۶ فرعون د هغې په خاطر د حضرت ابرام سره ښه رويه وکړه او هغه ته يې پسونه،
وزې، پادې، خره او خرې، اوښان، وينځې او غلامان ورکړل.

۱۷ مګر څښتن فرعون او د هغه درباريان د حضرت ابرام د ښځې سارای په سبب په خطرناکو
ناروغيو باندې اخته کړل. ۱۸ نو فرعون حضرت ابرام راوغوښت او د هغه څخه يې پوښتنه وکړه:
<زما سره دې څه وکړل؟ ولې دې ماته ونه ويل چې هغه ستا ښځه ده؟ ۱۹ ولې دې وويل چې
هغه ستا خور ده، کېدای شو چې ما د هغې سره واده کړی وای؟ ګوره دا ستا ښځه ده، هغه واخله او



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاړ شه!> (۲۰) فرعون خپلو نفرو ته حکم وکړ چې حضرت ابرام او د هغه ښځه د هر هغه څه سره چې درلودل يې ولېږي.

## حضرت لوط او حضرت ابرام سره جلا کيږي

۱۳ (۱) حضرت ابرام د خپلې ښځې او خپلو ټولو شيانو سره چې درلودل يې د مصر څخه د کنعان جنوبي خواته لاړ او حضرت لوط د هغه سره لاړ. (۲) حضرت ابرام شتمن سړی ؤ او هغه ډېر حيوانات، سره زر او سپين زر درلودل. (۳) هغه يو ځای او بل ځای ګرځېده او د بيت ئيل طرف ته لاړ. او هغه ځای ته ورسېده چې د بيت ئيل او عای ترمنځ پروت دی او حضرت ابرام پخوا هلته خپلې خېمې ودرولې وې. (۴) چېرته چې هغه د قربانی ځای جوړ کړی ؤ، هلته هغه د څښتن عبادت وکړ.

(۵) او حضرت لوط هم چې د حضرت ابرام سره ؤ د پسونو او وزو رمې او پادې او خېمې درلودلې. (۶) په دې خاطر چې هغوی دواړو ډېر زيات حيوانات درلودل او د هغوی دپاره په کافي اندازه د څړځايونه نه وو، نو دوی نه شو کولی چې دواړه يوځای سره واوسيږي. (۷) نو د حضرت ابرام او حضرت لوط د شپانو ترمنځ شخړه رامنځته شوه. په هغه وخت کې کنعانيان او فرزيان هم په دې خاوره کې اوسېدل.

(۸) نو حضرت ابرام لوط ته وفرمايل: <زما او ستا، يا زما د شپانو او ستا د شپانو ترمنځ بايد شخړه نه وي، ځکه چې مونږ يو د بل سره ورونه يو. (۹) نو ښيا راځئ چې سره جدا شو. د ځمکې هره برخه چې ته غواړې هغه انتخاب کړه. ته يو خوا لاړ شه او زه به بلې خواته لاړ شم.>

(۱۰) حضرت لوط شاوخوا ته وکتل او د اردن ټوله دره يې وليدله چې د سوغر پورې لکه د څښتن د باغ او مصر په شان شنه وه. دا هغه وخت ؤ چې څښتن لا سدوم او عموره له منځه نه وو وړي. (۱۱) نو حضرت لوط د اردن ټوله دره د خپل ځان دپاره خوښه کړه او د لمرخاته خواته يې کډه وکړه. په دې ډول هغوی يو د بل څخه بېل شول. (۱۲) حضرت ابرام د کنعان په خاوره کې پاتې شو او حضرت لوط د هغو ښارونو په منځ کې چې په دره کې پراته وو ځای په ځای شو او سدوم ته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نژدې يې خېمې ودرولې. ⑬ د سدوم خلک ډېر بدکاره وو او د څښتن په مقابل کې يې ډېر سخت
ګناهونه کول.

## حضرت ابرام حبرون ته کډه کوي

⑭ د حضرت ابرام څخه د حضرت لوط له جدا کېدلو وروسته څښتن حضرت ابرام ته وفرمايل:
<اوس دې خپلې سترګې پورته کړه او د هغه ځای څخه چې ته په کې يې، شمال، جنوب، لمرخاته
او لمرپرېواته خواته وګوره. ⑮ دا ټوله ځمکه چې ته يې وينې زه به يې تا او ستا اولادې ته درکړم
او دا به تر ابده پورې ستاسو وي. ⑯ زه به تاته دومره زياته اولاده درکړم چې د خاورو د ذرو په
شان وي چې څوک يې نه شي شمارلی. ⑰ اوس لاړ شه او ټول هېواد وګوره، ځکه چې هغه ټول
تاته درکوم.> ⑱ نو حضرت ابرام خپلې خېمې واخيستلې او د ممري لويو ونو ته نژدې چې په
حبرون کې دي ځای په ځای شو او په هغه ځای کې يې د څښتن دپاره د قربانۍ ځای جوړ کړ.

## حضرت ابرام لوط ژغوري

**١۴** ⑴ په هغه وخت کې د شنعار پادشاه امرافل، د الاسار پادشاه اريوک، د عيلام پادشاه
کدرلاعمر او د قوئيم پادشاه تدعال ⑵ لاړل چې د نورو پنځو پادشاهانو يعنې د سدوم د پادشاه
بارع، د عمورې د پادشاه برشاع، د ادمه د پادشاه شنعاب، د صبوئيم د پادشاه شمئيبر او د بالع د
پادشاه سره (بالع هماغه صوغر دی) جنګ وکړي. ⑶ دغو پنځو پادشاهانو خپل ځواکونه د سديم
په دره کې چې اوس د ارام درياب په نوم يادېږي سره يوځای کړل. ⑷ هغوی دولس کاله د
کدرلاعمر د لاس لاندې وو، خو په ديارلسم کال هغوی ياغي شول. ⑸ په څوارلسم کال
کدرلاعمر د هغو پادشاهانو سره چې د ده سره ملګري شوي وو، لاړ او رفائيانو ته يې په عشتروت
قرنين، زوزيانو ته يې په هام او ايميانو ته يې په شاوه قريتين کې ⑹ او حوريانو ته يې د ادوم په
غرنۍ سيمه کې تر ايل فاران پورې چې دښتې ته نژدې دی ماتې ورکړه. ⑺ بيا هغوی بېرته
راوګرځېدل او عين مشفاط ته چې وروسته د قادش په نوم ياد شو راغلل او د عماليقيانو ټوله خاوره
يې فتح کړه او اموريانو ته يې چې په حزون تامار کې اوسېدل ماتې ورکړه.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۸) په هغه وخت کې د سدوم، عموره، ادمه، صبوئیم او د بالع (صوغر) پادشاهان ووتل او د سدیم
په دره کې یې خپلې جنګي لیکې جوړې کړې (۹) ترڅو د عیلام د پادشاه کدرلاعمر، د قوئیم د
پادشاه تدعال، د شنعار د پادشاه امرافل او د الاسار د پادشاه اریوک په مقابل کې جنګ وکړي، یعنې
څلور پادشاهان د پنځو په مقابل کې. (۱۰) د سدیم په دره کې د قیر ډېرې کندې وې. کله چې د
سدوم او عمورې پادشاهان د جګړې څخه وتښتېدل، هغوی په دې کندو کې وغورزېدل او پاتې
پادشاهان غرونو ته وتښتېدل. (۱۱) نو څلورو پادشاهانو د سدوم او عمورې ټول شیان چې په هغو
کې د هغوی خواړه هم شامل وو واخیستل او لاړل. (۱۲) هغوی د حضرت ابرام وراره لوط هم د هغه
د ټول مال او جایداد سره د ځان سره یووړ، ځکه چې هغه په سدوم کې اوسېده.

(۱۳) یو نفر چې د هغو څخه تښتېدلی ؤ عبراني ابرام ته خبر ورکړ. په دې وخت کې حضرت ابرام
هغو لویو ونو ته نژدې چې د اموري ممري پورې یې اړه درلوده اوسېده. ممری او د هغه ورونه
اشکول او عانر ټول د حضرت ابرام سره ملګري وو. (۱۴) کله چې حضرت ابرام خبر شو چې د هغه
وراره نیول شوی دی، نو هغه خپل درې سوه اتلس جنګي نفر راوغوښتل او تر دان پورې په هغو
څلورو پادشاهانو پسې شول.

(۱۵) د شپې په وخت کې حضرت ابرام خپل نفر سره ووېشل چې په دښمن باندې حمله وکړي او
هغوی ته یې ماتې ورکړه او تر حوبې پورې چې د دمشق په شمال کې ده ورپسې شول. (۱۶)
حضرت ابرام هغه ټول سامان چې هغوی لوټ کړی ؤ او د ځان سره یې وړی ؤ بېرته راوګرځاوه.
همدارنګه هغه خپل وراره حضرت لوط د هغه د شتمنی سره او ښځې او نور بندیان د ځان سره بېرته
راوستل.

## ملکیصدق حضرت ابرام ته برکت ورکوي

(۱۷) کله چې حضرت ابرام کدرلاعمر او د هغه سره ملګرو پادشاهانو ته ماتې ورکړه او بېرته
راستون شو، د سدوم پادشاه د شاوه د درې پورې (چې د پادشاه د درې په نوم هم یادېږي) د هغه د
لیدلو دپاره راغی. (۱۸) ملکیصدق د سالیم پادشاه چې د خدای تعالیٰ کاهن ؤ د حضرت ابرام دپاره
ډوډۍ او د انګورو شربت راوړل. (۱۹) هغه حضرت ابرام ته برکت ورکړ او ویې ویل: <خدای تعالیٰ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د ځمکې او اسمانونو پیدا کوونکی دی تاته برکت درکړي. ۲۰ د خدای تعالیٰ ثناه دې وي
چې ستا دښمنان يې تاته تسلیم کړل.> نو حضرت ابرام ملکیصدق ته د هغو شیانو چې هغه بېرته
اخیستي وو، لسمه برخه ورکړه.

۲۱ د سدوم پادشاه حضرت ابرام ته وویل: <زما ټول خلک بېرته ماته راکړه او شیان دې خپل
ځان ته وساته.>

۲۲ حضرت ابرام ځواب ورکړ: <زه د څښتن یعنې خدای تعالیٰ په حضور کې چې د ځمکې او
اسمانونو پیدا کوونکی دی په کلکه قسم خورم ۲۳ چې زه به ستا د شیانو څخه هیڅ شی حتیٰ یو
تار یا د څپلی تسمه هم وانخلم. داسې نه چې بیا وواېې چې ابرام ما شتمن کړ. ۲۴ زه به د خپل
ځان دپاره هیڅ شی وانخلم. یوازینی شی چې زه به يې قبول کړم هغه څه دي چې زما خلکو
خوړلي دي او د هغه چا برخه چې زما سره تللي وو یعنې د عانر، اشکول او ممري برخه هغوی ته
ورکړه.>

## د حضرت ابرام سره د خدای پاک لوظ

**۱۵** ۱ وروسته بیا څښتن په رویا کې حضرت ابرام ته وفرمایل: <ای ابرامه مه وېرېږه، زه ستا
سپر یم او تاته به ډېر لوی اجر درکړم.>

۲ حضرت ابرام وفرمایل: <ای څښتن تعالیٰ، ماته به څه راکړې ځکه چې زه بې اولاده پاتې
شوم. زما یوازینی وارث دمشقي الیعازر دی. ۳ ماته دې اولادونه نه دي راکړي، نو زما د کورنی
نوکر به زما میراث خور شي.>

۴ څښتن په ځواب کې وفرمایل: <دا سړی به ستا میراث خور نه وي بلکه ستا خپل زوی چې
په خپله ستا څخه به پیدا شي، ستا میراث خور وي.> ۵ څښتن هغه دباندې وویست او ورته
ویې فرمایل: <اسمان ته وګوره او هڅه وکړه چې ستوري وشمارې، نو ستا اولاده به د هغو په شان
دومره زیاته وي.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ حضرت ابرام په ښتن باندې باور وکړ او په دې خاطر ښتن د هغه څخه خوشاله شو او هغه
يې قبول کړ.

۷ بيا ښتن هغه ته وفرمايل: <زه هغه ښتن يم چې ته مې د اور کلدانيانو څخه راوويستلې
چې دا ځمکه تاته درکړم او ستا ملکيت شي.>

۸ مګر حضرت ابرام وفرمايل: <ای ښتن تعالیٰ، زه به څنګه پوه شم چې هغه به زما شي؟>

۹ نو ښتن هغه ته وفرمايل: <ماته يوه درې کلنه غوا، درې کلنه وزه، درې کلن پسه، يوه کوتره
او يوه قمري راوړه.> ۱۰ حضرت ابرام دا ټول هغه ته راوړل او هر يو يې په منځ کې دوه ټوټې کړ
او هره نيمه شوې ټوټه يې بلې ټوټې ته مخامخ کېښودله، مګر مرغان يې دوه ټوټې نه کړل. ۱۱ کله
چې ټپوسان د دې مړو حيواناتو په تنو باندې راکوز شول حضرت ابرام هغه وشړل.

۱۲ کله چې لمر په پرېوتلو شو، په حضرت ابرام باندې ډېر دروند خوب راغی او سخته وېروونکې
تياره ورباندې راغله. ۱۳ ښتن هغه ته وفرمايل: <په دې پوه شه چې ستا اولاده به په پردی
خاوره کې مسافره شي او هغوی به هلته غلامان شي او په دوی باندې به څلورسوه کاله ظلم کيږي.
۱۴ مګر زه به هغه قوم ته چې دوی يې غلامي کوي جزا ورکړم او پس له هغې به دوی د ډېرې
شتمنی سره ووزي. ۱۵ ته به په پاخه عمر کې په ارامی سره مړ شې او ښخ به شې. ۱۶ ستا
اولاده به له څلورم نسل څخه وروسته بېرته دلته راشي، ځکه زه به تر هغې پورې اموريان ونه شړم
ترڅو پورې چې هغوی دومره بدکاره شي چې بايد سزا ومومي.>

۱۷ کله چې لمر پرېوت او تياره شوه، د لوګي څخه ډک يو تنور او بلېدونکی څراغ رابنکاره شول
او د دې ټوټو له منځ څخه تېر شول. ۱۸ په هماغه ورځ ښتن د حضرت ابرام سره لوظ وکړ او
ويې فرمايل: <زه ستا اولادې ته دا ټوله خاوره د مصر د سيند څخه نيولې د فرات تر لوی سيند
پورې ورکوم ۱۹ يعنې د قينيانو، قنزيانو، قدمونيانو، ۲۰ حيتيانو، فرزيانو، رفائيانو، ۲۱
اموريانو، کنعانيانو، جرجاشيانو او يبوسيانو خاوره.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٦ ١ نو د حضرت ابرام ښځه سارای شنډه وه او هیڅ اولاد یې نه درلود. مګر هغې یوه مصری وینځه درلودله چې هاجره نومېدله. ٢ نو هغې حضرت ابرام ته وویل: <خښتن زه د اولادونو د راوړلو څخه بنده کړې یم. لاړ شه او زما د وینځې سره یوځای شه، کېدای شي چې هغه زما دپاره اولاد وزېږوي.> حضرت ابرام د سارای خبره ومنله. ٣ نو د حضرت ابرام ښځې سارای خپله وینځه هاجره خپل مېړه ته ورکړه چې د هغه ښځه شي. (دا کار هغه وخت وشو چې د کنعان په خاوره کې د حضرت ابرام د اوسېدلو لس کاله شوي ؤ.) ٤ حضرت ابرام د هاجرې سره یوځای شو او هغه امیدواره شوه او کله چې هاجره پوه شوه چې امیدواره ده، نو مغروره شوه او سارای ته یې په سپک نظر کتل.

٥ نو سارای حضرت ابرام ته وویل: <دا ستا ګناه ده چې دغه وینځه ما سپکوي. ما په خپله هغه تاته درکړه او له هغه وخت څخه چې هغه پوه شوه چې امیدواره شوه، نو زه د هغې په نظر کې سپکه ښکاره شوم. خښتن دې زما او ستا ترمنځ انصاف وکړي.>

٦ حضرت ابرام ځواب ورکړ: <ډېر ښه ستا وینځه ستا په لاس کې ده، نو څه چې غواړې د هغې سره یې وکړه.> نو سارای هاجره دومره وځوروله چې د هغې څخه وتښتېدله.

٧ د خښتن فرښتې د هاجرې سره په دښته کې د اوبو چینې یعنې هغې چینې ته نژدې چې د شور په لاره کې وه ملاقات وکړ. ٨ فرښتې وفرمایل: <ای هاجرې د سارای وینځې! له کومه ځایه راغلې یې او چېرته روانه یې؟>

هغې ځواب ورکړ: <زه د خپلې باداري سارای څخه تښتېدلې یم.>

٩ د خښتن فرښتې هغې ته وفرمایل: <بېرته خپلې باداري ته ورشه او د هغې غلامي کوه.> ١٠ د خښتن فرښتې زیاته کړه: <زه به ستا اولاده دومره زیاته کړم چې هیڅوک یې ونه شمېرلی شي.>
١١ د خښتن فرښتې هغې ته وفرمایل: <ستا به زوی پیدا شي او په هغه باندې به اسماعیل نوم کېږدې، ځکه چې خښتن ستا د غم فریاد اورېدلی دی. ١٢ ستا زوی به په خپل سر وي. هغه به د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټولو خلکو په ضد وي او ټول خلک به د هغه په ضد وي او د ټولو خپلو خپلوانو څخه به جدا
اوسیږي.>

۱۳ هاجرې له خپل ځان څخه پوښتنه وکړه: <آیا په رښتیا مې خدای پاک ولیده او زه تر اوسه
پورې ژوندۍ یم؟> نو هغې د څښتن نوم چې خبرې یې ورسره کړې وې هغه خدای پاک چې ما
ویني وباله. ۱۴ په دې خاطر خلکو هغه کوهی د هغه ژوندي ذات کوهی چې ما ویني په نوم یاد
کړ او هغه تر اوسه پورې د قادش او بارد په منځ کې دی.

۱۵ د هاجرې څخه د حضرت ابرام زوی پیدا شو او حضرت ابرام په هغه باندې اسماعیل نوم
کېښود. ۱۶ حضرت ابرام د شپږ اتیاو کالو په عمر ؤ چې د هاجرې څخه هغه ته زوی پیدا شو.

## سنت ګیري یعنې د لوظ نښه

۱۷ ۱ هغه وخت چې حضرت ابرام د نهه نوي کالو په عمر ؤ، څښتن هغه ته ښکاره شو او
ویې فرمایل: <زه مطلق قادر خدای یم. زما منونکی او بې ګناه اوسه. ۲ زه به ستا سره یو لوظ
وکړم او ډېره اولاده به درکړم.> ۳ نو هغه وخت حضرت ابرام پړمخې پرېوت او خدای پاک هغه
ته وفرمایل: ۴ <ستا سره دا لوظ کوم چې ته به د ډېرو قومونو پلار شې. ۵ له دې وروسته به
ستا نوم ابرام نه بلکه ابراهیم وي، ځکه چې ته مې د ډېرو قومونو پلار کړی یې. ۶ زه به ستا نسل
زیات کړم او ستا څخه به قومونه پیدا کړم او د هغوی څخه به ځینې پادشاهان شي.

۷ زه به خپل لوظ ستا، ستا د اولادې او ستا څخه وروسته ستا د راتلونکې نسل سره ټینګ
وساتم او دا به ابدي لوظ وي. زه به ستا خدای یم او ستا څخه وروسته به ستا د اولادې خدای یم.
۸ زه به د کنعان ټوله خاوره په کومه کې چې ته اوس مسافر یې، تاته او ستا څخه وروسته ستا
اولادې ته د ابدي ملکیت په توګه درکړم او زه به د هغوی خدای یم.>

۹ خدای پاک حضرت ابراهیم ته وفرمایل: <ته او ستا څخه وروسته ستا ټوله اولاده باید زما په
لوظ باندې ټینګ ودرېږئ. ۱۰ ته او ستا اولاده باید سره موافقه وکړئ چې ستاسو هر یو نارینه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې سنت شي. ١١-١٢ له همدا اوس نه تاسو باید هر اته ورځنی هلک سنت کړئ. په دې کې هغه
غلامان چې ستاسو په کورنیو کې پیدا شوي وي او هغه غلامان چې د بېګانه خلکو څخه په بیه
اخیستل شوي وي هم شامل دي. په دې کار سره به دا معلومه شي چې زما او ستاسو ترمنځ یو لوظ
شته. ١٣ هر یو نفر باید سنت شي. دا به ستاسو په بدن باندې زما د ابدي لوظ نښه وي. ١۴ هر
یو نارینه چې سنت شوی نه وي باید زما له قوم څخه وشړل شي ځکه چې هغه زما لوظ مات کړی
دی.>

١۵ خدای پاک حضرت ابراهیم ته وفرمایل: <له دې وروسته خپلې ښځې ته سارای مه وایه، د
هغې نوم دې له همدا اوس څخه ساره شي. ١۶ زه به هغې ته برکت ورکړم او د هغې په وسیله به
تاته زوی درکړم. هغه به د قومونو مور شي او د هغې څخه به د قومونو پادشاهان راپیدا شي.>

١٧ حضرت ابراهیم پړمخې پرېوت او ویې خندل او د خپل ځان سره یې وویل: <آیا د سل کلن
سړي څخه به زوی پیدا شي؟ آیا ساره به په نوي کلنۍ کې ماشوم وزېږوي؟> ١٨ حضرت ابراهیم
خدای پاک ته وفرمایل: <اسماعیل ولې زما میراث خور نه شي؟>

١٩ مګر خدای پاک وفرمایل: <نه، خو ستا ښځه ساره به ستا دپاره زوی راوړي او ته به په هغه
باندې اسحاق نوم کېږدې. زه به ستا د زوی اسحاق سره خپل لوظ ټینګ وساتم ترڅو د هغه څخه
وروسته د هغه د نسل دپاره یو ابدي لوظ وي. ٢٠ ما د اسماعیل په هکله ستا غوښتنه واورېدله. نو
زه به هغه ته هم برکت ورکړم او هغه ته به زیات ماشومان او ډېره اولاده ورکړم. هغه به د دولسو
زامنو پلار وي چې مشران به وي او زه به د هغه د اولادې څخه یو لوی قوم جوړ کړم. ٢١ مګر
خپل لوظ به ستا د زوی اسحاق سره چې ساره به یې په راتلونکي کال کې په همدې وخت وزېږوي
ټینګ وساتم.> ٢٢ کله چې خدای پاک د حضرت ابراهیم سره خپلې خبرې خلاصې کړې نو د
هغه څخه لاړ.

٢٣ حضرت ابراهیم خپل زوی حضرت اسماعیل او نور ټول نارینه چې د هغه په کورنۍ کې وو او
هغه غلامان چې د هغه په کورنۍ کې زېږېدلي وو او هغه غلامان چې په پیسو باندې اخیستل شوي
وو لکه څنګه چې خدای پاک هغه ته فرمایلي وو په هماغه ورځ سنت کړل. ٢۴ حضرت ابراهیم د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نهه نوي کالو په عمر ؤ چې سنت کړای شو (۲۵) او د هغه زوی حضرت اسماعيل د ديارلسو کالو په
عمر ؤ. (۲۶) حضرت ابراهيم او د هغه زوی حضرت اسماعيل دواړه په يوه ورځ سنت شول. (۲۷) د
حضرت ابراهيم د کورنۍ هر نارينه او هغه غلامان چې د هغوی په کورنۍ کې زيږيدلي وو يا هغوی
چې په پيسو اخيستل شوي وو د هغه سره يوځای سنت شول.

## حضرت ابراهيم او ساره ته د زوی ورکولو وعده

۱۸ (۱) ښبتن حضرت ابراهيم ته د ممري لويو ونو ته نژدې ښکاره شو. په هغه وخت کې هغه
د ورځې په ګرمۍ کې د خېمې د دروازې په خوله کې ناست ؤ. (۲) حضرت ابراهيم پورته وکتل او
ويې ليدل چې درې نفره هلته ولاړ دي او چې څنګه يې هغوی وليدل هغه په منډه د خېمې د
دروازې څخه د هغو د ليدلو دپاره ورغی او په ځمکه باندې پړمخې پرېوت. (۳) هغه وفرمايل:
<ای بادارانو! مهرباني وکړئ ودرېږئ او زما د کور څخه مه تېرېږئ. زه حاضر يم چې ستاسو
خدمت وکړم. (۴) که اجازه وي تاسو ته به لږې اوبه راوړم چې خپلې پښې ومينځئ. تاسو کولی
شئ چې د دې ونې لاندې ارام وکړئ. (۵) زه به يو څه خواړه هم راوړم. هغه به تاسو ته قوت
درکړي چې خپل سفر ته دوام ورکړئ. تاسو زما کور ته په راتللو سره ماته عزت راکړ. نو اجازه
راکړئ چې خدمت مو وکړم.>

هغوی ځواب ورکړ: <ډېر ښه. لکه څنګه چې وايې همداسې وکړه.>

(۶) حضرت ابراهيم په ډېرې چټکۍ سره خېمې ته ننوت او ساره ته يې وويل: <ژر شه او د خپلو
ښو اوړو څخه درې پيمانې راواخله او ډوډۍ ورڅخه پخې کړه.> (۷) بيا حضرت ابراهيم په منډه د
پادې خواته ورغی او يو ښه تنکی خوسی يې ونيوه او خپل نوکر ته يې ورکړ چې هغه ډېر ژر پوخ
کړي. (۸) بيا هغه يو څه مستې، شيدې او هغه خوسی چې پوخ کړی يې ؤ راوړ او د هغوی په مخ
کې يې کېښودل. څه وخت چې هغوی ډوډۍ خوړله، حضرت ابراهيم د هغوی تر څنګه د يوې ونې
لاندې ولاړ ؤ.

(۹) نو هغوی د حضرت ابراهيم څخه پوښتنه وکړه: <ستا ښځه ساره چېرته ده؟>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ځواب ورکړ: <هغه په خيمه کې ده.>

١٠ د هغو دريو نفرو څخه يو ښښتن ؤ، هغه وفرمايل: <زه به په راتلونکي کال کې په همدې وخت بېرته تاته راشم او ستا د ښځې ساره به زوی پيدا شي.> ساره د خيمې په دروازه کې د هغه ترشا ولاړه وه او د هغوی خبرو ته يې غوږ نيولی ؤ. ١١ حضرت ابراهيم او ساره ډېر زاړه وو او ساره د اولاد د راوړلو نه وه. ١٢ نو ساره د خپل ځان سره وخندل او ويې ويل: <اوس زه زړه يم او د کاره لوېدلې يم، آيا دا کېدای شي چې په ما باندې دا خوشالي راشي؟ بله دا چې زما مېړه هم زوړ دی.>

١٣ بيا ښښتن د حضرت ابراهيم څخه پوښتنه وکړه: <ساره ولې وخندل او ويې ويل چې اوس خو زه زړه شوې يم، آيا دا کېدای شي چې زه اوس ماشوم وزېږوم؟ ١۴ آيا داسې کوم کار شته چې د ښښتن دپاره ګران وي؟ لکه څنګه چې مې وويل، زه به په راتلونکي کال کې په همدې وخت بېرته راشم او ساره به زوی ولري.>

١۵ ساره ډېره ووېرېدله، نو منکره شوه او ويې ويل: <ما نه دي خندلي.>

مګر هغه ورته وفرمايل: <هو، تا وخندل.>

## حضرت ابراهيم د سدوم دپاره شفاعت کوي

١٦ بيا هغه خلک پاڅېدل چې لاړ شي. هغوی ښکته د سدوم خواته وکتل او حضرت ابراهيم ورسره لاړ چې هغوی رخصت کړي. ١٧ بيا ښښتن د خپل ځان سره وويل: <څه چې زه غواړم ويې کړم هغه به د ابراهيم څخه پټ نه کړم. ١٨ په يقين سره به د ابراهيم څخه لوی او زورور قوم جوړ شي او د ځمکې ټول قومونه به د هغه په وسيله برکت ومومي. ١٩ ځکه چې ما هغه انتخاب کړی دی چې هغه به خپلو ماشومانو او خپلې کورنۍ ته داسې لارښودنه وکړي ترڅو د هغه څخه وروسته زما اطاعت وکړي او هغه څه وکړي چې صحيح او عادلانه وي، ترڅو هغه وعده چې ما د ابراهيم سره کړې ده سرته ورسوم.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۲۰) بیا ښښتن حضرت ابراهیم ته وفرمایل: <د سدوم او عموري په ضد زیات تورونه موجود دي او د هغوی ګناهونه ډېر زیات شوي دي. (۲۱) اوس به زه ښکته راکوز شم چې دا معلومه کړم چې آیا د هغو تورونو په باره کې چې ما څه اورېدلي دي هغه رښتیا دي یا نه.>

(۲۲) هغه دوه نفره روان شول او د سدوم طرف ته لاړل، مګر ښښتن د حضرت ابراهیم سره پاتې شو. (۲۳) حضرت ابراهیم ښښتن ته ورنژدې شو او ويې فرمایل: <آیا نېک خلک به د بدکارانو سره یوځای له منځه وړې؟ (۲۴) که چېرې په دې ښار کې پنځوس تنه نېک خلک وي آیا هغه ښار به په رښتیا له منځه یوسې او هغه ځای به د هغو پنځوسو نېکو خلکو په خاطر پرېنږدې؟ (۲۵) زه یقین لرم چې ته به نېک خلک د بدکارانو سره یوځای نه وژنې. دا نه شي کېدای! ته داسې نه شي کولی، که تا داسې وکړل نو نېکو خلکو ته به د بدکارانو سره یوځای سزا ورکړای شي. دا نه شي کېدای. د ټولې دنیا قاضي به خامخا انصاف کوي.>

(۲۶) ښښتن ځواب ورکړ: <که چېرې زه په سدوم کې پنځوس تنه نېک خلک پیدا کړم، نو زه به د هغوی په خاطر ټول ښار معاف کړم.>

(۲۷) حضرت ابراهیم یو ځل بیا وفرمایل: <ښښتنه، ما وبخښه چې ستا سره په جرأت سره خبرې کوم. زه فقط یو عادي انسان یم او حق نه لرم چې څه ووایم. (۲۸) خو که چېرې هلته د پنځوسو تنو په ځای یوازې پنځه څلوېښت تنه نېک خلک وي، آیا ټول ښار به د هغو پنځو تنو په خاطر چې کم دي له منځه یوسې؟>

ښښتن ځواب ورکړ: <که چېرې هلته پنځه څلوېښت تنه نېک خلک پیدا کړم، نو زه به ښار له منځه نه وړم.>

(۲۹) حضرت ابراهیم بیا خبرې وکړې: <کېدای شي چې هلته یوازې څلوېښت تنه وي.>

هغه ځواب ورکړ: <زه به د هغو څلوېښتو تنو په خاطر هغه ښار وران نه کړم.>

(۳۰) حضرت ابراهیم وفرمایل: <ښښتنه، په ما باندې په قهر نه شې، اجازه راکړه چې خبرې وکړم.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

که چېرې هلته یوازې دېرش تنه وي؟>

هغه وفرمایل: <که چېرې هلته دېرش تنه پیدا کړم، زه به هغه ځای له منځه نه وړم.>

(٣١) حضرت ابراهیم وفرمایل: <ښبنتنه، ما وبخښه چې په جرأت سره ستا سره خبرې کوم. که یوازې شل تنه هلته پیدا شي؟>

هغه وفرمایل: <که چېرې شل تنه پیدا کړم، زه به ښار وران نه کړم.>

(٣٢) حضرت ابراهیم وفرمایل: <ښبنتنه، په ما باندې په قهر نه شې، زه به یوازې یو وار بیا خبرې وکړم. کېدای شي چې لس تنه هلته پیدا شي؟>

هغه وفرمایل: <که لس تنه هلته پیدا شي، نو زه به ښار وران نه کړم.> (٣٣) پس له هغې چې ښبنتن د حضرت ابراهیم سره خبرې خلاصې کړې، هغه لاړ او حضرت ابراهیم خپل کور ته ستون شو.

## د سدوم د خلکو ګناهونه

١٩ (١) کله چې هغه دوه فرښتې د ماښام په وخت کې سدوم ته ورسېدلې، حضرت لوط د ښار په دروازه کې ناست ؤ. څنګه چې حضرت لوط هغوی ولیدلې راپاڅېده او د هغوی د هرکلي دپاره ورغی او په ځمکه باندې پرمخې پرېوت، (٢) ویې فرمایل: <ای زما بادارانو، د خپل خدمتګار کور ته راشئ. تاسو کولی شئ خپلې پښې ومینځئ او دلته شپه تېره کړئ. سهار وختي پاڅېږئ او په خپله لاره روان شئ.>

مګر هغوی ورته په ځواب کې وفرمایل: <نه، مونږ به د ښار په چوک کې شپه تېره کړو.>

(٣) مګر حضرت لوط په هغوی باندې ډېر سخت ټینګار وکړ ترڅو هغوی ورسره لاړلې او د هغه کور ته ننوتلې. هغه د هغوی دپاره خوراک تیار کړ او فطیره ډوډۍ یې ورته پخه کړه او هغوی



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وخوړله.

۴ هغوی لا ویده شوي نه وو چې د سدوم د ښار خلک له هرې خوا د ځوان څخه نیولې تر زاړه پورې ټول د کور څخه راچاپېر شول. ۵ هغوی حضرت لوط ته غږ وکړ: <هغه دوه نفره چې نن شپه ستا سره راغلي وو چېرته دي؟ هغوی مونږ له راوباسه چې بد کار ورسره وکړو.>

۶ حضرت لوط دباندې ووت او دروازه یې د ځان پسې بنده کړه ۷ او هغوی ته یې وفرمایل: <ای ورونو! زه تاسو ته زاري کوم چې داسې بد کار مه کوئ. ۸ ګورئ، زه دوه لورګانې لرم چې تر اوسه پورې لا پېغلې دي. هغوی به تاسو ته راوباسم، هرڅه چې غواړئ د هغوی سره یې وکړئ، خو د دې خلکو سره هیڅ مه کوئ ځکه چې هغوی ماته پناه راوړې ده.>

۹ هغوی ځواب ورکړ: <زمونږ د لارې څخه لېرې شه> او ویې ویل: <ای پردی سړیه! زمونږ له مخې څخه لېرې شه، ته څوک یې چې مونږ ته وایې چې څه باید وکړو؟ زمونږ د مخې څخه لېرې شه. که نه، نو ستا سره به د هغوی څخه بدتر عمل وکړو.> هغوی حضرت لوط بېرته ټېل واهه او نژدې شول چې دروازه ماته کړي. ۱۰ خو هغو دوو نفرو خپل لاسونه دباندې راوویستل او حضرت لوط یې د ځان سره کور ته دننه کړ او دروازه یې بنده کړه. ۱۱ نو بیا هغوی هغه ټول خلک چې دباندې ولاړ وو ړانده کړل، ترڅو هغوی ونه شي کولی چې دروازه پیدا کړي.

## حضرت لوط د سدوم څخه ځي

۱۲ هغو دوه نفرو حضرت لوط ته وفرمایل: <که دلته ستا نور څوک یعنې زامن، لورګانې، زومان او نور خپلوان په دې ښار کې اوسیږي، نو د دې ښار څخه یې وباسه. ۱۳ ځکه چې مونږ غواړو دغه ځای وران کړو. د دې خلکو په ضد خښتن ډېر بد تورونه اورېدلي دي او مونږ یې رالېږلي یو چې سدوم له منځه یوسو.>

۱۴ نو حضرت لوط دباندې ووت، د خپلو زومانو سره یې چې د هغه د لورګانو سره یې کوژدنې شوې وې خبرې وکړې او ویې فرمایل: <ژر پاڅئ او د دې ځای څخه وزئ. خښتن غواړي چې دا



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځای له منځه یوسي.> خو د هغه زومانو فکر کاوه چې هغه ټوکې کوي.

۱۵ سهار وختي فرښتو حضرت لوط تشويق کړ او ورته ويې فرمايل: <پاځه! خپله ښځه او دواړه
لورګانې دې واخله او ووزه، ترڅو د دې ښار په ورانېدلو سره تاسو خپل ژوند له لاسه ورنه کړئ.>
۱۶ هغه وخت حضرت لوط زړه نازړه کېده، خو بياهم څښتن په هغه باندې مهربانه شو او هغو نفرو
د ده او د ده د ښځې او لورګانو لاسونه ونيول او هغوی يې په امن سره د ښار څخه دباندې وويستل.
۱۷ بيا يوې فرښتې ورته وفرمايل: <د دې دپاره چې ژوندي پاتې شئ وتښتئ! شاته مه ګورئ او
په ټوله دره کې ونه دربېږئ. غرونو ته وتښتئ چې ونه وژل شئ.>

۱۸ مګر حضرت لوط هغوی ته وفرمايل: <نه، ای زما بادارانو په مونږ باندې داسې مه کوئ. ۱۹
تاسو زما سره ډېر لوی احسان کړی دی او زما ژوند مو ژغورلی دی، خو زه د دې وس نه لرم چې
غرونو ته وتښتم. نو مخکې له دې چې هغه ځای ته ورسېږم دا بدبختي به په ما باندې راشي او زه به
مړ شم. ۲۰ آيا تاسو هغه وړوکی ښار وينئ؟ هغه ډېر نژدې دی، اجازه راکړئ چې هلته لاړ شم.
تاسو ګورئ چې هغه يو وړوکی ځای دی. زه به هلته په امن کې يم.>

۲۱ هغه ځواب ورکړ: <ډېر ښه، زه به ستا دغه غوښتنه هم پوره کړم. زه به دغه ښار وران نه کړم.
۲۲ ژر شه، هلته وتښته. ځکه ترڅو ته هلته رسېدلی نه يې، زه هيڅ کار نه شم کولی.> (په دې
خاطر هغه ښار د صوغر په نوم ياد شو.)

### د سدوم او عموري ورانېدل

۲۳ څه وخت چې حضرت لوط صوغر ته ورسېد لمر راوخوت. ۲۴ په هغه وخت کې څښتن له
اسمان څخه په سدوم او عموره باندې سوزوونکي ګوګرد واورول. ۲۵ هغه ښارونه، ټوله دره او د
ښارونو ټول اوسېدونکي او د ځمکې نباتات يې په بل مخ واړول. ۲۶ مګر د حضرت لوط ښځې
شاته وکتل او د هغې څخه د مالګې ستنه جوړه شوه.

۲۷ بله ورځ سهار وختي حضرت ابراهيم پاڅېده او بېرته هغه ځای ته چې د څښتن په مخکې
ودرېدلی ؤ او خبرې يې ورسره کړې وې، لاړ. ۲۸ هغه د سدوم، عموري او د ټولې درې طرف ته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکتل او ويې ليدل چې د ځمکې څخه د يو دېر لوی تنور د لوګي په شان لوګی پورته کيږي. (۲۹) نو کله چې خدای پاک د دريې ښارونه چې حضرت لوط په کې اوسېده وران کړل، نو هغه حضرت ابراهيم رایاد کړ او حضرت لوط يې د هغه آفت څخه خلاص کړ.

## د موآبيانو او عمونيانو اصليت

(۳۰) حضرت لوط وېرېده چې په صوغر کې پاتې شي. هغه د خپلو دواړو لورګانو سره غرونو ته لاړ او په يوې سمڅې کې اوسېدل. (۳۱) مشرې لور يې خپلې کشرې خور ته وويل: <زمونږ پلار زوړ شوی دی، دلته په دې شاوخوا کې داسې سړی نه پيدا کيږي چې زمونږ سره واده وکړي لکه څنګه چې په ټوله دنيا کې رواج دی. (۳۲) راځئ چې خپل پلار نېشه کړو او د هغه سره څملو، ترڅو د هغه نه اولادونه ولرو او د خپل پلار نسل ژوندی وساتو.> (۳۳) نو په هماغه شپه يې په خپل پلار شراب وڅښل او مشره لور يې د خپل پلار سره څملاستله او دی د هغې په څملاستو او پاڅېدلو باندې پوه نه شو.

(۳۴) په بله ورځ مشرې لور کشرې ته وويل: <تېره شپه زه د خپل پلار سره څملاستم، راځئ چې نن شپه هم په هغه باندې شراب وڅښو او ته ورسره څمله. نو مونږ هر يو به د خپل پلار نه اولاد ولرو.> (۳۵) نو هغه شپه يې هم په خپل پلار باندې شراب وڅښل او کشره لور يې لاړه او د خپل پلار سره څملاسته. هغه بياهم د هغې په څملاستو او پاڅېدلو باندې پوه نه شو. (۳۶) په دې ډول د حضرت لوط دواړه لورګانې د خپل پلار په وسيله اميدوارې شوې. (۳۷) د مشرې لور زوی پيدا شو او په هغه باندې يې موآب نوم کېښود او هغه د اوسنيو موآبيانو پلار دی. (۳۸) کشرې لور يې هم زوی راوړ او په هغه باندې يې بن عمي نوم کېښود او هغه د اوسنيو عمونيانو پلار دی.

## حضرت ابراهيم او ابي ملک

**۲۰** (۱) حضرت ابراهيم له ممرې څخه د کنعان جنوب خواته کډه وکړه او د قادش او شور په منځ کې يې سکونت اختيار کړ او د يو څه وخت دپاره په جرار کې پاتې شو. (۲) هلته حضرت



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ابراهيم د خپلې ښځې ساره په هکله وفرمايل: <هغه زما خور ده.> د جرار پادشاه ابي ملک په ساره
پسې نفر ولېږل او هغه يې راوستله. ۳ يوه شپه خداى پاک په خوب کې ابي ملک ته ښکاره شو
او ورته يې فرمايل: <ته به مړ شې ځکه هغه ښځه چې تا خپل ځان ته راوستې ده، هغه واده شوې ښځه
ده.>

۴ مګر ابي ملک هغې ته ورنږدې شوى نه ؤ هغه وويل: <اى څښتنه، آيا ته به بې ګناه خلک
ووژنې؟ ۵ حضرت ابراهيم په خپله وفرمايل چې هغه زما خور ده او هغې هم دا خبره وکړه چې
دى زما ورور دى او دا کار ما د پاک وجدان له مخې کړى دى او هيڅ غلطي مې نه ده کړې.>

۶ خداى پاک په خوب کې هغه ته وفرمايل: <هو، زه پوهېږم چې تا دا کار د پاک وجدان له
مخې کړى دى او ته مې د دې څخه وساتلې چې زما په مقابل کې کومه ګناه وکړې او دې ته مې
پرېنښودلې چې هغې ته لاس وروړې. ۷ اوس هغه ښځه بېرته خپل مېړه ته ورکړه. هغه نبي دى
او هغه به ستا دپاره دعا وکړي ترڅو ژوندى پاتې شې. خو که چېرې هغه بېرته ورنه کړې، په دې پوه
شه چې ته او ستا ټول خلک به مړه شئ.>

۸ سبا سهار وختي ابي ملک خپل ټول درباريان راوغوښتل او څه چې پېښ شوي وو هغوى ته
يې بيان کړل او هغوى ډېر ووېرېدل. ۹ بيا ابي ملک حضرت ابراهيم راوغوښت او پوښتنه يې
ورڅخه وکړه: <زمونږ سره دې څه وکړل؟ ما ستا سره څه بد کړي وو چې داسې لوى مصيبت دې
په ما او زما په پادشاهۍ باندې راوست؟ تا زما سره داسې کار وکړ چې د کولو نه ؤ.> ۱۰ بيا
ابي ملک د حضرت ابراهيم څخه پوښتنه وکړه: <داسې کار دې ولې وکړ؟>

۱۱ حضرت ابراهيم ځواب ورکړ: <ما فکر وکړ چې د دې ځاى خلک د خداى پاک څخه نه
وېرېږي او ما به د خپلې ښځې په خاطر ووژني. ۱۲ هغه په رښتيا سره زما خور ده، هغه زما
ناسکه خور ده. هغه زما د پلار لور ده، مګر زما د مور لور نه ده او ما د هغې سره واده کړى دى.
۱۳ کله چې خداى پاک زه د خپل پلار د کور څخه پردي هېواد ته ولېږلم، ما هغې ته وويل: دا به
زما سره ستا وفاداري وي چې مونږ هرځاى ته لاړ شو، زما په هکله به وايې چې هغه زما ورور
دى.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٤ نو ابي ملک پسونه او غوایان، غلامان او وینځې حضرت ابراهیم ته ورکړل او د هغه ښځه ساره یې بېرته هغه ته ورکړه. ١٥ ابي ملک وویل: <زما ټوله ځمکه ستا په مخکې ده، هرځای چې ستا خوښ وي هلته واوسېږه.> ١٦ هغه ساره ته وویل: <زه ستا ورور ته زر مثقاله سپین زر ورکوم ترڅو هغو ټولو خلکو ته چې ستا سره دي دا ثابته شي چې ته بې ګناه یې او هر یو په دې باندې پوه شي چې تا کومه غلطي نه ده کړې.>

١٧-١٨ د هغه څه په خاطر چې د حضرت ابراهیم په ښځې ساره باندې شوي وو، څښتن د ابي ملک د کورنۍ ټولې ښځې شنډې کړې وې. نو حضرت ابراهیم د ابي ملک دپاره دعا وکړه او خدای پاک هغه ته شفا ورکړه. هغه همدارنګه د هغه ښځې او د هغه وینځو ته هم شفا ورکړه چې ماشومان وزېږوي.

## د حضرت اسحاق زېږېدنه

**٢١** ١ لکه څنګه چې څښتن فرمایلي وو، هغه په ساره باندې مهربانه شو. څښتن هغه وعده سرته ورسوله چې د ساره سره یې کړې وه. ٢ ساره امیدواره شوه او زوی یې پیدا شو. په هغه وخت کې حضرت ابراهیم زوړ ؤ. دا هلک په هماغه وخت کې پیدا شو چې خدای پاک یې وعده کړې وه. ٣ حضرت ابراهیم د خپل زوی نوم اسحاق کېښود ٤ او لکه څنګه چې خدای پاک هغه ته حکم کړی ؤ، حضرت اسحاق د اتو ورځو ؤ چې حضرت ابراهیم هغه سنت کړ. ٥ حضرت ابراهیم د سلو کالو ؤ چې د هغه زوی حضرت اسحاق پیدا شو. ٦ ساره وویل: <خدای پاک ماته خوشالي او خندا راکړې ده او هرڅوک چې دا خبره واوري نو زما سره به وخاندي.> ٧ هغې وویل: <هیچا فکر نه کاوه چې زه به د دې لایق شم چې حضرت ابراهیم ته اولاد وزېږوم. خو سره له دې چې حضرت ابراهیم زوړ دی ما هغه ته زوی وزېږاوه.>

## هاجره او حضرت اسماعیل د کور څخه شړل کیږي

٨ هلک لوی شو او هغه یې د تې څخه بېل کړ. په هماغه ورځ چې حضرت اسحاق یې د تې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښخه بېل کړ، حضرت ابراهیم ډېره لویه مېلمستیا جوړه کړه. ۹ مګر ساره ولیدل چې د مصری هاجرې زوی په حضرت اسحاق باندې ملنډې وهي ۱۰ نو هغې حضرت ابراهیم ته وویل: <دغه وینځه او د هغې زوی وشړه، دا ځکه چې د دې وینځې زوی دې زما د زوی اسحاق سره هیڅکله په میراث کې شریک نه شي.> ۱۱ حضرت ابراهیم په دې خبرې باندې ډېر خفه شو ځکه چې حضرت اسماعیل هم د هغه زوی ؤ. ۱۲ مګر خدای پاک حضرت ابراهیم ته وفرمایل: <د دې هلک او د خپلې وینځې په باره کې مه خفه کېږه، هرڅه چې ساره درته وایي هغه واوره ځکه چې ستا نسل به د اسحاق ښخه حساب شي. ۱۳ زه به د وینځې د زوی ښخه هم یو قوم جوړ کړم، ځکه چې هغه هم ستا اولاد دی.>

۱۴ حضرت ابراهیم سهار وختي یو څه ډوډۍ او د اوبو ژۍ واخیستل او هاجرې ته یې ورکړل او د هغې په اوږو یې کېښودل او هغه یې د خپل زوی سره رخصت کړه. هغه لاړله او د بئرشبع په دښته کې سرګردانه ګرځېدله. ۱۵ کله چې د ژۍ اوبه خلاصې شوې، هغې خپل زوی د یو بوټي لاندې پرېښود ۱۶ او تقریباً د سلو مترو په فاصله د هغه ښخه لیرې کښېناستله او د ځان سره یې وویل: <زه دا نه شم زغملی چې د خپل زوی مرګ ووینم.> هغه هلته ناسته وه او سلګۍ یې وهلې.

۱۷ خدای پاک د هلک ژړا واورېده او د خدای پاک فرښتې د اسمان ښخه په هاجرې باندې غږ وکړ: <ای هاجرې، ولې خفه یې؟ مه وېرېږه، خدای پاک د هلک ژړا اورېدلې ده. ۱۸ پاڅه او هلک پورته کړه او هغه ته تسلي ورکړه. زه به د هغه د نسل ښخه ډېر لوی قوم جوړ کړم.> ۱۹ بیا خدای پاک د هغې سترګې پرانیستلې او هغې کوهی ولید. هغه لاړله او د اوبو ژۍ یې ډک کړ او په خپل زوی یې وڅښلې. ۲۰ خدای پاک د هلک سره مل ؤ او هغه غټېده. هغه د فاران په دښته کې اوسېده او یو غښي ویشتونکی شو. ۲۱ څه وخت چې هغه هلته اوسېده، مور یې ورته یوه مصری ښځه وکړه.

## د حضرت ابراهیم او ابي ملک ترمنځ تړون

۲۲ په هغه وخت کې ابي ملک او د هغه د لښکر مشر فیکول حضرت ابراهیم ته وویل: <په هر کار کې چې ته یې کوې خدای پاک درسره مل دی! ۲۳ اوس د خدای پاک په حضور کې زما سره



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قسم وخوره چې زما سره، زما د اولادونو او زما د نسل سره به ټګي نه کوې. لکه څنګه چې زه تاته وفادار وم نو وعده وکړه چې ته به هم زما سره او د دې هېواد سره چې په کې اوسېږې وفادار اوسې.>

۲۴ حضرت ابراهيم وفرمايل: <زه وعده کوم.>

۲۵ حضرت ابراهيم ابي ملک ته د هغه کوهي په باره کې چې د هغه نوکرانو د ده څخه په زور اخيستی ؤ ګيله وکړه. ۲۶ ابي ملک وويل: <زه نه پوهېږم چې دا کار چا کړی دی. تا ماته په دې هکله څه نه دي ويلي او دا اول ځل دی چې زه دا خبره اورم.> ۲۷ نو حضرت ابراهيم څو پسونه او غوايان ابي ملک ته ورکړل او دواړو يو د بله سره يو تړون وکړ. ۲۸ حضرت ابراهيم د خپلې رمې څخه اووه مېږې بېلې کړې. ۲۹ ابي ملک د حضرت ابراهيم څخه پوښتنه وکړه: <د څه دپاره دې دا اووه مېږې بېلې کړې؟>

۳۰ حضرت ابراهيم ځواب ورکړ: <دا اووه مېږې قبولې کړه. په دې کار سره به ته شاهد يې چې دا کوهی ما کيندلی دی.> ۳۱ په دې سبب هغه ځای د بئرشبع په نوم ياد شو، چې هغو دواړو هلته يو د بل سره يو تړون کړی ؤ.

۳۲ په بئرشبع کې د تړون جوړولو څخه وروسته ابي ملک او د هغه د لښکر مشر فيکول بېرته د فلسطينيانو هېواد ته راستانه شول. ۳۳ حضرت ابراهيم په بئرشبع کې د غز ونه وکرله او هلته يې ښتن يعنې ابدي خدای ته عبادت وکړ. ۳۴ حضرت ابراهيم د فلسطينيانو په هېواد کې د اوږدې مودې دپاره پاتې شو.

## خدای پاک حضرت ابراهيم ته امر کوي چې حضرت اسحاق قرباني کړي

**۲۲** ۱ څه موده وروسته خدای پاک په حضرت ابراهيم باندې ازماينښت وکړ او هغه ته يې وفرمايل: <ای ابراهيمه!> او حضرت ابراهيم ځواب ورکړ: <هو، زه حاضر يم!>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(٢) خدای پاک وفرمایل: <خپل زوی اسحاق چې ستا یوازینی زوی دی او په تا باندې ډېر ګران دی واخله او د موریا سیمې ته لاړ شه او هغه په هغه غره باندې چې زه یې درته ښایم زما دپاره د سوزېدونکې نذرانې په توګه قرباني کړه.>

(٣) حضرت ابراهیم سهار وختې پاڅېد، د سوزېدونکې نذرانې دپاره یې لرګي مات کړل او هغه یې په خره باندې بار کړل. خپل دوه نوکران او خپل زوی حضرت اسحاق یې د ځان سره واخیستل او هغه ځای ته روان شول چې خدای پاک ورته فرمایلي وو. (٤) په دریمه ورځ حضرت ابراهیم هغه ځای د لېرې څخه ولید. (٥) بیا هغه خپلو نوکرانو ته وفرمایل: <تاسو دلته د خره سره پاتې شئ، زه او هلک به هلته سره لاړ شو. مونږ به هلته عبادت وکړو او بېرته به بیا تاسو ته راشو.>

(٦) حضرت ابراهیم د قربانۍ لرګي خپل زوی ته په اوږو باندې کېښودل او خپله یې چاقو او اور واخیستل او دواړه یوځای سره روان شول. (٧) حضرت اسحاق خپل پلار ته وویل: <ای پلاره!>

هغه ځواب ورکړ: <وایه زما زویه!>

هغه وویل: <زه پوهېږم چې ستا سره اور او لرګي شته، مګر د سوزېدونکې نذرانې دپاره وری چېرته دی؟>

(٨) حضرت ابراهیم ځواب ورکړ: <ای زما زویه، خدای پاک به په خپله د سوزېدونکې نذرانې دپاره وری پیدا کړي.> او دواړه یوځای سره روان شول.

(٩) کله چې هغه ځای ته چې خدای پاک ورته فرمایلي وو ورسېدل، حضرت ابراهیم هلته د قربانۍ ځای جوړ کړ او په هغه باندې یې لرګي په ترتیب سره کېښودل. هغه خپل زوی حضرت اسحاق وتاړه او د لرګیو د پاسه یې کېښود. (١٠) بیا هغه چاقو راواخیست چې خپل زوی حلال کړي. (١١) مګر د څښتن فرښتې د اسمان څخه هغه ته غږ وکړ: <ای ابراهیمه، ای ابراهیمه!>

هغه ځواب ورکړ: <زه حاضر یم.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ هغه وفرمایل: <هلک ژوبل نه کړې او په هغه باندې هیڅ ونه کړې! زه اوس پوه شوم چې ته د خدای پاک څخه وېرېږې، ځکه چې خپل یوازینی زوی دې زما څخه دریغ نه کړ.>

۱۳ حضرت ابراهیم سترګې پورته کړې او ویې لیدل چې شاته یې یو ګډ دی چې ښکرونه یې په بوټي کې نښتي وو. حضرت ابراهیم ورغی، هغه یې راونیوه او د خپل زوی په ځای یې د سوزېدونکې نذرانې په توګه قرباني کړ. ۱۴ او حضرت ابراهیم دغه ځای د ښتښتن به یې برابروي په نوم یاد کړ او حتیٰ تر نن ورځې پورې داسې ویل کیږي: <هغه به د ښتښتن په غره کې تیار شي.>

۱۵ د ښتښتن فرښتې د دوهم ځل دپاره د اسمان څخه په حضرت ابراهیم باندې غږ وکړ ۱۶ او ویې فرمایل: <ښتښتن داسې وایي: په دې خاطر چې تا دا کار وکړ او خپل یوازینی زوی دې زما څخه دریغ نه کړ، زه په خپل ذات باندې قسم خورم، ۱۷ زه به تاته برکت درکړم او ستا نسل به لکه د اسمان د ستورو او هغو شګو په شان چې د دریاب په غاړه پرتې وي زیات کړم. هغوی به خپلو دښمنانو ته ماتې ورکړي او د هغوی ښارونه به ونیسي. ۱۸ د ځمکې ټول قومونه به ستا د اولادې په وسیله برکت ومومي، ځکه چې تا زما حکم منلی دی.> ۱۹ نو حضرت ابراهیم بېرته خپلو نوکرانو ته راستون شو او هغوی ټول یوځای بئرشبع ته لاړل او حضرت ابراهیم په بئرشبع کې پاتې شو.

## د ناحور اولاده

۲۰ څه موده وروسته حضرت ابراهیم خبر شو چې د ده د ورور ناحور ښځه ملکه هم مور شوه او زامن یې زېږولي دي: ۲۱ د هغه اولنی اولاد عوص، د هغه ورور بوز، قموئیل د ارام پلار، ۲۲ کاسد، حزو، فلداش، یدلاف او بتوئیل. ۲۳ د بتوئیل څخه ربکا پیدا شوه. ملکې د حضرت ابراهیم ورور ناحور ته دا اته زامن وزېږول. ۲۴ رئومه د ناحور وینځې هم طابح، جاحم، تاحش او معکه وزېږول.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ساره مړینه

**۲۳** ۱ ساره یوسلو اووه ویشت کاله ژوندۍ وه. ۲ هغه په قریه اربع (حبرون) کې چې د
کنعان په هېواد کې دی مړه شوه او حضرت ابراهیم د ساره دپاره غمجن شو او په هغې پسې يې
وژړل.

۳ بیا حضرت ابراهیم د خپلې ښځې د مړي له څنګه پاڅېده او حیتیانو ته ورغی او ويې فرمایل:
۴ <زه دلته ستاسو په منځ کې پردی او مسافر یم. یو څه ځمکه په ما باندې خرڅه کړئ ترڅو
خپله ښځه په کې ښخه کړم.>

۵ هغوی ځواب ورکړ: ۶ <باداره، زمونږ خبره واوره. مونږ تاته د یو قوي مشر په سترګه
ګورو. زمونږ په ډېرو ښو قبرونو کې خپل مړی ښخ کړه. مونږ هر یو به خوشاله شو چې تاته د قبر
دپاره ځای درکړو ترڅو خپله ښځه په کې ښخه کړې.>

۷ نو حضرت ابراهیم پاڅېد او د احترام په خاطر يې هغوی ته خپل سر ټیټ کړ ۸ او ورته
ويې فرمایل: <که ستاسو خوښه وي پرېږدئ چې خپل مړی ښخ کړم. تاسو زما په خاطر د صوحار
د زوی عفرون څخه وغواړئ ۹ چې د مکفیلې سمڅه چې د هغه جایداد دی او د هغه د پټي
سرته پرته ده، په پوره بیه په ما باندې خرڅه کړي. دا به ستاسو په منځ کې زمونږ هدیره وي.>

۱۰ عفرون په خپله د نورو حیتیانو سره د ښار په دروازه کې د غونډې په ځای کې ناست ؤ. هغه
حضرت ابراهیم ته د ټولو حیتیانو په مخکې چې هلته حاضر وو ځواب ورکړ، ۱۱ هغه وویل: <نه،
زما باداره! زما خبره واوره. زه دا پټی او هغه سمڅه چې په هغه کې ده د خپل قوم په مخکې تاته
درکوم، خپل مړی دې په کې ښخ کړه.>

۱۲ حضرت ابراهیم یو ځل بیا د حیتیانو په وړاندې د احترام سر ټیټ کړ. ۱۳ هغه د ټولو په
مخکې عفرون ته وفرمایل: <زما خبره واوره. که چېرې ستا رضا وي زه به د پټي بیه تاته درکړم. دا
زما له خوا قبوله کړه ترڅو خپل مړی هلته ښخ کړم.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ عفرون ځواب ورکړ: ۱۵ <ای زما باداره، زما خبره واوره. د دې ځمکې بيه څلورسوه مثقاله
سپين زر دي، خو دا زما او ستا ترمنځ هيڅ شی نه دی. خپل مړی دې په کې ښخ کړه.> ۱۶ نو
حضرت ابراهيم د عفرون خبره قبوله کړه او هغه بيه چې عفرون د حيتيانو په مخکې ټاکلې وه، يعنې
څلورسوه مثقاله سپين زر عفرون ته وتلل. دا د هغه وزن سره سم وو چې په هغه وخت کې يې د
سوداګرانو په منځ کې رواج درلود.

۱۷ په دې ډول د عفرون جايداد چې په مکفيله کې د ممري په لمرخاته کې ؤ هغه د حضرت
ابراهيم شو. په هغه کې پټی او هغه سمڅه چې په هغه پټي کې وه او د هغې ځمکې شاوخوا ټولې ونې
شاملې وې. ۱۸ دا ځمکه د ټولو حيتيانو په مخکې چې په هغې غونډې کې حاضر وو د حضرت
ابراهيم د جايداد په توګه وپېژندل شوه.

۱۹ نو حضرت ابراهيم خپله ښځه ساره ممري ته نژدې چې په حبرون کې ده د مکفيله په سمڅه
کې د کنعان په خاوره کې ښخه کړه. ۲۰ نو هغه پټی او سمڅه چې په هغې کې وه د حيتيانو له خوا
په حضرت ابراهيم باندې د هديرې لپاره په قباله ورکړای شول.

## د حضرت اسحاق دپاره ښځه

**۲۴** ۱ حضرت ابراهيم ډېر زوړ شوی ؤ او څښتن هغه ته په هر کار کې برکت ورکاوه. ۲
حضرت ابراهيم خپل ناظر ته چې د هغه په کورنۍ کې د هرڅه واکدار ؤ وفرمايل: <خپل لاس دې
زما د ورون لاندې کېږده. ۳ په دې ډول زه تاته د څښتن يعنې د اسمان او ځمکې د خدای په نوم
قسم درکوم چې زما زوی ته به په دې ځای يعنې د کنعان په خلکو کې ښځه نه کوې، ۴ بلکه زما
وطن او زما خپلو خپلوانو ته لاړ شه او هلته زما زوی اسحاق ته ښځه وکړه.>

۵ ناظر پوښتنه وکړه: <که چېرې نجلۍ ونه غواړي چې خپل کور پرېږدي او زما سره دې وطن
ته راشي نو بيا به څنګه کېږي؟ آيا ستا زوی بېرته هغه وطن ته بوځم چې ته ورڅخه راوتلی يې؟>

۶ حضرت ابراهيم ځواب ورکړ: <پام کوه چې زما زوی به بېرته هلته نه بيايې. ۷ څښتن د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اسمان خدای زه د خپل پلار د کور او اصلي وطن څخه راوویستلم او زما سره یې کلکه وعده وکړه
چې دا وطن به ستا اولادې ته ورکوم. هغه به خپله فرښته ستا څخه مخکې ولېږي ترڅو ته وکولی
شې چې په هغه ځای کې زما زوی ته ښځه وکړې. (۸) که چېرې هغه نجلۍ په دې رضا نه شي
چې ستا سره راشي، نو ته به د هغه لوظ څخه چې زما سره دې کړی دی خلاص یې. خو په هیڅ
حالت کې به زما زوی هلته نه وروليږې.> (۹) نو ناظر خپل لاس د خپل بادار د ورون لاندې کېښود
او قسم یې وخوړ چې څه چې حضرت ابراهیم د هغه څخه غواړي هغه به وکړي.

(۱۰) ناظر د خپل بادار له اوښانو څخه لس اوښان او هر ډول ښه شیان د ځان سره واخیستل او د
بین النهرین شمال ته هغه ښار ته لاړ چې ناحور په کې اوسېده. (۱۱) هغه مازدیګر، یعنې څه وخت
چې ښځې د اوبو د راوړلو دپاره راوتلې هلته ورسېد او خپل اوښان یې د ښار څخه بیرون د کوهي
په غاړه کوندې کړل. (۱۲) بیا هغه دعا وکړه: <ای څښتنه، زما د بادار ابراهیم خدایه! نن ما کامیاب
کړه او زما د بادار ابراهیم سره خپله وعده پوره کړه. (۱۳) دا دی زه دلته د کوهي په څنګ کې ولاړ
یم، د ښار انجونې د اوبو وړلو دپاره راځي. (۱۴) نو داسې دې وشي چې کله زه هغې نجلۍ ته ووایم
چې خپل منګی راکوز کړه چې اوبه وڅښم او هغه ووایي: وڅښه او ستا اوښانو ته به هم اوبه ورکړم،
نو دا دې هماغه نجلۍ وي چې د خپل خدمتګار اسحاق دپاره دې انتخاب کړې ده. نو که چېرې
داسې وشول، زه به پوه شم چې تا هغه وعده پوره کړې ده چې زما د بادار سره دې کړې وه.>

(۱۵) د هغه دعا لا خلاصه شوې نه وه چې ربکا راورسېدله او د اوبو منګی یې په اوږه باندې ایښی
ؤ. هغه د بتوئیل لور وه او بتوئیل د ملکه زوی ؤ او ملکه د حضرت ابراهیم د ورور ناحور ښځه وه.
(۱۶) هغه یوه ډېره ښکلې نجلۍ وه او پېغله وه. هغه کوهي ته ورښکته شوه، خپل منګی یې د اوبو
څخه ډک کړ او بېرته راپورته شوه. (۱۷) ناظر د هغې د لیدلو دپاره په منډه ورغی او ویې ویل:
<مهرباني وکړه ستا د منګي څخه لږې اوبه ماته راکړه.>

(۱۸) هغې وویل: <ای زما باداره، وڅښه.> نو ژر یې خپل منګی له اوږو څخه راښکته کړ او هغه ته
یې اوبه ورکړې چې ویې څښې. (۱۹) کله چې هغه اوبه وڅښلې، هغې وویل: <زه به ستا د اوښانو
دپاره هم اوبه راوباسم ترڅو هغوی هم په اوبو ماړه شي.> (۲۰) هغې ژر خپل منګی په اخور کې
خالي کړ او بېرته په منډه د اوبو ویستلو دپاره کوهي ته لاړه او د ټولو اوښانو دپاره یې اوبه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوويستلې. ۲۱ سړي په خاموشۍ سره هغې ته کتل چې په دې پوه شي چې څښتن د ده سفر
بريالی کړی دی او که نه.

۲۲ کله چې هغې نجلۍ خپل کار خلاص کړ نو هغه سړي د سرو زرو يو قيمتي پېزوان راواخيست
او هغې ته يې په پوزه کړ او همدارنګه دوه د سرو زرو غتې کړۍ ګانې يې راواخيستلې او هغې ته يې
په لاس کړلې. ۲۳ بيا هغه پوښتنه وکړه: <ماته ووايه چې ته د چا لور يې؟ آيا ستا د پلار په کور
کې زمونږ دپاره کوم ځای شته چې شپه په کې تېره کړو؟>

۲۴ هغې ځواب ورکړ: <زه د بتوئيل لور او د ناحور او ملکې لمسۍ يم.> ۲۵ هغې زياته کړه:
<زمونږ سره بوس او واښه پرېمانه دي او د شپې د تېرولو دپاره ځای هم شته.>

۲۶ بيا هغه سړی په سجده پرېوت او د څښتن عبادت يې وکړ، ۲۷ ويې ويل: <ثناء دې وي
څښتن ته، زما د بادار ابراهيم خدای ته چې هغه وعده يې پوره کړه چې زما د بادار سره يې کړې وه.
څښتن ماته په دې سفر کې د خپل بادار د خپلوانو کور ته لارښودنه وکړه.>

۲۸ هغه پېغله په منډه خپل کور ته لاړه او خپلې کورنۍ ته يې ټوله قصه وکړه. ۲۹ نو د ربکا يو
ورور ؤ چې لابان نومېده. لابان په منډه دباندې ووت او د حضرت ابراهيم د ناظر پسې کوهي ته
ورغی. ۳۰ لابان د خپلې خور ربکا په پوزه پېزوان او په لاسونو باندې کړۍ ګانې وليدلې او د هغې
څخه يې هغه خبرې واورېدلې چې هغه سړي ورته کړې وې. نو دی ورغی او ويې ليدل چې د
حضرت ابراهيم ناظر د کوهي په غاړه د اوښانو سره ولاړ دی. ۳۱ هغه ووېل: <زما سره کور ته
راشه. ته داسې سړی يې چې څښتن درته برکت درکړی دی. ولې بيرون ولاړ يې؟ ما ستا دپاره په
خپل کور کې کوټه او ستا د اوښانو دپاره ځای تيار کړی دی.>

۳۲ نو هغه سړی کور ته ننوت او هغوی د اوښانو څخه بارونه راښکته کړل او اوښانو ته يې بوس
او واښه ورکړل. بيا لابان د حضرت ابراهيم ناظر او د هغه نفرو ته اوبه راوړلې چې خپلې پښې
ومينځي. ۳۳ بيا د ناظر په مخکې ډوډۍ کېښودله شوه، مګر هغه ووېل: <تر هغې پورې به زه
ډوډۍ ونه خورم ترڅو مې خپله خبره نه وي کړې.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لابان وویل: <نو بیا ووایه.>

۳۴ نو ویې ویل: <زه د حضرت ابراهیم ناظر یم. ۳۵ څښتن زما بادار ته زیات برکت ورکړی
دی او هغه شتمن شوی دی او هغه ته یې د پسونو او وزو رمې، د غوایانو او خرو پادې، سپین زر،
سره زر، غلامان، وینځې او اوښان ورکړي دي. ۳۶ زما د بادار د ښځې ساره څخه په زوړ عمر کې
زوی پیدا شو او هرڅه چې زما بادار درلودل هغه ته یې ورکړل. ۳۷ زما بادار ماته قسم راکړ او
ویې فرمایل: زما زوی ته به د کنعانیانو د لورګانو څخه چې زه د هغو په منځ کې اوسېږم ښځه نه
کوې. ۳۸ بلکه زما د پلار کورنی او زما خپلې قبیلې ته لاړ شه او زما زوی ته ښځه وکړه. ۳۹ بیا
ما د خپل بادار څخه پوښتنه وکړه: که چېرې نجلی زما سره رانه شي نو بیا څه وکړم؟ ۴۰ هغه
ځواب راکړ: هغه څښتن چې زه یې پیروي کوم هغه به خپله فرښته ستا سره ولېږي او ستا سفر به
بریالی کړي ترڅو ته وکولی شې چې زما زوی ته زما د خپلې قبیلې او زما د پلار د کورنی څخه
ښځه وکړې. ۴۱ کله چې ته زما قبیلې ته ورشې نو زما د قسم څخه به خلاص شې: حتیٰ که
هغوی تاته د نجلی د ورکولو څخه انکار هم وکړي، ته به زما د قسم څخه خلاص یې.

۴۲ کله چې نن زه کوهي ته راغلم، ما وویل: ای څښتنه، زما د بادار ابراهیم خدایه! که ستا رضا
وي ماته په دې سفر کې چې راغلی یم بری راکړه. ۴۳ دا دی زه دلته د دې کوهي په غاړه ولاړ یم.
نو داسې دې وشي چې کومه نجلی چې د اوبو د وړلو دپاره راځي، نو زه به د هغې څخه وغواړم چې
د خپل منګي څخه ماته لږې اوبه راکړي. ۴۴ که چېرې هغه راته ووایي چې وڅښه او زه به ستا د
اوښانو دپاره هم اوبه راوباسم، نو دا دې هماغه نجلی وي چې څښتن زما د بادار د زوی دپاره
انتخاب کړې ده. ۴۵ مخکې له دې چې زما دعا خلاصه شي، ربکا د خپل منګي سره چې په اوږو
یې ایښی ؤ راغله. هغه کوهي ته ښکته شوه او اوبه یې راوویستلې او ما هغې ته وویل: لږې اوبه
راکړه چې زه یې وڅښم. ۴۶ هغې ژر خپل منګی د اوږو څخه راښکته کړ او ویې ویل: وڅښه. زه
به ستا اوښانو ته هم اوبه ورکړم، نو بیا ما وڅښلې او هغې اوښانو ته هم اوبه ورکړې. ۴۷ د هغې
څخه مې پوښتنه وکړه: ته د چا لور یې؟ نو هغې وویل، زه د بتوئیل لور یم او د ناحور او ملکه لمسی
یم. نو د هغې په پوزه کې مې پېزوان واچاوه او په لاسونو کې مې ورته کړی‌ګانې واچولې. ۴۸ ما
سجده وکړه او د څښتن عبادت مې وکړ او د خپل بادار ابراهیم څښتن خدای مې وستایه چې ماته یې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سمه لاره وښودله چې د خپل بادار د ورور لمسی د هغه زوی ته وکړم. ۴۹ نو اوس که چېرې زما د بادار سره وفاداري او مهرباني کوې هم راته ووايه او که نه يې کوې هم ماته ووايه ترڅو زه پرېکړه وکړم چې بل چېرته لاړ شم.>

۵۰ لابان او بتوئيل ځواب ورکړ: <څرنګه چې دا خبره د څښتن له طرفه ده مونږ په دې هکله پرېکړه نه شو کولی. ۵۱ دا دی ربکا حاضره ده هغه درسره واخله او ځه. لکه څنګه چې څښتن په خپله فرمايلي دي، هغه دې ستا د بادار د زوی ښځه شي.> ۵۲ څنګه چې د حضرت ابراهيم ناظر دا خبره واورېدله نو سجده يې وکړه او د څښتن عبادت يې وکړ. ۵۳ بيا ناظر کالي، د سپينو زرو او سرو زرو ګاڼې راوويستل او ربکا ته يې ورکړل او د هغې ورور او مور ته يې هم قيمتي سوغاتونه ورکړل.

۵۴ بيا د حضرت ابراهيم ناظر او د هغه نفرو وخوړل او وڅښل او شپه يې هلته تېره کړه. کله چې هغوی سهار پاڅېدل، ناظر وويل: <ما بېرته خپل بادار ته رخصت کړئ.>

۵۵ مګر د ربکا ورور او مور وويل: <نجلۍ دې يوه هفته يا لس ورځې زمونږ سره پاتې شي، بيا تاسو کولی شئ چې لاړ شئ.>

۵۶ خو هغه وويل: <مونږ مه ايساروئ. څښتن زما سفر برياليٰ کړی دی، پرېږدئ چې بېرته خپل بادار ته لاړ شم.>

۵۷ هغوی وويل: <راځئ چې نجلۍ راوغواړو او په دې باره کې د هغې خپله پوښتنه وکړو.>
۵۸ نو هغوی ربکا راوغوښتله او پوښتنه يې ورڅخه وکړه: <آيا د دې سړي سره ځې؟>

هغې وويل: <هو، ځم.>

۵۹ نو هغوی خپله خور ربکا او د هغې زړه نوکره د حضرت ابراهيم د ناظر او د هغه د نفرو سره ولېږلې. ۶۰ هغوی د ربکا دپاره برکت وغوښت او ورته يې وويل:


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

<ای زمونږ خورې! ته دې د میلیونونو اولادونو مور شې

ستا اولاده دې د خپلو دښمنانو ښارونه فتح کړي>

٦١ بیا ربکا او د هغې وینځې تیارې شوې او په اوښانو باندې سپرې شوې او د سړي سره روانې
شوې. نو ناظر ربکا د ځان سره واخیستله او لاړ.

٦٢ په دې وخت کې حضرت اسحاق د بئرلحي رِيي څخه راغلی ؤ او د کنعان په جنوب کې
اوسېده. ٦٣ یو ماښام حضرت اسحاق په پټیو کې چکر واهه. ځنګه چې هغه خپلې سترګې پورته
کړې ویې لیدل چې اوښان راروان دي. ٦٤ ربکا هم خپلې سترګې پورته کړې او حضرت اسحاق
یې ولید، نو د اوښ څخه راکوزه شوه ٦٥ او د ناظر څخه یې پوښتنه وکړه: <هغه سړی څوک دی
چې په پټي کې زمونږ مخې ته راروان دی؟>

ناظر ځواب ورکړ: <هغه زما بادار دی.> نو هغې خپل څادر راواخیست او خپل ځان یې ورباندې
پټ کړ.

٦٦ کوم کارونه چې ناظر کړي وو هغه ټول یې حضرت اسحاق ته بیان کړل. ٦٧ حضرت اسحاق
ربکا د خپلې مور ساره خېمې ته راوستله او د هغې سره یې واده وکړ. نو ربکا د هغه ښځه شوه او د
هغې سره یې مینه کوله او حضرت اسحاق د خپلې مور د مړینې څخه پس تسلي ومونده.

## د حضرت ابراهیم نور اولادونه

(اول تواریخ ۱: ۳۲ – ۳۳)

**۲۵** ۱ حضرت ابراهیم بله ښځه وکړه چې نوم یې قطوره ؤ. ۲ د هغې څخه د حضرت
ابراهیم زامن زمران، یقشان، مدان، مدیان، یشباق او شوعه پیدا شول. ۳ یقشان د شبا او ددان پلار
ؤ او اشوریم، لطوشیم او لئومیم د ددان اولاده وه. ۴ عیفه، عیفر، حنوک، ابیداع او الداعه د مدیان
زامن وو. دا ټول د قطورې اولاده وه.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ حضرت ابراهیم خپله ټوله شتمني حضرت اسحاق ته پرېښودله. ۶ مګر هغه لا ژوندی ؤ
چې د خپلو وینځو زامنو ته یې سوغاتونه ورکړل او هغوی یې د خپل زوی حضرت اسحاق څخه د
مشرق خواته لېرې ولېږل.

## د حضرت ابراهیم وفات کېدل

۷ حضرت ابراهیم پوره یوسلو پنځه اویا کاله ژوند وکړ. ۸ هغه په پاخه عمر کې وفات شو او
د خپلو نیکونو سره یوځای شو. ۹ د هغه زامنو حضرت اسحاق او حضرت اسماعیل هغه ممري
ته نژدې د حیتي صوحار د زوی عفرون په پټي کې د مکفیله په سمڅه کې ښخ کړ. ۱۰ دا هغه پټی
ؤ چې حضرت ابراهیم د حیتیانو څخه په بیه اخیستی ؤ. حضرت ابراهیم او د هغه ښځه ساره دواړه
په هغه کې ښخ کړای شول. ۱۱ د حضرت ابراهیم د وفات څخه وروسته خدای پاک د هغه زوی
حضرت اسحاق ته برکت ورکړ او حضرت اسحاق بئرلحي رئي ته نژدې اوسېده.

## د حضرت اسماعیل اولاده

(اول تواریخ ۱: ۲۸ – ۳۱)

۱۲ دا د حضرت ابراهیم د زوی حضرت اسماعیل اولاده ده. دا هغه اسماعیل ؤ چې د ساره د
مصری وینځې هاجرې څخه پیدا شوی ؤ. ۱۳ د حضرت اسماعیل د زامنو نومونه د هغوی د
زېږېدو د ترتیب له مخې چې په لست کې لیکل شوي دي دا دي: د حضرت اسماعیل مشر زوی
نبایوت، قیدار، ادبیل، مبسام، ۱۴ مشماع، دومه، مسا، ۱۵ حداد، تیما، یطور، نافیش او قدمه. ۱۶
دا د حضرت اسماعیل زامن وو او دا د دولسو قبیلو د مشرانو نومونه وو چې د هغوی د کلیو او
کمپونو په مطابق وو. ۱۷ حضرت اسماعیل پوره د یوسلو اووه دېرشو کالو په عمر وفات شو او د
خپلو نیکونو سره یوځای شو. ۱۸ د هغه اولاده د شور او حویلې ترمنځ سیمه کې اوسېدله چې د
مصر پولې ته نژدې د آشور په لاره پرته ده. هغوی د خپلو ټولو ورونو سره په دښمنۍ کې ژوند کاوه.

## حضرت یعقوب او عیسو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ دا د حضرت ابراهیم د زوی حضرت اسحاق اولاده ده: د حضرت ابراهیم څخه حضرت اسحاق پیدا شو. ۲۰ حضرت اسحاق د څلوېښتو کالو په عمر ؤ چې د ربکا سره یې واده وکړ. هغه د ارامي بتوئیل لور وه چې د بین النهرین څخه ؤ او د لابان خور وه. ۲۱ حضرت اسحاق د خپلې ښځې په خاطر چې شنډه وه څښتن ته دعا وکړه. څښتن د هغه دعا قبوله کړه او د هغه ښځه ربکا امیدواره شوه. ۲۲ مخکې له دې چې ربکا اولاد وزیږوي هغه پوه شوه چې هغه به غبرګوني وزیږوي، ځکه چې هغې دا احساس کړه چې هغوی د مور په نس کې یو د بل سره جګړه کوي. هغې وویل: <زما سره ولې داسې کیږي؟> نو هغې د څښتن څخه پوښتنه وکړه.

۲۳ څښتن هغې ته وفرمایل:

<ستا د دواړو زامنو څخه

به دوه رقیب قومونه جوړ شي

په هغو دواړو کې به کشر قوي وي

او مشر به د هغه غلام وي>

۲۴ کله چې د هغې د اولاد د زیږولو وخت راورسېد، د هغې څخه غبرګوني پیدا شول. ۲۵ اولنی زوی چې پیدا شو هغه سور ؤ او د هغه ټول بدن لکه د ببرې چپنې په شان ؤ، نو د هغه نوم یې عیسو کېښود. ۲۶ د هغه څخه وروسته د هغه ورور پیدا شو او هغه د عیسو پونده په خپل لاس کې کلکه نیولې وه، نو ځکه د هغه نوم یعقوب شو. حضرت اسحاق د شپېتو کالو په عمر ؤ چې دوی پیدا شول.

## عیسو خپل د مشرتوب حقونه خرڅوي

۲۷ هلکان لوی شول. عیسو یو ماهر ښکاري او داسې سړی ؤ چې صحرا یې خوښېدله، خو حضرت یعقوب یو ارام سړی ؤ او د کور څخه به نه ووت. ۲۸ حضرت اسحاق د عیسو سره مینه کوله ځکه چې هغه د هغو حیواناتو غوښه خوړله چې عیسو ښکار کول. مګر ربکا د حضرت یعقوب



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره مینه کوله.

۲۹ یوه ورځ حضرت یعقوب د قورمې په پخولو باندې مشغول ؤ. عیسو د ښکار څخه راغی او ډېر
وږی ؤ ۳۰ او حضرت یعقوب ته یې ووېل: <زه د لوږې له لاسه مړ کېږم، د دې لوبیا له قورمې
څخه لږه راکړه!> (په دې خاطر یې په هغه باندې د ادوم نوم هم کېښود.)

۳۱ حضرت یعقوب ځواب ورکړ: <اول په ما باندې خپل د مشرتوب حق خرڅ کړه.>

۳۲ عیسو ووېل: <ګوره، زه مړ کېږم. دا مشرتوب ماته څه ګټه رسوي؟>

۳۳ مګر حضرت یعقوب وفرمایل: <اول ماته قسم وخوره>، نو هغه قسم وخوړ او خپل د
مشرتوب حق یې په حضرت یعقوب باندې خرڅ کړ. ۳۴ بیا حضرت یعقوب عیسو ته لږه ډوډۍ او
قورمه ورکړه. هغه خوراک او څښاک وکړ، پاڅېده او لاړ. نو عیسو د خپل مشرتوب حق ته په سپکه
سترګه وکتل.

## حضرت اسحاق او ابي ملک

**۲۶** ۱ په هغه وطن کې برسېره په هغې قحطۍ باندې چې پخوا د حضرت ابراهیم په وخت کې
راغلې وه بله قحطي هم راغله. حضرت اسحاق د فلسطینیانو پادشاه ابي ملک ته چې په جرار کې ؤ
ورغی. ۲ څښتن حضرت اسحاق ته ښکاره شو او ویې فرمایل: <مصر ته مه ځه. په همدې وطن
کې په هغه ځای کې چې زه یې درته وایم اوسېږه. ۳ همدلته اوسېږه. زه به ستا سره مل یم او تاته
به برکت درکړم. زه به تاته او ستا اولادې ته دا ټوله سیمه درکړم او په هغې وعدې باندې به ټینګ
ولاړ یم چې ستا د پلار ابراهیم سره مې کړې وه. ۴ ستا اولاده به د اسمان د ستورو په شان زیاته
کړم او هغوی ته به دا ټوله سیمه ورکړم. ستا د اولادې په وسیله به د ځمکې په مخ ټول قومونه برکت
ومومي، ۵ ځکه چې ابراهیم زما اطاعت کړی دی او زما په ټولو حکمونو او قوانینو باندې یې
عمل کړی دی.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ نو حضرت اسحاق په جرار کې پاتې شو. ۷ کله چې د هغه ځای خلکو د حضرت اسحاق ښځه د ربکا په باره کې پوښتنه وکړه، هغه وفرمايل: <هغه زما خور ده.> ځکه هغه وېرېده داسې ووايي چې هغه زما ښځه ده. هغه فکر کاوه چې د هغه ځای خلک به هغه د ربکا په خاطر ووژني، ځکه چې هغه ډېره ښکلې وه. ۸ څرنګه چې حضرت اسحاق هلته زيات وخت تېر کړ، ابي ملک د فلسطينيانو پادشاه د کړکۍ څخه لاندې وکتل او ويې ليدل چې حضرت اسحاق خپله ښځه ربکا په غېږ کې نيولې وه او هغه يې ښکلوله. ۹ نو ابي ملک حضرت اسحاق راوغوښت او ورته ويې ويل: <هغه په رښتيا سره ستا ښځه ده! نو ولې دې وويل چې هغه ستا خور ده؟>

حضرت اسحاق ځواب ورکړ: <ما فکر وکړ چې کېدای شي د هغې په خاطر ووژل شم.>

۱۰ ابي ملک وويل: <دا څه دې زمونږ سره وکړل؟ کېدای شو چې زما د نفرو څخه کوم يو ستا د ښځې سره ځملاستلی وای او مونږ به دې ګناهکار کړي وای.> ۱۱ ابي ملک ټولو خلکو ته خبرداری ورکړ: <که هرڅوک د دې سړي يا دې ښځې سره بده رويه وکړي هغه به ووژل شي.>

۱۲ حضرت اسحاق په هغې ځمکې کې فصل وکاره او په هغه کال يې چې څه کرلي وو د هغې څخه يې يو په سل حاصل واخيست، ځکه چې څښتن هغه ته برکت ورکړ. ۱۳ حضرت اسحاق ورځ په ورځ خوشبخته کېده او هغه ډېر شتمن سړی شو. ۱۴ هغه دومره زياتې رمې، پادې او غلامان درلودل چې فلسطينيانو وربانديې بخيلي کوله. ۱۵ نو هغه ټول کوهيان چې د هغه د پلار حضرت ابراهيم غلامانو د هغه د پلار په وخت کې کيندلي وو، فلسطينيانو هغه د خاورو څخه ډک کړل.

۱۶ نو بيا ابي ملک حضرت اسحاق ته وويل: <ته زمونږ څخه ډېر قوي شوی يې، نو زمونږ د وطن څخه لاړ شه.> ۱۷ نو حضرت اسحاق له هغه ځای څخه لاړ او د جرار په دره کې يې خېمې ودرولې او هلته پاتې شو. ۱۸ حضرت اسحاق هغه کوهيان چې د هغه د پلار حضرت ابراهيم په وخت کې کيندل شوي وو او فلسطينيانو هغه د حضرت ابراهيم د وفات کېدلو څخه وروسته بند کړي وو بېرته وکيندل او هماغه نومونه يې وربانديې کېښودل چې پلار يې وربانديې ايښې وو.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ د حضرت اسحاق غلامانو په دې دره کې یو کوهی وکینده چې تازه اوبه یې درلودلې. ۲۰
مګر د جرار شپانو د حضرت اسحاق د شپانو سره دعوه شروع کړه او ویې ویل: <دا زمونږ اوبه
دي!> نو حضرت اسحاق هغه کوهی د دعوې په نوم یاد کړ.

۲۱ د حضرت اسحاق غلامانو بل کوهی وکینده او په هغه باندې یې هم دعوه وکړه او هغه یې د
دښمنی په نوم یاد کړ. ۲۲ او له هغه ځای څخه یې کډه وکړه او بل کوهی یې وکینده مګر په هغه
باندې چا دعوه ونه کړه او هغه یې د پریمانه ځای په نوم یاد کړ، ویې فرمایل: <اوس څښتن مونږ ته
ځای راکړی دی او په دې خاوره کې به خوشبخته شو.>

۲۳ حضرت اسحاق له هغه ځایه بئرشبع ته لاړ. ۲۴ په هماغه شپه څښتن هغه ته ښکاره شو او
ویې فرمایل: <زه ستا د پلار ابراهیم خدای یم. مه وېرېږه ځکه چې زه ستا سره مل یم او تاته به
برکت درکړم او ستا اولاده به د خپل خدمتګار ابراهیم په خاطر زیاته کړم.> ۲۵ حضرت اسحاق
هلته د قربانۍ ځای جوړ کړ او د څښتن عبادت یې وکړ. بیا یې په هغه ځای کې خپلې خیمې
ودرولې او د هغه غلامانو هلته یو بل کوهی وکینده.

## د حضرت اسحاق او ابي ملک ترمنځ د روغې جوړې تړون

۲۶ یوه ورځ ابي ملک د خپل مشاور احوزات او د خپلو لښکرو د مشر فیکول سره د جرار څخه د
حضرت اسحاق د لیدلو دپاره راغی. ۲۷ حضرت اسحاق د هغوی څخه پوښتنه وکړه: <تاسو خو
زما سره دښمني کوله او زه مو له خپل وطن څخه وشړلم. نو اوس ولې زما د لیدلو دپاره راغلي
یئ؟>

۲۸ هغوی ځواب ورکړ: <مونږ ولیدل چې څښتن په رښتیا ستا سره مل دی نو مونږ وویل چې
زمونږ او ستاسو ترمنځ دې داسې یو قوي تړون وي ۲۹ چې مونږ ته زیان راونه رسوئ لکه څنګه
چې مونږ تاته زیان نه دی دررسولی، بلکه ستا سره مو ښه رویه کړې ده او ته مو په سلامتۍ سره
لېږلی یې. اوس څښتن تاته برکت درکړی دی.> ۳۰ حضرت اسحاق د هغوی دپاره مېلمستیا تیاره
کړه او هغوی وخوړل او وڅښل. ۳۱ سهار وختي هغوی پاڅېدل او یو او بل ته یې قسم ورکړ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حضرت اسحاق هغوی رخصت کړل او په سلامتی سره د هغه څخه لاړل.

٣٢ په هماغه ورځ د حضرت اسحاق غلامان راغلل او هغه ته يې د هغه کوهي په باره کې خبر ورکړ چې دوی کيندلی ؤ. هغوی وويل: <مونږ اوبه وموندلې.> ٣٣ نو هغه يې د شبع په نوم ياد کړ. تر نن ورځې پورې هغه ښار د بئرشبع په نوم يادېږي.

## د عيسو ښځې

٣٤ کله چې عيسو څلوېښت کلن شو، د بيري حيتي د لور يوديه او د ايلون حيتي لور بسمې سره يې واده وکړ. ٣٥ هغوی د حضرت اسحاق او ربکا ژوند تريخ کړ.

## حضرت يعقوب د حضرت اسحاق څخه برکت اخلي

٢٧ ١ کله چې حضرت اسحاق زوړ شو نو د هغه سترګې دومره کمزورې شوې چې نور يې څه شی نه شو ليدلی. خپل مشر زوی عيسو يې راوغوښت او هغه ته يې وفرمايل: <ای زما زويه!>

هغه ځواب ورکړ: <څه وايې؟>

٢ حضرت اسحاق وفرمايل: <زه اوس زوړ شوی يم او مرګ ته نژدې شوی يم. ٣ نو اوس خپله لينده او غشي واخله، صحرا ته لاړ شه او زما دپاره ښکار وکړه. ٤ زما دپاره داسې خوندور خوراک چې زه يې خوښوم تيار کړه او ماته يې راوړه چې ويې خورم، ترڅو د خپل مرګ څخه مخکې تاته برکت درکړم.>

٥ څه وخت چې حضرت اسحاق د خپل زوی عيسو سره خبرې کولې، ربکا هغه واورېدلې. نو عيسو د ښکار دپاره صحرا ته لاړ. ٦ ربکا خپل زوی حضرت يعقوب ته وويل: <ګوره، ما واورېدل چې ستا پلار ستا ورور عيسو ته وويل: ٧ زما دپاره د ښکار غوښه راوړه او خوندور خوراک ورڅخه تيار کړه چې ويې خورم او د خپل مرګ څخه مخکې تاته د څښتن په حضور کې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

برکت درکړم. ۸ نو اوس ای زما زویه، په غور سره واوره او څه چې درته وایم هغه وکړه. ۹
رمې ته ورشه او دوه ډېر ښه سېرلي راته راوله ترڅو ستا د پلار دپاره داسې خوندور خوراک تیار
کړم چې هغه یې خوښوي. ۱۰ بیا هغه دې پلار ته یوسه چې ویې خوري ترڅو د خپل مرګ څخه
مخکې تاته برکت درکړي.>

۱۱ حضرت یعقوب خپلې مور ربکا ته وویل: <خو زما ورور عیسو ببر سړی دی او زه ښویه
پوستکی لرم. ۱۲ که پلار مې په ما باندې لاس ووهي نو بیا به څه کیږي؟ دی به پوه شي چې زه
هغه غولوم، نو د برکت په ځای به په ځان باندې لعنت راولم.>

۱۳ مور یې ځواب ورکړ: <ای زما زویه! ستا لعنت دې په ما باندې وي، ته یوازې هغه څه وکړه
چې زه یې درته وایم. لاړ شه او ماته سېرلي راوله.> ۱۴ نو حضرت یعقوب لاړ او هغه یې خپلې
مور ته راوړل او هغې داسې خوندور خوراک تیار کړ چې د هغه د پلار خوښېده. ۱۵ بیا ربکا د
خپل مشر زوی عیسو ترټولو ښه کالي چې د هغې سره په کور کې وو راواخیستل او خپل کشر زوی
حضرت یعقوب ته یې واغوستل. ۱۶ همدارنګه هغې د سېرلي په پوستکي باندې د هغه لاسونه او د
اورمېږ هغه ځای پټ کړ چې ویښتان یې نه درلودل. ۱۷ هغې هغه خوندور خوراک او ډوډۍ چې
پخه کړې یې وه د خپل زوی حضرت یعقوب په لاس کې ورکړل.

۱۸ هغه خپل پلار ته ورغی او ویې ویل: <ای زما پلاره!>

هغه ځواب ورکړ: <څه وایې، ای زما زویه؟ ته څوک یې؟>

۱۹ حضرت یعقوب خپل پلار ته وویل: <زه ستا مشر زوی عیسو یم، تا چې څنګه راته ویلي وو
ما هماغسې وکړل. کښېنه او زما د ښکار غوښه وخوره ترڅو ماته خپل برکت راکړې.>

۲۰ حضرت اسحاق د خپل زوی څخه پوښتنه وکړه: <ای زما زویه، دومره ژر دې څنګه پیدا
کړه؟>

حضرت یعقوب ځواب ورکړ: <ستا څښتن خدای زما سره مرسته وکړه او هغه مې پیدا کړه.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ بیا حضرت اسحاق یعقوب ته وفرمایل: <ای زما زویه، رانژدې شه چې لاس دربانديٍ ووهم
ترڅو پوه شم چې ته رښتیا زما زوی عیسو یې که نه.> ۲۲ حضرت یعقوب خپل پلار حضرت
اسحاق ته ورنژدې شو او پلار یې په هغه باندې لاس وواهه او ویې فرمایل: <اواز دې د یعقوب د
اواز په شان دی، مګر لاسونه دې د عیسو د لاسونو په شان دي.> ۲۳ حضرت اسحاق هغه ونه
پېژانده ځکه چې د هغه لاسونه د عیسو د لاسونو په شان ببر وو، نو ورنژدې شو چې هغه ته برکت
ورکړي. ۲۴ هغه پوښتنه وکړه: <آیا ته په رښتیا سره زما زوی عیسو یې؟>

هغه ځواب ورکړ: <هو، زه یم.>

۲۵ حضرت اسحاق وفرمایل: <ماته ستا د ښکار غوښنه راوړه چې ویې خورم ترڅو خپل برکت
درکړم.> حضرت یعقوب هغه حضرت اسحاق ته راوړله او هغه وخوړله او یو څه شراب یې هم
راوړل او هغه وڅښل. ۲۶ بیا د هغه پلار حضرت اسحاق ورته وفرمایل: <ای زما زویه، رانژدې
شه او ما ښکل کړه.> ۲۷ نو حضرت یعقوب ورنژدې شو او هغه یې ښکل کړ. نو کله چې حضرت
اسحاق د هغه کالي بوی کړل، نو ده ته یې برکت ورکړ او ویې فرمایل: <زما د زوی خوږ بوی د هغې
صحرا د بوی په شان دی چې ښبنتن هغې ته برکت ورکړی دی. ۲۸ خدای پاک دې تاته د اسمان
پرخه درکړي او ستا ځمکه دې حاصلخېزه کړي! او پرېمانه غلې دانې او شراب دې درکړي. ۲۹
قومونه دې ستا غلامان شي او تاته دې د احترام سر ټيټوي او ته دې په خپلو خپلوانو باندې حکم
چلوې او ستا د مور اولاده دې تاته سر ټيټوي. څوک چې په تا باندې لعنت ووایي، په هغه باندې دې
لعنت وي او څوک چې تاته برکت درکوي، په هغه دې برکت وي.>

## عیسو د حضرت اسحاق څخه برکت غواړي

۳۰ سمدستي وروسته له دې چې هغه له برکت ورکولو څخه وزګار شو او حضرت یعقوب لاړ د
حضرت یعقوب ورور عیسو د ښکار څخه راغی. ۳۱ هغه هم خوندور خوراک تیار کړ او خپل پلار
ته یې راوړ او ویې ویل: <ای پلاره، راپاڅېږه او زما د ښکار لږه غوښنه وخوره ترڅو ماته برکت
راکړې.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۲ حضرت اسحاق د هغه څخه پوښتنه وکړه: <ته څوک یې؟>

هغه ځواب ورکړ: <زه ستا زوی یم، ستا مشر زوی عیسو.>

۳۳ حضرت اسحاق سخت ولړزېده او ویې فرمایل: <نو بیا هغه څوک ؤ چې ښکار یې کړی ؤ او غوښه یې ماته راوړې وه؟ او همدا اوس ستا د راتلو څخه مخکې مې هغه وخوړله او هغه ته مې برکت ورکړ او هغه بېرته نه اخیستل کیږي.>

۳۴ کله چې عیسو د خپل پلار خبرې واورېدلې، هغه په لوړ او سخت اواز سره چیغې ووهلې او خپل پلار ته یې وویل: <ای زما پلاره، ماته هم برکت راکړه.>

۳۵ حضرت اسحاق ځواب ورکړ: <ستا ورور دلته راغی، زه یې وغولولم او ستا برکت یې واخیست.>

۳۶ عیسو وویل: <آیا په هغه باندې یې د یعقوب نوم په حقه نه دی ایښی؟ ځکه چې هغه زه دوه وارې وغولولم. اول یې زما څخه د مشرتوب حق واخیست او اوس یې زما برکت واخیست.> نو هغه پوښتنه وکړه: <آیا ماته دې کوم برکت نه دی ساتلی؟>

۳۷ حضرت اسحاق عیسو ته په ځواب کې وفرمایل: <هغه مې په تا باندې بادار کړی دی او د هغه ټول خپلوان مې د هغه غلامان کړل او هغه ته مې غلې دانې او شراب ورکړې دي. نو ای زویه! اوس زه ستا دپاره څه وکړم؟>

۳۸ عیسو بیا خپل پلار ته وویل: <ای زما پلاره، آیا تا سره یوازې یو برکت ؤ؟ ماته هم برکت راکړه!> بیا عیسو په لوړ اواز سره وژړل.

۳۹ حضرت اسحاق هغه ته وفرمایل:

<له اسمان څخه به پرخه تاته نه وي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه به ځمکه حاصلخېزه وي د ستا

۴۰ ژوند به کړې په خپله توره

يې غلام به د خپل ورور

مګر کله چې ياغي شې

د هغه جغ به له خپلې غاړې مات کړې>

## حضرت يعقوب لابان ته تښتي

۴۱ عيسو د حضرت يعقوب سره د هغه برکت له امله چې پلار يې حضرت يعقوب ته ورکړی ؤ کينه پيدا کړه. هغه د خپل ځان سره ووېل: <زما پلار مرګ ته نژدې دی او هغه به مړ شي، بيا به خپل ورور يعقوب ووژنم.>

۴۲ کله چې ربکا د خپل مشر زوی عيسو د پلان څخه خبره شوه، هغې خپل کشر زوی حضرت يعقوب راوغوښت او ورته ويې ويل: <غوږ ونيسه، ستا ورور عيسو پلان لري چې ستا څخه د هغو کارونو بدل واخلي چې تا کړي دي او تا ووژني. ۴۳ نو اوس ای زما زويه، هغه کار وکړه چې زه يې درته وايم. سمدستي حران ته زما ورور لابان ته وتښته. ۴۴ د هغه سره د لږ وخت دپاره پاتې شه ترڅو ستا د ورور قهر سوړ شي ۴۵ او هغه څه چې تا ورسره کړي دي هغه هېر کړي. نو بيا به تاته خبر درولېږم چې له هغه ځای څخه بېرته راشې. تاسو دواړه ولې په يوه ورځ کې له لاسه ورکړم؟>

## حضرت اسحاق يعقوب لابان ته ورلېږي

۴۶ ربکا حضرت اسحاق ته ووېل: <د دې حيتي ښځو د لاسه د خپل ژوند څخه بېزاره شوې يم. که چېرې يعقوب د دې حيتي ښځو په شان کومه حيتي ښځه وکړي نو زما ژوند به ژوند نه وي.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ ۱ حضرت اسحاق یعقوب راوغوښت، هغه ته یې برکت ورکړ او حکم یې ورته وکړ: <د کنعانی ښځې سره واده ونه کړې. ۲ همدا اوس بین النهرین ته د خپل نیکه بتوئیل کور ته لاړ شه او هلته د خپل ماما لابان د لورګانو څخه خپل ځان ته ښځه وکړه. ۳ مطلق قادر خدای دې تاته برکت درکړي او تاته دې ډېر اولادونه درکړي ترڅو ستا څخه ډېر قومونه پیدا شي. ۴ هغه دې تا او ستا اولادې ته د حضرت ابراهیم په شان برکت درکړي او د هغې ځمکې خاوند شې چې خدای پاک حضرت ابراهیم ته ورکړې ده او ته په کې اوس د یو پردي په شان اوسېږې.> ۵ نو حضرت اسحاق یعقوب ولېږه او هغه بین النهرین ته د بتوئیل ارامي زوی د حضرت یعقوب او عیسو د مور ربکا ورور لابان ته ورغی.

## عیسو بله ښځه کوي

۶ عیسو پوه شو چې حضرت اسحاق یعقوب ته برکت ورکړ او هغه یې بین النهرین ته ولېږه چې په هغه ځای کې ځان ته ښځه وکړي. هغه په دې هم پوه شو چې کله حضرت اسحاق هغه ته برکت ورکاوه، هغه ته یې حکم وکړ چې د کنعانی ښځې سره به واده نه کوي. ۷ هغه خبر شو چې حضرت یعقوب د خپل مور او پلار اطاعت وکړ او بین النهرین ته لاړ. ۸ عیسو په دې پوهېده چې د هغه پلار حضرت اسحاق کنعانی ښځې نه خوښوي. ۹ نو هغه د حضرت ابراهیم زوی حضرت اسماعیل ته لاړ او سره له دې چې نورې ښځې یې هم درلودلې د حضرت اسماعیل د لور محلت سره یې چې د نبایوت خور وه واده وکړ.

## په بیت ئیل کې د حضرت یعقوب خوب لیدل

۱۰ حضرت یعقوب د بئرشبع څخه حران ته روان شو. ۱۱ څه وخت چې نوموړی یو ځای ته ورسېده لمر پرېوتی ؤ. هغه د شپې هلته پاتې شو او یوه تیږه یې راواخیستله، د خپل سر لاندې یې کېښودله او په هغه ځای کې ویده شو. ۱۲ هغه په خوب کې یوه زینه ولیده چې په ځمکه باندې ولاړه وه او سر یې اسمان ته رسېده او د خدای پاک فرښتې په هغې باندې ښکته او پورته تللې. ۱۳ څښتن د حضرت یعقوب په څنګ کې ولاړ ؤ او ویې فرمایل: <زه څښتن یم، ستا د نیکه ابراهیم خدای او د اسحاق خدای یم. دغه ځمکه چې ته ورباندې پروت یې، تا او ستا اولادې ته به یې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړم. (۱۴) ستا اولاده به د خاورو د ذرو په شان زياته کړم او تاسو به د خپل هېواد لمرپرېواته، لمرخاته، شمال او جنوب خواته خپاره شئ او د دنيا ټول قومونه به ستا او ستا د اولادې په وسيله برکت مومي. (۱۵) زه به ستا سره مل يم او هرچېرته چې ځې زه به تا ساتم او بېرته به دې دې وطن ته راولم. تر هغې پورې به زه تا پرېنږدم ترڅو مې هغه ټول کارونه نه وي کړي چې تا سره مې وعده کړې وه.>

(۱۶) کله چې حضرت يعقوب له خوبه راوېښ شو ويې فرمايل: <ښبنتن په دې ځای کې دی خو زه په دې پوه نه وم.> (۱۷) هغه ووېرېده او ويې فرمايل: <دا څومره وېروونکی ځای دی. په رښتيا سره دا د خدای پاک کور دی او دا د اسمان دروازه ده.>

(۱۸) سهار وختي حضرت يعقوب هغه تيږه چې هغه د خپل سر لاندې اېښې وه راواخيستله او د يادګار په توګه يې ودروله او د هغې په سر يې د زيتون تېل واچول. (۱۹) هغه دا ځای د بيت ئيل په نوم ياد کړ. مګر پخوا د هغه ښار نوم لوز ؤ. (۲۰) بيا حضرت يعقوب نذر کېښود ويې فرمايل: <که چېرې خدای پاک زما سره مل وي او په دې سفر کې چې زه روان يم ما وساتي او ډوډۍ او کالي راته راکړي (۲۱) ترڅو په خير سره بېرته د خپل پلار کور ته ورستون شم، نو بيا به ته زما خدای يې. (۲۲) او دغه تيږه چې ما د يادګار په توګه ودرولې ده هغه به د خدای پاک کور شي او هرڅه چې ماته يې راکوې د هغو لسمه برخه به تاته درکوم.>

### حضرت يعقوب د لابان کور ته رسيږي

**۲۹** (۱) نو حضرت يعقوب خپل سفر ته دوام ورکړ او د مشرق د خلکو خاورې ته راغی. (۲) هغه په صحرا کې يو کوهی وليد چې د پسونو درې رمې يې په څنګ کې پنډې وې. له دې کوهي څخه به رمو اوبه څښلې او د کوهي خولې ته يوه لويه تيږه اېښې وه. (۳) څه وخت چې به ټولې رمې هلته راغونډې شوې نو شپانو به دغه تيږه د کوهي د خولې څخه لېرې کوله او رمو ته به يې اوبه ورکولې. بيا به يې تيږه بېرته د کوهي خولې ته اېښوده.

(۴) حضرت يعقوب د شپانو څخه پوښتنه وکړه: <ای زما ورونو، تاسو د کوم ځای يئ؟>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی ځواب ورکړ: <مونږ د حران یو.>

۵ هغه پوښتنه وکړه: <تاسو د ناحور لمسی لابان پېژنئ؟>

هغوی ځواب ورکړ: <هو، مونږ هغه پېژنو.>

۶ هغه پوښتنه وکړه: <هغه ښه دی؟>

هغوی ځواب ورکړ: <هغه ښه دی. وګوره، دا د هغه لور راحیل ده چې د خپلې رمې سره راروانه ده.>

۷ حضرت یعقوب وفرمایل: <تر اوسه پورې لا لمر ځګ ولاړ دی او د رمو د راغونډېدلو وخت نه دی. پسونو ته اوبه ورکړئ او هغه بېرته څرځای ته بوځئ.>

۸ هغوی وویل: <دا کار مونږ نه شو کولی. څه وخت چې ټولې رمې راغونډې شي او د کوهي د خولې څخه تیږه لرې کړای شي، بیا به پسونو ته اوبه ورکړو.>

۹ حضرت یعقوب لا د هغوی سره خبرې کولې چې راحیل د رمې سره راغله ځکه چې هغه شپونکې وه. ۱۰ کله چې حضرت یعقوب راحیل ولیدله چې د هغه د ماما لابان رمه ورسره وه، هغه کوهي ته ورغی او تیږه یې د کوهي د خولې څخه لرې کړه او د لابان پسونو ته یې اوبه ورکړې. ۱۱ بیا حضرت یعقوب راحیل ښکل کړه او په لوړ اواز سره یې وژړل. ۱۲ حضرت یعقوب راحیل ته وفرمایل: <زه ستا د پلار د خپلوانو څخه یم او د ربکا زوی یم.>

هغه په منډه لاړه او خپل پلار یې خبر کړ. ۱۳ څنګه چې لابان د خپل خوریي حضرت یعقوب خبر واورېد نو په منډه د هغه لیدلو ته ورغی. هغه یې په غېږ کې ونیوه، ښکل یې کړ او خپل کور ته یې راوست. بیا هرڅه چې پېښ شوي وو حضرت یعقوب لابان ته بیان کړل. ۱۴ لابان هغه ته وویل: <په رښتیا سره ته زما خپله وینه او خپل هډوکی یې.> حضرت یعقوب پوره یوه میاشت د هغه سره پاتې شو.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ لابان حضرت یعقوب ته وویل: <آیا په دې خاطر چې ته زما خپل یې نو ماته به وړیا خدمت کوې؟ ووایه چې ته څومره مزدوري غواړې؟> ۱۶ لابان دوه لورګانې درلودلې، د مشرې نوم لیه او د کشرې نوم راحیل ؤ. ۱۷ د لیه سترګې ښکلې وې مګر راحیل ښایسته وه او ښکلی اندام یې درلود. ۱۸ حضرت یعقوب په راحیل باندې مین شوی ؤ او ویې فرمایل: <که چېرې خپله کشره لور ماته راکړې، نو زه به اووه کاله ستا خدمت وکړم.>

۱۹ لابان وویل: <دا به ښه وي چې هغه تاته درکړم، نه کوم بل چاته. زما سره دلته پاتې شه.>
۲۰ نو حضرت یعقوب د راحیل دپاره اووه کاله خدمت وکړ، مګر دا کلونه هغه ته لکه د ډېرو لږو ورځو په شان ښکاره شول ځکه چې هغه د راحیل سره ډېره مینه درلودله.

۲۱ نو حضرت یعقوب لابان ته وفرمایل: <هغه موده پوره شوې ده، اجازه راکړه چې ستا د لور سره واده وکړم.> ۲۲ نو لابان د هغه ځای ټول خلک راغونډ کړل او مېلمستیا یې ورکړه. ۲۳ خو کله چې شپه شوه، هغه د راحیل په ځای لیه حضرت یعقوب ته وروستله او حضرت یعقوب د هغې سره یوځای شو. ۲۴ لابان خپله وینځه زلفه خپلې لور لیه ته د نوکرې په توګه ورکړه. ۲۵ کله چې سهار شو حضرت یعقوب ته معلومه شوه چې هغه لیه وه. هغه لابان ته ورغی او ویې فرمایل: <زما سره دې ولې داسې وکړل؟ ما د دې دپاره کار کاوه چې راحیل ماته راکړې، زه دې ولې وغولولم؟>

۲۶ لابان ځواب ورکړ: <دلته زمونږ په ځای کې داسې رواج نه دی چې کشره لور د مشرې ښځه مخکې واده کړي. ۲۷ صبر وکړه چې د لیه د واده اوومه ورځ پوره شي بیا به راحیل هم درکړم، خو ته به اووه کاله نور هم زما خدمت کوې.>

۲۸ حضرت یعقوب قبوله کړه او د لیه سره یې د واده اوومه ورځ پوره کړه او لابان خپله لور راحیل هغه ته ورکړه. ۲۹ لابان خپله وینځه بلهه خپلې لور راحیل ته د نوکرې په توګه ورکړه. ۳۰ حضرت یعقوب د راحیل سره هم یوځای شو. په هغه باندې د لیه څخه راحیل ډېره ګرانه وه. هغه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لابان ته اووه کاله نور خدمت وکړ.

## د حضرت يعقوب اولادونه

۳۱ کله چې څښتن وليدل چې حضرت يعقوب د ليه سره ډېره مينه نه کوي، خدای پاک هغې ته اولادونه ورکړل، مګر راحيل شنډه وه. ۳۲ ليه اميدواره شوه او زوی يې وزېږاوه او په هغه باندې يې روبين نوم کېښود، ځکه هغې وويل: <څښتن زما سختې ليدلې ده. اوس به مې مېړه راسره مينه کوي.> ۳۳ هغه بيا اميدواره شوه، زوی يې وزېږاوه او ويې ويل: <دا ځکه چې څښتن پوهېږي چې حضرت يعقوب زما سره مينه نه کوي، نو دا يې هم راکړ.> نو په هغه باندې يې شمعون نوم کېښود. ۳۴ هغه بيا اميدواره شوه او زوی يې وزېږاوه، ويې ويل: <اوس به د خپل مېړه زړه ته ورنژدې شم، ځکه چې درې زامن مې ورته وزېږول.> نو په دې خاطر يې په هغه باندې لاوي نوم کېښود. ۳۵ هغه بيا اميدواره شوه او کله چې د هغې زوی پيدا شو، هغې وويل: <دا ځل به زه د څښتن ستاينه وکړم>، نو هغې په هغه باندې يهودا نوم کېښود. وروسته له هغې څخه ليه د اولاد د زېږولو څخه ولوېدله.

**۳۰** ۱ کله چې راحيل وليدل چې د دې څخه د حضرت يعقوب هيڅ اولاد پيدا نه شو، نو په خپلې خور باندې يې بخيلي وکړه او حضرت يعقوب ته يې وويل: <ماته اولاد راکړه او که نه، نو زه به مړه شم.>

۲ حضرت يعقوب په راحيل باندې په قهر شو او ويې فرمايل: <زه خو خدای نه يم چې ته يې د اولاد راوړلو څخه بې برخې کړې يې.>

۳ نو هغې وويل: <دا زما وينځه بلهه ده. د هغې سره يوځای شه ترڅو هغه زما دپاره اولاد وزېږوي. په دې ډول به زه هم وکولی شم چې د هغې په وسيله مور شم.> ۴ نو خپله وينځه بلهه يې ورکړه چې د هغه ښځه شي او حضرت يعقوب د هغې سره يوځای شو. ۵ بلهه اميدواره شوه او حضرت يعقوب ته يې زوی وزېږاوه. ۶ نو راحيل وويل: <خدای پاک زما په حق کې انصاف



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړ، هغه زما دعا قبوله کړه او ماته يې زوی راکړ.> په دې خاطر يې په هغه باندې دان نوم کېښود.
(۷) بلهه د راحيل وينځه بيا اميدواره شوه او د هغې څخه د حضرت يعقوب دوهم زوی پيدا شو.
(۸) راحيل وويل: <د خپلې خور سره مې شخړه وکړه او زه بريالی شوم>، نو ځکه يې په هغه باندې نفتالي نوم کېښود.

(۹) کله چې ليه پوه شوه چې د اولاد راوړلو څخه ولوېدله، خپله وينځه زلفه يې حضرت يعقوب ته ورکړه چې د هغه ښځه شي. (۱۰) د ليه د وينځې زلفې څخه د حضرت يعقوب زوی پيدا شو. (۱۱) ليه وويل: <زه بختوره يم>، نو ځکه يې په هغه باندې جاد نوم کېښود. (۱۲) د ليه د وينځې زلفې څخه د حضرت يعقوب بل زوی پيدا شو. (۱۳) ليه وويل: <زه څومره خوشاله يم! ټولې ښځې به وايي چې زه څومره خوشاله يم.> په هغه باندې يې اشير نوم کېښود.

(۱۴) د غنمو د لو کولو په وخت کې روبين پټيو ته لاړ او مېنه غوني يې وموندلې. هغه يې خپلې مور ليه ته راوړلې. راحيل ليه ته وويل: <د خپل زوی د مېنه غونو څخه يو څه ماته راکړه.>

(۱۵) مګر ليه هغې ته ځواب ورکړ: <آيا دا دې بس نه دی چې مېړه دې راڅخه واخيست؟ اوس غواړې چې زما د زوی مېنه غوني هم راڅخه واخلې؟>

راحيل وويل: <ډېر ښه. هغه به نن شپه ستا د زوی د مېنه غونو په بدل کې ستا سره څملې.>

(۱۶) نو کله چې ماښام حضرت يعقوب د پټيو څخه راغی، ليه د هغه مخې ته ورووتله. هغه ته يې وويل: <ته بايد نن شپه زما سره څملې، ځکه چې د خپل زوی د مېنه غونو په بدل کې مې اخيستی يې.> نو حضرت يعقوب په هغه شپه له ليه سره څملاست.

(۱۷) خدای پاک د ليه دعا قبوله کړه او هغه اميدواره شوه او د هغې څخه د حضرت يعقوب پنځم زوی پيدا شو. (۱۸) ليه وويل: <په دې خاطر چې ما خپله وينځه خپل مېړه ته ورکړه، خدای پاک ماته اجر راکړ.> نو په هغه باندې يې يساکار نوم کېښود. (۱۹) ليه بيا اميدواره شوه او حضرت يعقوب ته يې شپږم زوی وزېږاوه. (۲۰) هغې وويل: <خدای پاک ماته ښه قيمتي سوغات راکړ. اوس به مې مېړه عزت کوي، ځکه چې شپږ زامن مې ورته زېږولي دي.> نو په هغه باندې يې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زبولون نوم کېښود. ۲۱ وروسته له هغه يې لور پيدا شوه او په هغې يې دينه نوم کېښود.

۲۲ بيا خدای پاک راحيل رایاده کړه، د هغې دعا يې قبوله کړه او هغې ته يې اولاد ورکړ. ۲۳
هغه اميدواره شوه او زوی يې وزېږاوه. هغې وويل: <خدای پاک زما رسوايي لېرې کړه.> ۲۴ نو
په هغه باندې يې يوسف نوم کېښود او ويې ويل: <څښتن دې بل زوی راته راکړي.>

## د حضرت يعقوب رمې زياتېږي

۲۵ وروسته له هغې چې راحيل حضرت يوسف وزېږاوه، حضرت يعقوب لابان ته وفرمايل: <ما
رخصت کړه چې بېرته خپل وطن ته لاړ شم. ۲۶ زما ښځې او زما اولادونه چې د هغوی دپاره مې
ستا خدمت کړی دی ماته راکړه چې لاړ شم، ځکه ته پوهېږې چې څومره کار مې درته کړی دی.>

۲۷ مګر لابان هغه ته وويل: <که ته زما څخه خوشاله يې، مهرباني وکړه پاتې شه. زه د فال په
وسيله پوه شوم چې څښتن ستا په خاطر ماته برکت راکړی دی. ۲۸ خپله مزدوري دې ووايه، زه
به يې درکړم.>

۲۹ حضرت يعقوب هغه ته وفرمايل: <ته پوهېږې چې څنګه مې درته کار کړی دی او څنګه مې
ستا رمې او پادې ساتلې دي. ۳۰ زما د راتلو څخه مخکې تا لږ څه درلودل، خو کوم کارونه چې
ما ستا دپاره کړي دي څښتن په هغو کې برکت اچولی دی او ستا شتمني ډېره زياته شوې ده. اوس د
دې وخت رارسېدلی چې د خپلې کورنۍ دپاره يو څه وکړم.>

۳۱ لابان پوښتنه وکړه: <تاته څه درکړم؟>

حضرت يعقوب ځواب ورکړ: <ماته هيڅ شی مه راکوه. که دا کار زما دپاره وکړې زه به ستا د رمو
ساتلو او روزلو ته دوام ورکړم. ۳۲ اجازه راکړه چې نن ستا د ټولو رمو په منځ کې وګرځم او د
مېږو څخه هره يوه خالداره مېږه او هر توربخن وری او د وزو څخه هره خالداره وزه جدا کړم، نو دا
به زما مزدوري وي. ۳۳ کله چې راشې او هغه مزدوري چې ماته يې راکوې وګورې نو په اسانۍ
سره به درته معلومه شي چې زه صادق يم. که چېرې زما سره کومه وزه چې خالداره نه وي يا يو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورى چې توربخن نه وي، نو ته به پوه شې چې هغه غلا شوى دى.>

۳۴ لابان وويل: <زما خوښه ده، لکه څنګه چې تا وويل همداسې دې وي.> ۳۵ په هماغه ورځ لابان ټول خطداره او خالداره وزان او ټولې برګې او خالداره وزې يا هغه وزې چې سپين رنګ يې درلود او ټول توربخن ورى بېل کړل او هغه يې خپلو زامنو ته وسپارل. ۳۶ بيا لابان د خپلې رمې سره د حضرت يعقوب څخه د درې ورځو په فاصله لېرې لاړ او حضرت يعقوب د لابان پاتې رمې ساتلې.

۳۷ حضرت يعقوب د چنار، بادام او سپېدار شنې څانګې راواخيستلې او د هغوى څخه يې پوستکي لېرې کړل او سپينې سپينې ليکې په کې راښکاره شوې. ۳۸ نو هغه دا سپينې شوې څانګې د رمو په مخامخ د هغوى د اوبو په اخوروونو کې کېښودلې، ځکه چې کله به رمې د اوبو څښلو دپاره راتللې نو يو د بل سره به جوړه کېدلې. ۳۹ او د څانګو په مخ کې به يو د بله سره يوځاى کېدلې او خطداره يا برګ او خالداره بچې به يې زېږول.

۴۰ حضرت يعقوب پسونه او مېږې د وزو څخه جدا کړل او د هغو مخونه يې د لابان د رمو خطدارو او توربخنو حيواناتو خواته کړل. نو په دې ډول هغه د خپلو رمو خاوند شو او هغه يې د لابان د رمو څخه جدا کړلې.

۴۱ نو کله به چې قوي ښځينه حيوانات د نرو حيواناتو سره يوځاى کېدل نو حضرت يعقوب به د اوبو په اخوروونو کې د حيواناتو مخې ته هغه څانګې اېښودلې چې د څانګو په منځ کې يو د بله سره يوځاى شي. ۴۲ خو که حيوانات به کمزوري وو نو څانګې به يې هلته نه اېښودلې. نو کمزورې به د لابان او قوي به د حضرت يعقوب شول. ۴۳ په دې ډول حضرت يعقوب ډېر شتمن شو او د ډېرو رمو، وينځو، غلامانو، اوښانو او خرو خاوند شو.

## حضرت يعقوب د لابان څخه تښتي

۳۱ ۱ حضرت يعقوب واورېدل چې د لابان زامنو ويلې دي چې <هرڅه چې زمونږ د پلار



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره وو هغه یعقوب واخیستل او دا ټوله شتمني يې زمونږ د پلار د شتمنۍ څخه په لاس راوړه.>
۲ هغه ولیدل چې د لابان رویه د هغه سره د پخوا په شان دوستانه نه ده. ۳ بیا خدای پاک
حضرت یعقوب ته وفرمایل: <ببرته خپل پلرني وطن او خپلو خپلوانو ته لاړ شه. زه به ستا سره مل
يم.>

۴ نو حضرت یعقوب راحیل او لیې ته خبر ولیږه چې صحرا ته یعني هغه ځای ته راشي چې د
هغه رمې په کې وې. ۵ حضرت یعقوب هغوی ته وفرمایل: <زه وینم چې ستاسو د پلار رویه زما
سره د پخوا په شان دوستانه نه ده، مګر زما د پلار خدای زما سره مل دی. ۶ تاسې دواړه
پوهیږئ چې ما په خپل ټول قوت سره ستاسو د پلار خدمت کړی دی. ۷ سره له دې چې ستاسو
پلار زما سره ټګي کړې ده او لس ځله يې زما مزدوري بدله کړه، مګر خدای پاک هغه پرېنښود چې
ماته زیان راورسوي. ۸ کله چې به لابان وویل: خالداره دې ستا مزدوري وي، نو ټولو رمو به
خالداره بچې زیږول. او چې کله به يې وویل: خطداره دې ستا وي، نو ټولو رمو به خطداره بچې
زیږول. ۹ نو خدای پاک ستاسو د پلار څخه رمې واخیستلې او ماته يې راکړې.

۱۰ د بچیو د زیږولو په موسم کې ما یو ځلې خوب ولیده. سترګې مې پورته کړې او ومې لیدل هغه
وزان چې د وزو سره جوړه کېدل خطداره او خالداره وو. ۱۱ د خدای پاک فرښتې په خوب کې
راته وفرمایل: ای یعقوبه! ما ځواب ورکړ: زه حاضر یم. ۱۲ هغه وفرمایل: سترګې پورته کړه او
وګوره. هغه ټول وزان چې د وزو سره جوړه کیږي ټول خالداره او خطداره دي، ځکه هرڅه چې
لابان تا سره کړي دي هغه مې لیدلي دي. ۱۳ زه هماغه خدای یم چې په بیت ئیل کې تاته
درښکاره شوم. په هغه ځای کې چې تا په هغې تیږې باندې د زیتون تېل واچول او زما دپاره دې
نذر ورکړ. نو اوس دا خاوره پرېږده او هغه وطن ته لاړ شه چې ته په کې پیدا شوی يې.>

۱۴ راحیل او لیه حضرت یعقوب ته په ځواب کې وویل: <مونږ ته د خپل پلار څخه هیڅ شی په
میراث کې راپاتې نه دی. ۱۵ هغه زمونږ سره د پردیو په شان رویه کوي. هغه مونږ خرڅې کړې يو
او هغه پیسې چې زمونږ دپاره هغه ته ورکړل شوې وې ټولې يې خوړلې دي. ۱۶ هغه ټول دولت
چې خدای پاک زمونږ د پلار څخه اخیستی دی هغه زمونږ او زمونږ د اولادونو دی. نو هرڅه چې
خدای پاک درته فرمایلي دي هماغسې وکړه.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ نو حضرت یعقوب خپل اولادونه او خپلې ښځې په اوښانو باندې سپرې کړې. ۱۸ هغه خپل
ټول حیوانات مخکې کړل او هغه څه چې په بین النهرین کې یې ګټلي وو ټول واخیستل ترڅو خپل
پلار حضرت اسحاق ته چې په کنعان کې ؤ لاړ شي. ۱۹ په هغه وخت کې چې لابان د خپلو
پسونو د سکولودلو دپاره تللی ؤ، راحیل د خپل پلار د کورنۍ بتان غلا کړل. ۲۰ حضرت یعقوب
لابان وغولاوه ځکه چې هغه یې په دې باندې خبر نه کړ چې دی د تللو نیت لري. ۲۱ هرڅه چې
هغه درلودل هغه یې واخیستل او وتښتېده. هغوی د فرات د سیند څخه تېر شول او د جلعاد د غرنۍ
سیمې په لور روان شول.

## لابان حضرت یعقوب تعقیبوي

۲۲ په دریمه ورځ لابان ته خبر ورسېد چې حضرت یعقوب تښتېدلی دی. ۲۳ هغه خپل خپلوان
د ځان سره واخیستل او اووه ورځې یې په هغه پسې لاره ووهله او د جلعاد په غرنۍ سیمه کې هغه
ته وررسېد. ۲۴ مګر خدای پاک د شپې په خوب کې لابان ته ښکاره شو او هغه ته یې وفرمایل:
<پام کوه چې یعقوب ته هیڅ ونه وایې. نه ورته ښه ووایې او نه بد.> ۲۵ حضرت یعقوب د جلعاد
په غرنۍ سیمه کې خپلې خېمې ودرولې وې چې لابان وررسېد او لابان هم د خپلو خپلوانو سره په
هغه ځای کې خېمې ودرولې.

۲۶ لابان حضرت یعقوب ته وویل: <څه دې وکړل؟ زه دې وغولولم او زما لورګانې دې د جنګي
بندیانو په شان بوتللې. ۲۷ ولې دې زه وغولولم او په پټه وتښتېدلې؟ ولې دې زه خبر نه کړم چې
تاسو مې په خوشالۍ او په سندرو او د چمبو او رباب په ساز سره رخصت کړې وای. ۲۸ زه دې
پرېنښودم چې خپل لمسیان او لورګانې ښکل کړم او خدای پاماني ورسره وکړم. بې عقله کار دې
وکړ. ۲۹ زه دا توان لرم چې زیان دروروسوم، مګر ستا د پلار خدای تېره شپه ماته وویل چې پام
کوه چې حضرت یعقوب ته هیڅ ونه وایې. نه ورته ښه ووایې او نه بد. ۳۰ اوس ته روان یې ځکه
چې تا دا ارمان درلود چې بېرته د خپل پلار کور ته لاړ شې، نو زما بتان دې ولې غلا کړي دي؟>

۳۱ حضرت یعقوب لابان ته په ځواب کې وفرمایل: <زه ووېرېدم ځکه چې ما فکر وکړ چې
خپلې لورګانې به په زور زما څخه واخلې. ۳۲ خو که د هرچا سره دې خپل بتان پیدا کړل، هغه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دي ووژل شي. زمونږ د خپلوانو په مخکښې وګوره. که چېرې ستا کوم شی زمونږ سره وي، خپل ځان ته يې واخله.> مګر حضرت يعقوب په دې باندې نه پوهېده چې راحيل هغه بتان غلا کړي وو.

۳۳ نو لابان د حضرت يعقوب خېمې ته ننوت او هغه يې ولټوله. بيا د ليه خېمې ته او د دواړو وينځو خېمو ته ننوت او هيڅ يې پيدا نه کړل. بيا هغه د راحيل خېمې ته ننوت. ۳۴ راحيل بتان د اوښ د زين لاندې ايښي وو او ورباندې ناسته وه. لابان ټوله خېمه ولټوله، هيڅ يې ونه موندل. ۳۵ راحيل خپل پلار ته وويل: <پلاره، خفه نه شې. زه ستا په مخکښې نه شم پاڅېدلی ځکه چې په ما باندې مياشتينی ناروغي راغلې ده.> لابان خېمه ولټوله خو بتان يې پيدا نه کړل.

۳۶ حضرت يعقوب په قهر شو او د لابان سره يې شخړه وکړه او د هغه څخه يې پوښتنه وکړه: <ما څه جرم کړی دی؟ او کومه خطا مې کړې ده چې راپسې يې؟ ۳۷ اوس چې تا زما ټول سامان ولټاوه که د خپل کور سامان دې موندلی وي، دلته يې زما د خپلوانو او ستا د خپلوانو په مخ کې کېږده او پرېږده چې هغوی دا پرېکړه وکړي چې زمونږ دواړو څخه کوم يو په حقه دی. ۳۸ شل کاله کيږي چې زه ستا سره وم. ستا مېږو او وزو بچي زيان نه کړل او ستا د رمو څخه مې يو پسه هم نه دی خوړلی. ۳۹ هغه حيوانات چې وحشي ځناورو به داړلي وو، هغه مې تاته نه دي راوړي. د هغوی تاوان مې په خپله ګاللی دی او هغه چې د ورځې يا به د شپې غلا شوي وو، د هغو بيه به دې زما څخه غوښتله. ۴۰ دا زما حال ؤ چې د ورځې په ګرمی او د شپې په يخنۍ کې به ځورېدلم او خوب مې نه شو کولی. ۴۱ په دې ډول زه شل کاله ستا په کور کې وم. څوارلس کاله مې ستا د لورګانو په خاطر ستا خدمت وکړ او شپږ کاله مې ستا د رمو دپاره. لس ځلې دې زما مزدوري بدله کړه. ۴۲ که چېرې زما د نيکونو خدای، د حضرت ابراهيم او د حضرت اسحاق خدای زما سره مل نه وای، نو زه به دې په يقين سره تش لاس لېږلی وای. خو خدای پاک زما سختی او د لاسونو خواري وليدله او تېره شپه يې ملامته کړې.>

## د حضرت يعقوب او لابان ترمنځ تړون

۴۳ لابان حضرت يعقوب ته ځواب ورکړ: <دا ښځې زما لورګانې دي. د هغوی اولادونه زما اولادونه دي او دا رمې زما رمې دي او دا هرڅه چې دلته وينې زما دي. خو زه ستا څخه خپلې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لورګاني او د هغوی اولادونه نه شم اخیستلی. ۴۴ زه تیار یم چې ستا سره یو تړون وکړم. راځئ
چې د تیږو یوه ډېری جوړه کړو چې مونږ ته به زمونږ تړون رایادوي.>

۴۵ نو حضرت یعقوب تیږه راواخیستله او هغه یې د یادګار په توګه ودروله. ۴۶ هغه خپلو
خپلوانو ته وفرمایل چې تیږې راټولې کړي. نو هغوی تیږې راواخیستې او ډېری یې کړې. بیا حضرت
یعقوب او لابان د هغې ډېری په څنګ کې سره ډوډۍ وخوړله. ۴۷ لابان په هغه باندې یجر
سهدوتا نوم کېښود. مګر حضرت یعقوب هغه د جلعید په نوم یاد کړ. ۴۸ لابان وویل: <دا د تیږو
ډېری به زمونږ دواړو دپاره یو یادګار وي.> په دې خاطر هغه د جلعید په نوم یاده شوه. ۴۹
همدارنګه هغه د مصفه په نوم هم یاده شوه ځکه چې لابان وویل: <کله چې مونږ یو د بل څخه جدا
شو، نو څښتن دې زمونږ دواړو ناظر اوسي. ۵۰ که ته زما د لورګانو سره بده رویه وکړې او یا
نورې ښځې وکړې، حتیٰ که زه له دې څخه خبر هم نه شم یاد ساته چې خدای پاک زما او ستا
ترمنځ شاهد دی.>

۵۱ همدارنګه لابان حضرت یعقوب ته وویل: <دا هغه ډېری او هغه یادګاري تیږه ده چې زما او
ستا ترمنځ مې ودرولې ده. ۵۲ دا ډېری او دا تیږه دواړه زمونږ دپاره د یادګار په توګه دي. زه به د
دې ډېری څخه ستا خواته نه درتېرېږم چې حمله دربانديې وکړم او ته به د دې ډېری او د دې تیږې
څخه نه راتېرېږې چې حمله راباندې وکړې. ۵۳ د حضرت ابراهیم او د ناحور خدای به زمونږ
ترمنځ قضاوت کوي.> بیا حضرت یعقوب د هغه خدای په نوم چې د هغه پلار حضرت اسحاق ورته
عبادت کاوه، سخت قسم وخوړ چې په دې وعدې باندې به ودرېږي. ۵۴ حضرت یعقوب هلته په
هغې غرنۍ سیمه کې قرباني وکړه او خپل خپلوان یې ډوډۍ خوړلو ته راوبلل. د ډوډۍ خوړلو څخه
وروسته هغوی هلته شپه تېره کړه. ۵۵ لابان سهار وختي پاڅېد، خپل لمسیان او لورګانې یې ښکل
کړل، خدای پاماني یې ورسره وکړه او بېرته خپل کور ته روان شو.

## حضرت یعقوب د عیسو سره د مخامخ کېدو دپاره تیاری نیسي

**۳۲** ۱ حضرت یعقوب هم په خپله مخه لاړ او د خدای پاک فرښتې ورسره مخامخ شوې. ۲



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کله چې حضرت یعقوب هغوی ولیدلې ویې فرمایل: <دا د خدای پاک کمپ دی.> نو د هغه ځای
نوم یې محنایم کېښود.

(۳) حضرت یعقوب د ځان څخه مخکې خپل ورور عیسو ته د ادوم خاورې ته استازي ولېږل.
(۴) هغوی ته یې وفرمایل: <زما بادار عیسو ته ووایئ چې ستا غلام یعقوب داسې وایي: زه د لابان
سره اوسېدم او تر اوسه پورې هلته پاتې وم. (۵) زه د پادو، خرو، پسونو، وزو، غلامانو او وینځو
خاوند شوی یم. اوس مې خپل بادار ته دغه پیغام ولېږه چې په ما باندې مهرباني وکړې.>

(۶) کله چې استازي بېرته حضرت یعقوب ته راستانه شول، هغوی وویل: <ستا ورور عیسو ته
لاړو او هغه د څلورسوه نفرو سره ستا د لیدلو دپاره راروان دی.> (۷) نو حضرت یعقوب ډېر
ووېرېد او پرېشانه شو. هغه خپل خلک او رمې، پادې او اوښان په دوه ډلو باندې ووېشل. (۸) هغه
فکر وکړ: <که چېرې عیسو په اولنۍ ډلې باندې حمله وکړي، نو بله ډله به وکولی شي چې وتښتي.>

(۹) بیا حضرت یعقوب دعا وکړه: <ای زما د پلار حضرت ابراهیم خدایه او زما د پلار حضرت
اسحاق خدایه، ای څښتنه چې ماته دې وفرمایل: خپل وطن او خپلو خپلوانو ته بېرته لاړ شه، زه به
تا خوشبخته کړم. (۱۰) زه د هغو ټولو مهربانیو او وفادارۍ وړ نه یم چې د خپل غلام سره دې کړې
دي. کله چې زه د اردن د سیند څخه تېرېدم، نو زما سره یوازې یوه امسا وه. او اوس زه د دوو لویو
ډلو خاوند یم. (۱۱) اوس تاته سوال کوم چې ما د خپل ورور عیسو له لاسه وژغوره، ځکه زه
وېرېږم چې هغه به راشي او په مونږ به حمله وکړي او مونږ به له ښځو او ماشومانو سره له منځه
یوسي. (۱۲) بلکه هغه وعده رایاده کړه چې تا زما سره کړې وه چې ما سره به ښه کوې او زما
اولاده به د دریاب د شګو په شان داسې زیاتوې چې ونه شمېرل شي.>

(۱۳) هغه هلته شپه تېره کړه او هرڅه چې یې درلودل د هغو څخه یې د خپل ورور عیسو دپاره
سوغات انتخاب کړ: (۱۴) دوه سوه وزې او شل وزان، دوه سوه مېږې او شل پسونه، (۱۵) دېرش
اوښې د هغو د بچیو سره، څلوېښت غواګانې او لس غوایان، شل خرې او لس خره. (۱۶) هغوی یې
په دوه ډلو ووېشل او خپلو غلامانو ته یې وسپارل او هغوی ته یې وفرمایل: <زما څخه مخکې ځئ
او د ډلو ترمنځ فاصله پرېږدئ.> (۱۷) حضرت یعقوب هغه غلام ته چې مخکې روان ؤ، حکم وکړ:



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

<ثه وخت چي زما ورور عيسو ستا سره مخامخ شي او پوښتنه وکړي چي ستاسو بادار څوک دی؟ تاسو چېرې ځئ؟ او ستاسو په مخکي دا حيوانات د چا دي؟ ۱۸ بايد ووايي: دا ستا د غلام يعقوب دي او هغه يي د سوغات په توګه خپل بادار عيسو دپاره لېږلي دي او په خپله يعقوب هم زمونږ پسي راروان دی.> ۱۹ همدارنګه هغه دوهم، دريم او ټولو پادوانانو ته امر وکړ: <ثه وخت چي د عيسو سره مخامخ شئ، نو همداسي به ورته وايئ. ۲۰ خامخا ووايئ چي ستا غلام يعقوب زمونږ پسي راروان دی.> ځکه هغه فکر کاوه چي د دي سوغاتونو په وسيله به چي مخکي مي لېږلي دي د هغه قهر سوړ کړم او چي کله د هغه سره مخامخ شم کېدای شي چي هغه ما وبخښي. ۲۱ نو د حضرت يعقوب سوغاتونه له هغه څخه مخکي لاړل خو هغه شپه په کمپ کي تېره کړه.

## حضرت يعقوب په فنيئيل کي غېږه نيسي

۲۲ په هماغه شپه حضرت يعقوب پاڅېد او خپلي دوه ښځي، دوه وينځي او خپل يوولس زامن يي واخيستل او د يبوق د سيند په ګودر باندي پوري وتل. ۲۳ وروسته له دي چي هغوی يي د سيند څخه پوري ويستل، هغه خپل مال او شتمني هم ولېږله. ۲۴ نو حضرت يعقوب يوازي پاتي شو او يو نفر راغی او د هغه سره يي د سهار تر رڼايي پوري غېږه ونيوله. ۲۵ نو کله چي هغه نفر وليدل چي په حضرت يعقوب باندي بری نه شي موندلی، نو د حضرت يعقوب په ورون باندي يي ګوزار وکړ او د هغه ورون له بنده وخوت. ۲۶ نو بيا هغه سړي وويل: <ما پرېږده چي لاړ شم ځکه چي لمر په راختلو دی.>

ليکن حضرت يعقوب ځواب ورکړ: <ترڅو چي ماته برکت رانه کړي تا نه پرېږدم چي لاړ شي.>

۲۷ هغه نفر د هغه څخه پوښتنه وکړه: <ستا نوم ثه دی؟>

هغه ځواب ورکړ: <يعقوب.>

۲۸ هغه نفر وويل: <له دي وروسته به نور ستا نوم يعقوب نه وي، بلکه اسراييل به وي، ځکه چي تا د خدای او انسان سره غېږه ونيوله او بريالی شوي.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۹ حضرت يعقوب وفرمايل: <خپل نوم دې ماته ووايه.>

مګر هغه ځواب ورکړ: <ولې زما د نوم پوښتنه کوې؟> نو په هغه ځای کې يې حضرت يعقوب ته برکت ورکړ.

۳۰ نو حضرت يعقوب وفرمايل: <خدای پاک مې مخامخ وليد او لا تر اوسه هم ژوندی پاتې يم.> نو حضرت يعقوب هغه ځای د فنيئيل په نوم ياد کړ. ۳۱ د لمرخاته په وخت کې هغه د فنيئيل څخه تېر شو او د خپل ورانه په سبب يې ګوډ، ګوډ تګ کاوه. ۳۲ په همدې خاطر اسراييليان تر نن ورځې پورې هغه پله چې د ورون د بنده پورې نښتې ده نه خوري، ځکه چې د حضرت يعقوب د ورانه همدې برخې ګوزار خوړلی ؤ.

## حضرت يعقوب د عيسو سره مخامخ کيږي

**۳۳** ۱ حضرت يعقوب وليدل چې عيسو د خپلو څلورسوه نفرو سره راروان دی. نو هغه خپل اولادونه په راحيل او ليه او دوه وينځو باندې تقسيم کړل. ۲ وينځې او د هغوی اولادونه يې مخکې کړل. ليه او د هغې اولادونه يې ورپسې کړل او راحيل او حضرت يوسف يې شاته کړل. ۳ په خپله حضرت يعقوب د هغوی څخه مخکې روان ؤ. څنګه چې خپل ورور ته ورنږدې شو، اووه ځله يې ورته سجده وکړه. ۴ مګر عيسو په منډه د حضرت يعقوب هرکلي ته راغی او هغه يې په غېږ کې ونيوه. خپل لاسونه يې د هغه د غاړې څخه راتاو کړل او ښکل يې کړ او دواړو وژړل. ۵ بيا عيسو شاوخوا وکتل او ښځې او ماشومان يې وليدل. هغه پوښتنه وکړه: <دا درسره څوک دي؟>

حضرت يعقوب ځواب ورکړ: <دا زما اولادونه دي چې خدای پاک په خپل فضل ماته راکړي دي.>
۶ بيا وينځې د خپلو اولادونو سره راغلې او د احترام په خاطر يې خپل سرونه ټيټ کړل. ۷ بيا ليه او د هغې اولادونه راغلل او د ټولو څخه وروسته حضرت يوسف او راحيل راغلل او ټولو خپل سرونه د احترام په خاطر ټيټ کړل.

۸ عيسو پوښتنه وکړه: <دا ټول حيوانات چې ماته دې رالېږلي دي د هغو څخه ستا مقصد څه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی؟>

حضرت یعقوب ځواب ورکړ: <ای باداره، دا د دې دپاره دي چې تاسو راباندې مهرباني وکړئ.>

۹ مګر عیسو وویل: <ای زما وروره، زما سره هرڅه ډېر دي. تا سره چې هرڅه دي خپل ځان
ته يې وساته.>

۱۰ حضرت یعقوب ځواب ورکړ: <نه! که په ما باندې مهربانه شوی يې نو زما سوغات قبول کړه.
ځکه چې ستا د مخ لیدل زما دپاره لکه د خدای پاک د مخ د لیدلو په شان دي، په دې خاطر چې زه
دې په مهرباني سره قبول کړم. ۱۱ نو د مهرباني له مخې دا سوغاتونه چې ستا دپاره مې راوړي دي
قبول کړه، ځکه چې خدای پاک په ما باندې فضل کړی دی او هرڅه ته چې زه اړتیا لرم هغه ټول يې
ماته راکړي دي.> حضرت یعقوب دومره ټینګار وکړ تر هغې چې عیسو هغه قبول کړل.

۱۲ عیسو وویل: <راځئ چې لاړ شو. زه به تاسو بدرګه کړم.>

۱۳ مګر حضرت یعقوب هغه ته وفرمایل: <زما بادار پوهیږي چې اولادونه مې کمزوري دي او زه
باید په دې مېږو او غواګانو باندې چې لنګې دي پام وکړم. که چېرې هغه په یوه ورځ کې سختې
وزغلولی شي، نو ټول حیوانات به مړه شي. ۱۴ نو زما بادار دې زما څخه مخکې لاړ شي او زه به
ورو، ورو د اولادونو او حیواناتو په قدم درځم ترڅو د خپل بادار سره په ادوم کې یوځای شم.>

۱۵ عیسو وویل: <نو بیا اجازه راکړه چې د خپلو نفرو څخه یو څو تنه ستا سره پرېږدم.>

حضرت یعقوب ځواب ورکړ: <د دې حاجت نشته، ځکه زه یوازې دا غواړم چې خپل بادار راباندې
مهرباني وکړي.> ۱۶ په هماغه ورځ عیسو په خپله لاره روان شو او بېرته ادوم ته ستون شو. ۱۷
مګر حضرت یعقوب سوکوت ته لاړ او هلته يې د خپل ځان دپاره کور جوړ کړ او د خپلو حیواناتو
دپاره يې څېرې جوړې کړې. نو ځکه هغه ځای د سوکوت په نوم یاد کړای شو.

۱۸ نو حضرت یعقوب د بین النهرین څخه په سلامتی سره د شکیم ښار ته چې په کنعان کې دی



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راغی او ښار ته نژدې يې په يو ځای کې خېمې ودرولې. (١٩) هغه ځمکه چې په هغې کې يې خېمې
ودرولې وې، هغه يې د شکيم د پلار حمور د اولادونو څخه د سپينو زرو په سلو سکو واخيستله.
(٢٠) هلته هغه د قربانی ځای جوړ کړ او هغه يې د ايل الوهي اسراييل په نوم ياد کړ.

## د دينه بې عزته کېدل

**٣۴** (١) يوه ورځ د حضرت يعقوب او ليه لور دينه د ځينو کنعاني ښځو د ليدلو دپاره لاړه. (٢)
حوي حمور د هغې سيمې مشر ؤ. د هغه زوی شکيم دينه وليدله، هغه يې راونيوله او بې عزته يې
کړه. (٣) د هغه زړه د حضرت يعقوب لور دينه يووړ او په هغې باندې مين شو. هغه هڅه کوله چې
د هغې زړه لاس ته راوړي. (۴) شکيم خپل پلار حمور ته وويل: <دا نجلی ماته وکړه.>

(۵) حضرت يعقوب خبر شو چې د هغه لور دينه بې عزته شوې ده. مګر څرنګه چې د هغه زامن د
خپلو پادو سره په صحرا کې وو، نو د هغوی تر راتللو پورې يې هيڅ ونه کړل. (۶) د شکيم پلار
حمور راغی چې د حضرت يعقوب سره خبرې وکړي. (٧) د حضرت يعقوب زامن له صحرا څخه
راغلل او څنګه چې هغوی واورېدل چې څه پېښه شوې ده نو ډېر خواشيني او سخت په قهر شول
ځکه چې شکيم داسې کار کړی ؤ چې د کولو نه ؤ. هغه د حضرت يعقوب د لور په بې عزته کولو
سره د اسراييلو د قوم سپکاوی کړی ؤ. (٨) حمور هغه ته وويل: <زما زوی شکيم ستا په لور
باندې مين شوی دی. اجازه ورکړئ چې د هغې سره واده وکړي. (٩) زمونږ سره خپلوي وکړئ.
خپلې لورګانې مونږ ته راکړئ او زمونږ لورګانې خپلو ځانونو ته وکړئ. (١٠) تاسو کولی شئ چې
دلته په دې وطن کې زمونږ سره واوسېږئ او په هرځای کې چې وغواړئ هلته اوسېدلی شئ. ازاد
کاروبار په کې وکړئ او د جايداد خاوندان شئ.>

(١١) بيا شکيم د دينه پلار او ورونو ته وويل: <په ما باندې دا مهرباني وکړئ او تاسو چې هرڅه
وغواړئ زه به يې درکړم. (١٢) ماته ووايئ چې کوم سوغاتونه تاسو غواړئ او هرڅومره زيات مهر
چې غواړئ هم هغه شان يې وټاکئ او تاسو چې هرڅه زما څخه وغواړئ زه به يې درکړم. يوازې دا
اجازه راکړئ چې د هغې سره واده وکړم.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(١٣) د حضرت يعقوب زامنو د شکيم او د هغه د پلار حمور په ځواب کې په مکر سره خبرې وکړې، ځکه چې د هغوی خور دينه يې بې عزته کړې وه. (١٤) هغوی ته يې وويل: <مونږ داسي کار نه شو کولی. مونږ نه شو کولی خپله خور هغه چاته ورکړو چې سنت شوی نه وي، ځکه چې دا زمونږ دپاره شرم دی. (١٥) مونږ په يو شرط ستاسو سره جوړه کوو چې ستاسو ټول نارينه دې زمونږ په شان سنت شي. (١٦) هغه وخت به خپلې لورګانې تاسو ته درکړو او ستاسو لورګانې به خپلو ځانونو ته وکړو او ستاسو سره به يوځای واوسيږو او يو قوم به شو. (١٧) مګر که چېرې زمونږ خبره قبوله نه کړئ او سنت نه شئ، مونږ به خپله خور واخلو او لاړ به شو.>

(١٨) دا شرط حمور او د هغه زوی شکيم ته مناسب ښکاره شو. (١٩) هغه ځوان د دې کار په سرته رسولو کې ځنډ ونه کړ ځکه چې هغه د حضرت يعقوب په لور باندې مين ؤ. هغه د خپل پلار په کورنۍ کې ترټولو عزتمن سړی ؤ.

(٢٠) حمور او د هغه زوی شکيم د ښار دروازې ته چې د غونډې ځای ؤ لاړل او د ښار د خلکو سره يې خبرې وکړې. (٢١) هغوی وويل: <دا خلک زمونږ دوستان دي. پرېږدئ چې زمونږ په خاوره کې واوسيږي او کاروبار په کې وکړي. د هغوی دپاره ځمکه پراخه ده. مونږ کولی شو چې د دوی د لورګانو سره ودونه وکړو او دوی کولی شي چې زمونږ د لورګانو سره ودونه وکړي. (٢٢) نو هغوی زمونږ سره يوازې په دې شرط جوړه کوي چې زمونږ سره واوسيږي او راسره يو قوم شي، چې زمونږ ټول نارينه د دوی په شان سنت شي. (٢٣) آيا د هغوی ټولې رمې او پادې او شتمني او د هغوی نور شيان به زمونږ نه شي؟ نو راځئ چې د دوی سره موافقه وکړو چې زمونږ سره واوسيږي.> (٢٤) ټولو ښاريانو د حمور او د هغه د زوی شکيم وړانديز قبول کړ او د ښار ټول نارينه سنت شول.

(٢٥) په دريمه ورځ چې ټول خلک لا د سنت کېدلو له امله په درد کې وو، د حضرت يعقوب دوه زامنو يعنې د دينه ورونو شمعون او لاوي خپلې تورې واخيستلې او بې له دې چې څوک ورباندې پوه شي ښار ته ننوتل او ټول نارينه يې ووژل، (٢٦) چې په هغو کې حمور او د هغه زوی شکيم هم شامل وو. هغوی دينه د شکيم د کور څخه واخيستله او لاړل. (٢٧) د حضرت يعقوب نور زامن په مړو باندې راوختل او ښار يې لوټ کړ، ځکه چې د هغوی خور هلته بې عزته شوې وه. (٢٨) د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی رمې، پادې او خره او هرڅه چې په ښار او پټیو کې وو، هغه يې واخيستل. ٢٩ د هغوی ټوله
شتمني يې واخيستله او اولادونه او ښځې يې اسيران کړل او هرڅه چې په کورونو کې وو هغه يې
لوټ کړل.

٣٠ حضرت يعقوب شمعون او لاوي ته وفرمايل: <تاسو زه د تکليف سره مخامخ کړم. اوس به
کنعانيان، فرزيان او همدارنګه د دې خاورې نور اوسېدونکي زما څخه کرکه کوي. زه ډېر نفر نه لرم
او که چېرې هغوی زما په ضد سره راټول شي او په ما باندې حمله وکړي، زمونږ ټوله کورنۍ به له
منځه لاړه شي.>

٣١ مګر هغوی ځواب ورکړ: <آيا دا لازمه وه چې هغه دې زمونږ د خور سره د يوې فاحشې په
شان رويه وکړي؟>

## حضرت يعقوب بيت ئيل ته راستنېږي

٣٥ ١ خدای پاک حضرت يعقوب ته وفرمايل: <پاڅه او بيت ئيل ته لاړ شه او هلته اوسېږه.
ما يعني خپل خدای ته چې تاته په هغه وخت کې چې د خپل ورور عيسو څخه تښتېدلې ښکاره شو،
د قربانۍ ځای جوړ کړه.>

٢ نو حضرت يعقوب خپلې کورنۍ او هغو ټولو خلکو ته چې د هغه سره وو وفرمايل: <هغه بتان
چې ستاسو سره دي هغه لېرې وغورځوئ. خپل ځانونه پاک کړئ او پاک کالي واغوندئ. ٣
راځئ چې بيت ئيل ته لاړ شو او هلته د هغه خدای دپاره د قربانۍ ځای جوړ کړو چې زما سره يې د
سختۍ په وخت کې مرسته کړې وه او هرچېرته چې زه تللی يم زما سره مل ؤ.> ٤ نو هغوی
ټول بتان او همدارنګه هغه غوږوالۍ چې د هغوی په غوږونو کې وې حضرت يعقوب ته ورکړې او
حضرت يعقوب هغه په شکيم کې د خېرې د ونې لاندې ښخ کړل.

٥ هغوی روان شول او په شاوخوا ښارونو باندې د خدای پاک وېره راغله. نو ځکه هيچا هغوی
تعقيب نه کړل. ٦ حضرت يعقوب د خپلو ټولو خلکو سره لوز ته چې بيت ئيل دی او د کنعان په



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خاوره کې دی راغی. ۷ هلته هغه د قربانۍ ځای جوړ کړ او هغه ځای يې د بيت ئيل د خدای په
نوم ياد کړ، ځکه په هغه ځای کې چې کله حضرت يعقوب د خپل ورور عيسو څخه تښتېده، خدای
پاک خپل ځان هغه ته ښکاره کړی ؤ. ۸ د ربکا دايي دبوره مړه شوه او د بيت ئيل څخه ښکته د
څېړی د ونې لاندې يې ښخه کړه. نو هغه د ژړا د څېړی د ونې په نوم ياده شوه.

۹ کله چې حضرت يعقوب د بين النهرين څخه بېرته راستون شو، نو خدای پاک يو ځل بيا هغه ته
ښکاره شو او برکت يې ورته ورکړ. ۱۰ خدای پاک هغه ته وفرمايل: <ستا نوم يعقوب دی. مگر له
دې وروسته دې ستا نوم يعقوب نه وي، بلکه ستا نوم دې اسراييل وي.> نو د هغه نوم يې اسراييل
کېښود. ۱۱ خدای پاک هغه ته وفرمايل: <زه مطلق قادر خدای يم، د زياتو اولادونو خاوند شې.
ستا څخه به قومونه پيدا شي او ستا د نسل څخه به پادشاهان پيدا شي. ۱۲ هغه ځمکه چې ابراهيم
او اسحاق ته مې ورکړې ده تاته او ستا څخه وروسته به يې ستا اولادې ته ورکړم.> ۱۳ نو خدای
پاک له هغه ځای څخه چې د هغه سره يې خبرې وکړې پورته وخوت. ۱۴ حضرت يعقوب په هغه
ځای کې چې خدای پاک ورسره خبرې کړې وې يوه يادگاري تيږه ودروله او په هغې باندې يې د
څښلو نذرانه او د زيتون تېل واچول. ۱۵ حضرت يعقوب د هغه ځای نوم چې هلته خدای پاک
ورسره خبرې کړې وې، بيت ئيل کېښود.

## د راحيل مړينه

۱۶ نو بيا هغوی د بيت ئيل څخه کډه وکړه. افراتې ته يو څه فاصله پاتې وه چې د راحيل د ماشوم
د زېږولو وخت راورسېد او د هغې تکليف زيات شو. ۱۷ څرنگه چې د ماشوم د زېږولو په وخت
کې هغه په ډېر سخت تکليف کې وه، نو د هغې دايي ورته وويل: <راحيله، مه وېرېږه دا دې بل زوی
دی.> ۱۸ مگر هغه د مړينې په حال کې وه او د ساه ورکولو په وخت کې يې د هغه نوم بن اوني
وباله.

۱۹ نو راحيل مړه شوه او هغه يې د افراتې لارې ته نژدې چې اوس د بيت لحم په نوم يادېږي
ښخه کړه. ۲۰ حضرت يعقوب د هغې په قبر باندې يادگاري تيږه ودروله او تر نن ورځې پورې هغه
د راحيل د قبر نښه ده. ۲۱ نو حضرت يعقوب بيا کډه وکړه او د عيدر د برج بلې خواته يې خپلې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خېمې ودرولې.

## د حضرت يعقوب زامن

(اول تواريخ ۲: ۱ – ۲)

(۲۲) هغه وخت چې حضرت يعقوب په هغې سيمه کې اوسېده، روبين لاړ او د خپل پلار د وينځې بلهې سره يې زنا وکړه او حضرت يعقوب د دې څخه خبر شو.

حضرت يعقوب دولس زامن درلودل. (۲۳) د ليه زامن: روبين د حضرت يعقوب مشر زوی، شمعون، لاوي، يهودا، يساکار او زبولون. (۲۴) د راحيل زامن: حضرت يوسف او بنيامين. (۲۵) د راحيل د وينځې بلهه زامن: دان او نفتالي. (۲۶) د ليه د وينځې زلفه زامن: جاد او اشير. دا د حضرت يعقوب زامن وو چې په بين النهرين کې زېږېدلي وو.

## د حضرت اسحاق وفات کېدل

(۲۷) حضرت يعقوب خپل پلار حضرت اسحاق ته چې قريه اربع (حبرون) ته نژدې په ممرې کې ؤ يعنې هغه ځای ته چې حضرت ابراهيم او حضرت اسحاق په کې اوسېدل راغی. (۲۸) حضرت اسحاق يوسلو اتيا کاله ژوند وکړ. (۲۹) هغه په پاخه عمر کې وفات شو او د خپلو نيکونو سره يوځای شو. د هغه زامنو عيسو او حضرت يعقوب هغه ښخ کړ.

## د عيسو اولاده

(اول تواريخ ۱: ۳۴ – ۳۷)

**۳۶** (۱) دا د عيسو اولاده ده (عيسو د ادوم په نوم هم يادېده.) (۲) عيسو د کنعاني ښځو سره ودونه وکړل: عاده د حيتي ايلون لور، اهوليبامه چې د عنا لور او د حوي صبعون لمسی وه (۳) او بسمه چې د حضرت اسماعيل لور او د نبايوت خور وه. (۴) عاده اليفاز او بسمې رعوئيل وزېږاوه. (۵) اهوليبامه يعوش، يعلام او قورح وزېږول. دا د عيسو زامن وو چې په کنعان کې زېږېدلي وو.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ عیسو خپلي ښځې، زامن، لورګاني او د خپلې کورنۍ ټول خلک او همدارنګه خپلې ټولې رمې او پادې او خپله ټوله شتمني چې په کنعان کې يې لاس ته راوړې وه واخيستل او د خپل ورور حضرت يعقوب څخه لرې څه لېرې يې بلې سيمې ته کډه وکړه. ۷ هغه لاړ ځکه هغه ځمکه چې حضرت يعقوب او هغه په کې اوسېدل دومره پراخه نه وه چې دواړه سره يوځای واوسيږي، په دې خاطر چې هغوی زياتې رمې او پادې درلودلې. ۸ نو عیسو د ادوم په غرنۍ سيمه کې اوسېده.

۹ دا د ادوم په غرنۍ سيمه کې د ادوميانو د نيکه عیسو اولاده ده. ۱۰ د عیسو د زامنو نومونه دا دي: اليفاز د عیسو د ښځې عاده زوی او رعوئيل د عیسو د ښځې بسمې زوی. ۱۱ د اليفاز زامن: تيمان، اومار، صفو، جعتام او قناز. ۱۲ تمناع د عیسو د زوی اليفاز وينځه وه او د هغې څخه د هغه زوی عماليق پيدا شو. دا د عیسو د ښځې عادې لمسيان وو. ۱۳ د رعوئيل زامن: نحت، زارح، شمه او مزه. دا د عیسو د ښځې بسمې لمسيان وو.

۱۴ اهوليبامه د عنا لور او د صبعون لمسۍ وه چې د هغې څخه د عیسو زامن يعوش، يعلام او قورح پيدا شول.

۱۵ د عیسو په اولادې کې دغه قبيلوي مشران وو: د عیسو د مشر زوی اليفاز زامن: تيمان، اومار، صفو، قناز، ۱۶ قورح، جعتام او عماليق. دا په ادوم کې هغه قبيلوي مشران وو چې د اليفاز د اولادې څخه دي او دوی د عادې لمسيان وو.

۱۷ د عیسو د زوی رعوئيل زامن: نحت، زارح، شمه او مزه. دا په ادوم کې هغه قبيلوي مشران وو چې د رعوئيل د اولادې څخه دي. دا د عیسو د ښځې بسمې لمسيان وو.

۱۸ د عیسو د ښځې اهوليبامه زامن: يعوش، يعلام او قورح. دا هغه قبيلوي مشران وو چې د عنا د لور يعنې د عیسو د ښځې اهوليبامه د اولادې څخه دي. ۱۹ دا ټولې قبيلې د عیسو د اولادې څخه وې.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د سعير اولاده

(اول تواريخ ۱: ۳۸ – ۴۲)

۲۰ دا د سعير حوري زامن وو چي په هغې سيمه کې اوسېدل: لوطان، شوبال، صبعون، عنا، ۲۱
ديشون، ايصر او ديشان. دا په ادوم کې د سعير زامن او د حوريانو مشران وو.

۲۲ د لوطان زامن: حوري او هومام. (تمناع د لوطان خور وه.)

۲۳ د شوبال زامن: علوان، مناحت، عيبال، شفو او اونام.

۲۴ د صبعون زامن: ايه او عنا. (دا هماغه عنا دی، کله چې هغه د خپل پلار صبعون خره څرول، نو
په دښته کې يې د تودو اوبو چينې ومونډلې.) ۲۵ د عنا اولادونه: ديشون او اهوليبامه د عنا لور.
۲۶ د ديشون زامن: حمدان، اشبان، يتران او کران.

۲۷ د ايصر زامن: بلهان، زعوان او عقان. ۲۸ د ديشان زامن: عوص او اران.

۲۹ دا د حوريانو مشران وو: لوطان، شوبال، صبعون، عنا، ۳۰ ديشون، ايصر او ديشان. دا د
حوريانو قبيلې وې چې د ادوم په خاوره کې اوسېدلې.

## د ادوم پادشاهان

(اول تواريخ ۱: ۴۳ – ۵۴)

۳۱-۳۹ له دې څخه مخکې چا په اسراييلو باندې پادشاهي نه وه کړې چې دغو پادشاهانو د ادوم
په هېواد باندې پادشاهي وکړه:

بالع د بعور زوی چې د دينهابه ښخه ؤ.
يوباب د زارح زوی چې د بصرې ښخه ؤ.
حوشام چې د تيمان د هېواد ښخه ؤ.
حداد د بداد زوی چې د عويت ښخه ؤ (هغه مديانيانو ته د موآب په خاوره کې په جګړه کې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ماتي ورکړه.)

سمله چې د مسريقه ښخه ؤ.

شائول چې د رحوبوت د ښار ښخه ؤ او دا ښار د سيند په غاړه پروت دی.

بعل حانان چې د عکبور زوی ؤ.

حداد چې د فاعو ښخه ؤ. (د هغه د ښځې نوم مهيطبئيل ؤ چې د مطرد لور وه او د ميذهب لمسی وه.)

(۴۰)-(۴۳) دا د هغو قبيلوي مشرانو نومونه دي چې د عيسو د اولادې ښخه دي: تمناع، علوه، يتيت، اهوليبامه، ايله، فينون، قناز، تيمان، مبصار، مجديئيل او عيرام. هغه سيمه چې دا هره قبيله په کې اوسېدله، د هماغې قبيلې په نوم يادېدله.

## د حضرت يوسف خوبونه

**۳۷** (۱) حضرت يعقوب په کنعان کې په هغه ځای کې ژوند کاوه چېرته چې د هغه پلار اوسېدلی ؤ. (۲) دا د حضرت يعقوب د کورنی قصه ده.

حضرت يوسف اوولس کلن ځوان ؤ او د خپلو ناسکه ورونو سره يې چې د بلهې او زلفې زامن وو رمې ساتلې. حضرت يوسف به خپل پلار د خپلو ورونو د خرابو کارونو ښخه خبراوه.

(۳) حضرت يعقوب د حضرت يوسف سره د خپلو نورو ټولو زامنو ښخه زياته مينه کوله ځکه چې هغه ورته په زوړوالي کې پيدا شوی ؤ. د هغه دپاره يې ښکلې چپنه جوړه کړه چې اوږده لستوڼي يې درلودل. (۴) کله چې د هغه ورونه په دې پوه شول چې د هغوی پلار د حضرت يوسف سره د هغوی ښخه زياته مينه کوي، نو د حضرت يوسف ښخه يې ډېره کرکه کوله او په نرمه ژبه يې ورسره خبرې نه کولې.

(۵) يوه شپه حضرت يوسف خوب وليد او هغه يې خپلو ورونو ته بيان کړ، نو د هغوی کينه د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حضرت یوسف سره نوره هم زیاته شوه. ٦ هغوی ته يې وفرمایل: <ما چي کوم خوب لیدلی دی
هغه ته غوږ ونیسئ. ٧ مونږ په پټي کي د غلو دانو ګېډی تړلي او ناڅاپه زما ګېډی پورته شوه او
نېغه ودرېدله او ستاسو ګېډی زما د ګېډی په شاوخوا باندي راټولي شوې او هغې ته يې سجده
وکړه.>

٨ د هغه ورونو پوښتنه وکړه: <آیا ته غواړې چي پادشاه شې او په مونږ باندې حکومت
وکړې؟> نو د حضرت یوسف د خوبونو په سبب او د هغو شیانو له کبله چي د هغوی په باره کي يې
وفرمایل د هغه د ورونو کینه نوره هم زیاته شوه.

٩ بیا حضرت یوسف بل خوب ولیده او خپلو ورونو ته يې بیان کړ: <ما بل خوب ولیده چي په
هغه کي لمر، سپوږمی او یوولس ستورو ماته سجده کوله.>

١٠ هغه دا خوب خپل پلار ته هم بیان کړ. د هغه پلار هغه وراټه او ويې فرمایل: <دا څه قسم
خوب دی چي تا لیدلی دی؟ آیا په رښتیا سره به زه، ستا مور او ستا ورونه تاته راځو او سجده به
درته کوو؟> ١١ د حضرت یوسف ورونو د هغه سره کینه راواخیستله، مګر د هغه پلار دا موضوع
په خپل ذهن کي وساتله.

## حضرت یوسف د خپلو ورونو له خوا خرڅیږي

١٢ یوه ورځ د حضرت یوسف ورونه د رمو د څرولو دپاره شکیم ته لاړل. ١٣ حضرت یعقوب
یوسف ته وفرمایل: <ستا ورونه شکیم ته نژدې رمې څروي. زه غواړم چي تا هغوی ته ورولېږم.>

هغه ځواب ورکړ: <ډېره ښه ده.>

١٤ د هغه پلار وویل: <لاړ شه او وګوره چي ستا ورونه روغ رمټ دي او رمې روغې جوړې دي
که نه، ماته بېرته خبر راوړه.> نو هغه يې د حبرون له درې څخه ولېږه. حضرت یوسف شکیم ته
ورسېده ١٥ او په صحرا کي شاوخوا سرګردانه ګرځېده. یو سړي هغه ولیده او پوښتنه يې ورڅخه
وکړه: <څه شی لټوې؟>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٦ هغه ځواب ورکړ: <زه خپل ورونه لټوم. آیا ماته ویلی شي چې هغوی چېرته خپلې رمې
څروي؟>

١٧ هغه سړي ځواب ورکړ: <هغوی پخوا له دې ځایه تللي دي. د هغوی څخه مې واورېدل چې
ویل یې، راځئ چې دوتان ته ځو.> نو حضرت یوسف خپلو ورونو پسې لاړ او په دوتان کې یې
هغوی پیدا کړل. ١٨ هغوی حضرت یوسف له لېرې ولیده او مخکې له دې چې حضرت یوسف
دوی ته ورورسیږي، هغوی ورته دسیسه جوړه کړه چې ویې وژني. ١٩ هغوی یو او بل ته سره
وویل: <هغه دی، خوب لیدونکی راروان دی. ٢٠ راځئ چې هغه ووژنو او په یو کوهي کې یې
وغورزوو او وبه وایو چې هغه یو داړونکي ځناور وخوړ. بیا به وګورو چې د هغه خوبونه څنګه
کیږي.>

٢١ کله چې روبین دا خبره واورېدله، هڅه یې وکړه چې هغه د خپلو ورونو د لاسونو څخه خلاص
کړي، نو هغه وویل: <هغه به نه وژنو.> ٢٢ روبین هغوی ته وویل: <وینه مه تویوئ. هغه په دې
کوهي کې چې دلته په دې دښته کې دی وغورزوئ، خو لاس ورته مه اچوئ.> هغه دا خبره د دې
دپاره وکړه چې حضرت یوسف د دوی څخه خلاص کړي او بېرته یې خپل پلار ته بوځي. ٢٣ نو
کله چې حضرت یوسف خپلو ورونو ته راغی، هغوی ورڅخه هغه ښکلې چپنه چې اوږده لستوڼي یې
درلودل وویستله. ٢٤ هغه یې ونیوه او په کوهي کې یې وغورزاوه. کوهی وچ ؤ او اوبه په کې نه
وې.

٢٥ په هغه وخت کې چې دوی ډوډۍ خوړله، ناڅاپه یې ولیدل چې د اسماعیلیانو کاروان د جلعاد
څخه راروان دی او د هغوی اوښان په مسالو، ملهمو او کندړ باندې بار وو او روان وو چې هغه مصر
ته یوسي. ٢٦ یهودا خپلو ورونو ته وویل: <د خپل ورور د وژلو او د هغه د قتل د پټولو څخه به
مونږ ته څه ګټه راورسیږي؟ ٢٧ راځئ چې هغه په اسماعیلیانو باندې خرڅ کړو. مونږ به هغه ته
زیان نه رسوو، ځکه چې هغه زمونږ ورور او زمونږ خپله وینه او خپل هډوکی دی.> د هغه ورونه په
دې رضا شول. ٢٨ نو کله چې سوداګران تېرېدل، د هغه ورونو حضرت یوسف له کوهي څخه
راوویست او هغه یې په اسماعیلیانو باندې په شل مثقاله سپینو زرو خرڅ کړ. هغوی حضرت یوسف
مصر ته یووړ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٩ کله چې روبين بېرته کوهي ته راغی او ويې وليدل چې حضرت يوسف هلته نشته، نو له غمه يې خپل کالي وشکول. ٣٠ هغه بېرته خپلو ورونو ته ورغی او ويې ويل: <هلک هلته نشته، څه وکړم؟>

٣١ بيا هغوی يو وز حلال کړ او د حضرت يوسف چپنه يې د هغه په وينه کې غوټه کړه. ٣٢ هغوی هغه چپنه بېرته خپل پلار ته يوړله او ويې ويل: <دا مونږ وموندله. وګوره چې دا ستا د زوی ده که نه.>

٣٣ حضرت يعقوب هغه وپېژندله او ويې فرمايل: <دا زما د زوی چپنه ده! کوم داړونکي ځناور هغه خوړلی دی او په ريښتيا سره يوسف ټوټې ټوټې شوی دی.> ٣۴ نو حضرت يعقوب له خفګانه خپل کالي وشکول. د وير کالي يې واغوستل او ډېرې ورځې د خپل زوی دپاره غمجن ؤ. ٣۵ د هغه ټول زامن او لورګانې راغلې چې هغه ته تسلي ورکړي، مګر هغه دا تسلي ونه منله او ويې فرمايل: <د خپل زوی دپاره به زه د دې غم سره قبر ته ځم.> نو پلار يې د هغه دپاره وژړل.

٣۶ په هغه وخت کې سوداګرانو حضرت يوسف په مصر کې په فوطيفار باندې چې د فرعون د درباريانو څخه ؤ او د دربار د ګارډ قوماندان ؤ خرڅ کړ.

## يهودا او تامار

# ٣٨

١ داسې وشول چې په هغه وخت کې يهودا خپل ورونه پرېښودل او د حيره په نوم يو سړي سره چې د عدولام د ښار څخه ؤ پاتې شو. ٢ هلته يهودا د شوعه په نوم د يو کنعاني د لور سره مخامخ شو. يهودا د هغې سره واده وکړ او ورسره يوځای شو. ٣ هغه اميدواره شوه او زوی يې وزېږاوه او په هغه باندې يې عير نوم کېښود. ۴ هغه بيا اميدواره شوه او زوی يې وزېږاوه. په هغه باندې يې اونان نوم کېښود. ۵ هغې بل زوی وزېږاوه او په هغه باندې يې شيله نوم کېښود. يهودا په کزيب کې ؤ چې هلک پيدا شو.

۶ يهودا خپل مشر زوی ته ښځه وکړه او د هغې نوم تامار ؤ. ٧ د عير رويه د ښښتن په نظر



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې خرابه وه. نو څښتن هغه مړ کړ. ۸ هغه وخت یهودا د عیر ورور اونان ته وویل: <لاړ شه او د
خپل ورور د کونډې سره یوځای شه او د مېړه د ورور په توګه دې خپل مسئولیت ترسره کړه، ترڅو
ستا ورور هم اولادونه ولري.> ۹ مګر اونان په دې پوهېده چې دا به د ده اولادونه نه وي. نو کله
به چې هغه د خپلې کونډې ورېنداریې سره څملاست، خپل ځان به یې په ځمکه باندې انزال کاوه او
نه یې غوښتل چې د خپل ورور دپاره اولاد راوړي. ۱۰ څه چې هغه کول هغه د څښتن په نظر کې
بد ښکاره کېدل. نو څښتن هغه هم وواژه. ۱۱ نو یهودا خپلې نږور تامار ته وویل: <د خپل پلار په
کور کې د کونډې په توګه اوسېږه تر هغې پورې چې زما زوی شیله لوی شي.> ځکه هغه وېرېده
چې شیله به هم د خپلو ورونو په شان مړ شي. نو تامار لاړه چې د خپل پلار په کور کې واوسیږي.

۱۲ څه موده وروسته د یهودا ښځه یعنې د شوعه لور مړه شوه. کله چې د غم وخت تېر شو، نو
یهودا د خپل دوست حیره عدولامي سره د تمنه ښار ته چې هلته د هغه پسونه سکولودل کېدل لاړ.
۱۳ کله چې تامار خبره شوه چې د هغې خسر د خپلو پسونو د سکولودلو دپاره تمنې ته روان دی،
۱۴ نو هغې خپل د کونډتوب کالي وویستل، خپل مخ یې په څادر کې پټ کړ او د عینایم په دروازه
کې چې د تمنې په لاره کې وه کښېناستله. هغې دا کار په دې خاطر وکړ چې د یهودا کشر زوی غټ
شوی ؤ، مګر یهودا دا پلان نه درلود چې تامار ورته په نکاح کړي.

۱۵ کله چې یهودا هغه ولیدله، په هغې یې د فاحشې ګمان وکړ، ځکه چې مخ یې پټ ؤ. ۱۶ هغه
پوه نه شو چې هغه د ده نږور ده. هغه د لارې په غاړه باندې هغې ته ورغی او ویې ویل: <راشه،
چې درسره څملم.>

هغې پوښتنه وکړه: <ماته به څه راکړې چې درسره څملم؟>

۱۷ هغه وویل: <زه به د خپلې رمې څخه تاته یو سېرلی درولېږم.>

هغې پوښتنه وکړه: <تر هغې پورې چې ته هغه رالېږې، ماته به څه شی د ضمانت په توګه
پرېږدې؟>

۱۸ هغه وویل: <څه شی درته د ضمانت په توګه درکړم؟>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغې ځواب ورکړ: <مهر، د هغه مزی او دا امسا چې ستا په لاس کې ده.> نو هغه دا هرڅه هغې ته ورکړل او ورسره څملاست او تامار د هغه څخه اميدواره شوه. ۱۹ تامار کور ته لاړه. خپل څادر يې لېرې کړ او خپل د کونډتوب کالي يې واغوستل.

۲۰ نو يهودا د خپل عدولامي دوست په لاس سېرلی ورولېږه ترڅو د هغې ښځې څخه د ضمانت شيان بېرته واخلي. مګر هغه يې پيدا نه کړه. ۲۱ ده د عنايم له خلکو څخه پوښتنه وکړه: <هغه فاحشه چې دلته په لاره کې ناسته وه چېرته ده؟>

هغوی وويل: <دلته هيڅ وخت فاحشه ښځه نه وه.>

۲۲ هغه بېرته يهودا ته ورغی او ويې ويل: <ما هغه پيدا نه کړه. برسېره پردې د هغه ځای خلکو وويل: دلته هيڅ فاحشه ښځه نه وه.>

۲۳ نو يهودا وويل: <پرېږده چې هغه شيان خپل ځانته وساتي. مونږ نه غواړو چې د خلکو د خندا شو. دا دی ما هغې ته دغه سېرلی ورولېږه مګر تا هغه پيدا نه کړه.>

۲۴ درې مياشتې پس يهودا ته خبر ورسېد: <ستا نږور تامار د يوې فاحشې په شان عمل کړی دی او هغه اوس اميدواره ده.>

يهودا وويل: <هغه بيرون راوباسئ او ويې سوزوئ چې مړه شي.>

۲۵ چې څنګه يې هغه بيرون راوويستله، خپل خسر ته يې پيغام ورولېږه ويې ويل: <زه د هغه سړي څخه اميدواره شوې يم کوم چې د دې شيانو خاوند دی.> هغې زياته کړه: <وګوره. دا مهر، د هغه مزی او دا امسا وپېژنه چې د چا دي.>

۲۶ يهودا هغه وپېژندل او ويې ويل: <هغه په حقه ده. زه د هغې سره په خپل لوظ کې ناکام شوم. ما بايد هغه خپل زوی شيله ته واده کړې وای.> يهودا بيا د هغې سره يوځای نه شو.

۲۷ کله چې د تامار د اولاد د زېږولو وخت راورسېد، نو د هغې په ګېډه کې غبرګوني وو. ۲۸ د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زېږولو په وخت کې د هغو څخه يو خپل لاس راوويست نو دايي يو سور مزی واخيست او د هغه په مړوند باندې يې وتاړه او ويې ويل: <دا اول راووت.> ۲۹ خو کله چې هغه خپل لاس بېرته کش کړ د هغه ورور راووت او هغې وويل: <ته څرنګه راووتلې!> او په هغه باندې يې فارص نوم کېښود. ۳۰ پس له هغې د هغه ورور چې په مړوند باندې يې سور مزی ؤ راووت او هغه يې د زارح په نوم ياد کړ.

## حضرت يوسف او د فوطيفار ښځه

**۳۹** ۱ اسماعيليانو حضرت يوسف مصر ته يووړ او په فوطيفار باندې يې خرڅ کړ چې نوموړی د فرعون د درباريانو څخه ؤ او د دربار د ګارډ قوماندان ؤ. ۲ څښتن د حضرت يوسف سره مل ؤ او هغه يې بريالی کړ. هغه د خپل مصري بادار په کور کې اوسېده. ۳ بادار يې وليدل چې څښتن د حضرت يوسف سره مل دی او په هر کار کې هغه ته بری ورکوي. ۴ فوطيفار د هغه څخه خوشاله ؤ او هغه يې خپل شخصي نوکر ونيوه او هرڅه چې يې خپل کور کې درلودل، ټول يې هغه ته وسپارل. ۵ د هماغه وخت څخه څښتن د حضرت يوسف له سببه د دې مصري خاندان ته برکت ورکړ او د هغه په ټولو شيانو باندې که د هغه په کور کې وو او که د هغه ځمکه وه، د څښتن برکت ؤ. ۶ فوطيفار چې هرڅه درلودل هغه يې حضرت يوسف ته وسپارل چې څارنه يې وکړي. هغه له خوراک څخه پرته نور د هيڅ شي سره کار نه درلود.

حضرت يوسف ډېر ښايسته ؤ او ښکلی اندام يې درلود. ۷ څه موده وروسته د حضرت يوسف سره د فوطيفار د ښځې مينه پيدا شوه او ورته ويې ويل: <راشه، زما سره څمله.> ۸ مګر هغه انکار وکړ او هغې ته يې وفرمايل: <ګوره، هرڅه چې زما د بادار په کور کې دي د هغو په باره کې هغه اندېښنه نه لري، ځکه چې زه دلته يم. هرڅه چې هغه يې لري ماته يې راسپارلي دي. ۹ زه په دې کور کې داسې اختيار لرم لکه څنګه چې هغه يې لري او زما بادار پرته له ستا چې د هغه ښځه يې، نور هيڅ شی زما څخه نه دی سپمولی. نو بيا زه څنګه کولی شم چې داسې بد کار وکړم او د خدای پاک په مقابل کې ګناه وکړم؟> ۱۰ که څه هم هغې به هره ورځ حضرت يوسف ته خبرې کولې، خو هغه له دې څخه انکار کاوه چې د هغې سره څملي او يا دې ورنژدې شي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۱۱) مګر یوه ورځ کله چې حضرت یوسف کور ته ننوت چې خپل کار وکړي، د کور د نوکرانو له
جملې څخه هلته هیڅ څوک نه ؤ. (۱۲) هغې حضرت یوسف له چپنې څخه ونیوه او ورته ویې ویل:
<زما سره څمله.> مګر هغه خپله چپنه د هغې په لاس کې پرېښودله او د کور څخه دباندې وتښتېد.
(۱۳) کله چې هغې ولیدل چې هغه خپله چپنه د هغې په لاس کې پرېښودله او د کور څخه وتښتېد،
(۱۴) نو د خپل کور نوکرانو ته یې غږ وکړ او ویې ویل: <ګورئ! دغه عبرانی سړی زما مېړه کور ته
راوستی دی چې زمونږ بې عزتي وکړي. هغه زما کوټې ته راننوت چې ما بې عزته کړي، مګر ما په
لوړ اواز سره چیغې ووهلې. (۱۵) کله چې هغه زما چیغې واورېدلې، هغه وتښتېد او خپله چپنه یې
زما سره پرېښودله.>

(۱۶) هغې د حضرت یوسف چپنه د ځان سره وساتله تر هغې پورې چې مېړه یې کور ته راغی. (۱۷)
بیا هغې فوطیفار ته دا قصه بیان کړه: <هغه عبرانی غلام چې مونږ ته دې راوستی دی، زما کوټې ته
راننوت چې ما بې عزته کړي. (۱۸) مګر څنګه چې ما د مرستې دپاره چیغې ووهلې، خپله چپنه یې
زما سره پرېښودله او د کور څخه وتښتېد.>

(۱۹) کله چې د حضرت یوسف بادار دغه قصه واورېدله چې د هغه ښځې ورته بیان کړه، هغه د قهره
سور شو. (۲۰) د حضرت یوسف بادار هغه ونیوه او په هغه زندان کې یې واچاوه چې د پادشاه
بندیان به په کې ساتل کېدل او هغه هلته پاتې شو. (۲۱) مګر څښتن د حضرت یوسف سره مل ؤ.
هغه ته یې برکت ورکړ، نو د زندان رئیس د هغه څخه خوشاله ؤ. (۲۲) هغه حضرت یوسف د نورو
ټولو بندیانو مشر کړ او هغه ته یې د هغو ټولو کارونو مسئولیت ور په غاړه کړ چې په زندان کې به
کېدل. (۲۳) د زندان رئیس د هغه څه په هکله چې حضرت یوسف ته سپارل شوي وو اندېښنه نه
درلوده، ځکه چې څښتن د حضرت یوسف سره مل ؤ او کوم کارونه چې هغه کول څښتن ورته په
هغو ټولو کې بری ورکاوه.

## حضرت یوسف د بندیانو خوبونه تعبیروي

**۴۰** (۱) څه موده وروسته د مصر د پادشاه یعنې فرعون د ساقیانو او نانوایانو د مشرانو څخه د
پادشاه په مقابل کې غلطي وشوه. (۲) فرعون په دې دواړو درباریانو باندې په قهر شو (۳) او



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی يې په هغه زندان کې واچول چې د دربار د ګارډ د قوماندان په کور کې ؤ يعني په هماغه
زندان کې چې حضرت يوسف په کې بندي ؤ. ۴ هغوی زيات وخت په زندان کې تېر کړ او د ګارډ
قوماندان هغوی حضرت يوسف ته وسپارل او هغه د دوی خدمت کاوه.

۵ د ساقيانو او نانوايانو مشرانو چې په زندان کې وو په يوه شپه دواړو خوب وليد او هر يو خوب
خپله معنیٰ درلوده. ۶ کله چې سهار حضرت يوسف هغوی ته ورغی، ويې ليدل چې هغوی خفه
وو. ۷ نو هغه ورڅخه پوښتنه وکړه: <تاسو نن ولې دومره خفه يئ؟>

۸ هغوی ځواب ورکړ: <مونږ دواړو خوبونه ليدلي دي، مګر څوک نشته چې هغه تعبير کړي.>

حضرت يوسف هغوی ته وفرمايل: <د خوبونو تعبيرول د خدای کار دی. خپل خوبونه ماته ووايئ.>

۹ نو د ساقيانو مشر خپل خوب حضرت يوسف ته بيان کړ. هغه ته يې وويل: <په خوب کې مې
خپلې مخې ته د انګورو تاک وليد. ۱۰ په تاک کې درې ښاخکې وې. څنګه چې غوټۍ يې وکړې
نو هغه وغوړېدلې او د انګورو وږې پاخه شول. ۱۱ د فرعون پياله مې په لاس کې وه. نو انګور مې
واخيستل او په پياله کې مې وزبېښل او پياله مې د فرعون په لاس کې ورکړه.>

۱۲ حضرت يوسف وفرمايل: <د هغه تعبير دا دی: درې ښاخکې درې ورځې دي. ۱۳ په دې
درې ورځو کې به فرعون تا ازاد کړي او وبه دې بخښي او بېرته به دې په خپل کار باندې مقرر کړي.
ته به د پخوا په شان لکه څنګه چې د هغه ساقي وې، د فرعون پياله به د هغه په لاس کې ورکوې.
۱۴ خو کله چې داسې وشي، ما در په ياد کړه او زما سره احسان وکړه. فرعون ته زما په باره کې
يادونه وکړه او له دې زندان څخه مې وباسه. ۱۵ ځکه چې زه د عبرانيانو د وطن څخه په زور
تښتول شوی يم او دلته مې هم هيڅ داسې کار نه دی کړی چې ما دې په زندان کې واچوي.>

۱۶ کله چې د نانوايانو مشر وليدل چې ښه تعبير دی، نو حضرت يوسف ته يې وويل: <ما هم
خوب وليده چې د ډوډيو درې ټوکرۍ مې په سر وې. ۱۷ په پاسنۍ ټوکرۍ کې د فرعون دپاره هر
قسم ډوډۍ وې او مرغانو به هغه د دې ټوکرۍ څخه خوړلې.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ حضرت يوسف په خوب کې وفرمايل: <د دې تعبير دا دی: درې ټوکرۍ درې ورځې دي.
۱۹ په دې درې ورځو کې به فرعون ستا سر پرې کړي او تا به په ونه کې ځوړند کړي او مرغان به ستا غوښه وخوري.>

۲۰ په دريمه ورځ د فرعون د زېږېدلو کاليزه وه. هغه خپلو درباريانو ته مېلمستيا ورکړه او د ساقيانو او نانوايانو مشران يې ازاد کړل او د خپلو درباريانو په مخکې يې حاضر کړل. ۲۱ هغه د ساقيانو مشر په خپل پخواني کار باندې مقرر کړ او پياله يې يو ځل بيا د فرعون په لاس کې ورکړه.
۲۲ مګر د نانوايانو مشر يې په دار وخېژاوه، لکه څنګه چې حضرت يوسف هغوی ته تعبير کړی ؤ.
۲۳ د ساقيانو مشر حضرت يوسف رایاد نه کړ او هغه يې بېخي هېر کړ.

## حضرت يوسف د فرعون خوبونه تعبيروي

**۴۱** ۱ پوره دوه کاله تېر شوي وو چې فرعون خوب وليده چې د نيل د سيند په غاړه ولاړ ؤ.
۲ ناڅاپه اووه ښې او چاغې غواګانې د سيند څخه راووتلې او په لوخو کې څرېدلې. ۳ د هغو څخه وروسته نورې اووه غواګانې چې بدرنګې او ډنګرې وې، راووتلې او د سيند په غاړه د هغو تر څنګه ودرېدلې. ۴ بدرنګه او ډنګرو غواګانو هغه ښې او چاغې غواګانې وخوړلې. بيا فرعون راويښ شو. ۵ هغه بيا ويده شو او بل خوب يې وليده چې د غلو دانو اووه ډک او پاخه وږي په يوه ډنډر کې راشنه شول. ۶ له هغو څخه وروسته د غلو دانو نور اووه نري او د دښتې باد سوزولي وږي راشنه شول. ۷ د غلو دانو اوو نريو وږو هغه ډک او پاخه وږي روغ تېر کړل. بيا فرعون راويښ شو او پوه شو چې هغه خوب وليده. ۸ په سهار د هغه فکر پرېشانه ؤ. هغه د مصر ټول جادوګران او حکيمان راوغوښتل. هغه خپل خوبونه هغوی ته بيان کړل، مګر هيڅ يو ونه شو کولی چې هغه فرعون ته تعبير کړي.

۹ په دې وخت کې د ساقيانو مشر فرعون ته وويل: <نن راته رایاد شول چې زما څخه خطا شوې ده. ۱۰ يو ځلې فرعون په خپلو نوکرانو باندې په قهر شوی ؤ او زه او د نانوايانو مشر يې د دربار د ګارډ د قوماندان په کور کې په زندان کې واچولو. ۱۱ مونږ دواړو په يوه شپه خوب وليده او هر يو خوب ځانته خپله معنیٰ درلوده. ۱۲ په هغه ځای کې يو عبرانی ځوان چې د دربار د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګارډ د قوماندان غلام ؤ زمونږ سره ؤ. مونږ خپل خوبونه هغه ته بيان کړل او هغه زمونږ خوبونه زمونږ دپاره تعبير کړل. ۱۳ لکه څنګه چې هغه تعبير کړی ؤ، کټ مټ هماغسې وشول. زه بېرته په خپل ځای مقرر شوم او هغه بل سړی په دار وځېږولی شو.>

۱۴ نو فرعون حضرت يوسف راوغوښت او هغه يې ډېر ژر د زندان څخه راوويست. حضرت يوسف خپله ږيره او سر وخرايل، خپل کالي يې بدل کړل او د فرعون حضور ته راغی. ۱۵ فرعون حضرت يوسف ته ووېل: <ما خوب ليدلی او څوک نشته چې هغه تعبير کړي. مګر ما ستا په هکله اورېدلي دي چې کله خوب واورې، نو تعبير يې کولی شې.>

۱۶ حضرت يوسف فرعون ته په ځواب کې وفرمايل: <اعليحضرته، زه دا نه شم کولی، مګر خدای پاک به ښه تعبير درکړي.>

۱۷ فرعون حضرت يوسف ته ووېل: <ما خوب وليده چې زه د نيل د سيند په غاړه ولاړ وم، ۱۸ په دې وخت کې اووه چاغې او ښې غواګانې د سيند څخه راووتلې او په لوخو کې څرېدلې. ۱۹ د هغوی څخه وروسته نورې اووه غواګانې راووتلې چې داسې ډنګرې او بدشکله وې چې ما د مصر په ټول هېواد کې هيڅکله نه وې ليدلې. ۲۰ ډنګرو او بدشکله غواګانو هغه اولنۍ چاغې غواګانې وخوړلې. ۲۱ مګر د خوړلو څخه وروسته هم څوک نه پوهېدل چې دوی به څه خوړلي وي ځکه چې هغوی د پخوا په شان ډنګرې ښکارېدلې. نو په دې وخت کې زه راويښ شوم. ۲۲ همدارنګه ما په خوب کې وليدل چې د غلو دانو اووه ډک او پاخه وږي په يوه ډنډر کې راشنه شول. ۲۳ د هغو څخه وروسته نور اووه نري او د دښتې باد سوزولي وږي راشنه شول. ۲۴ اووه نريو وږو هغه ډک وږي روغ تېر کړل. نو ما خپل خوب جادوګرانو ته ووېل، مګر هيچا ونه شو کولی چې هغه ماته تعبير کړي.>

۲۵ نو حضرت يوسف فرعون ته وفرمايل: <د دواړو خوبونو معنیٰ يوه ده. څه چې خدای پاک غواړي ويې کړي هغه يې تاسو ته څرګند کړل. ۲۶ اووه ښې غواګانې اووه کاله دي او د غلو دانو اووه ډک وږي هم اووه کاله دي، هغوی يوشان معنیٰ لري. ۲۷ اووه ډنګرې او بد رنګه غواګانې چې د هغو څخه وروسته راووتلې او د غلو دانو اووه نري او د دښتې باد سوزولي وږي د قحطۍ اووه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کاله دي. ﴿۲۸﴾ دا هماغه څه دي چې تاسو ته مې وويل. څه چې خدای پاک غواړي ويې کړي تاسو ته يې ځرګند کړي دي. ﴿۲۹﴾ اووه کاله به د مصر په ټول هېواد کې ډېره پرېماني راشي. ﴿۳۰﴾ مګر له هغې وروسته به د اوو کالو دپاره داسې قحطي راشي چې د مصر په ملک کې به هغه ټوله پرېماني هېره شي. ځکه چې قحطي به هېواد تباه کړي ﴿۳۱﴾ او پرېماني به په هېواد کې بېخي هېره شي، دا ځکه چې هغه قحطي چې په هغې پسې راځي هغه به ډېره سخته وي. ﴿۳۲﴾ دا چې تاسو دوه خوبونه ليدلي دي د هغو معنیٰ دا ده چې دا د خدای پاک فيصله ده چې دا کار وکړي او هغه به ژر داسې وکړي.

﴿۳۳﴾ اوس بايد تاسو يو پوه او د حکمت لرونکی سړی پيدا کړئ او هغه دې د مصر د هېواد دوهم مشر وټاکئ. ﴿۳۴﴾ تاسو بايد په ټول هېواد کې ماموران وټاکئ چې د اووه کالو پرېمانی په موده کې د مصر د حاصلاتو څخه پنځمه برخه راټوله کړي. ﴿۳۵﴾ هغوی ته امر وکړئ چې د پرېمانی په کلونو کې غله راټوله کړي او هغوی ته اختيار ورکړئ چې هغه په ښارونو کې ذخيره کړي او ساتنه يې وکړي. ﴿۳۶﴾ هغه بايد د هېواد دپاره ذخيره شي چې د اووه کالونو د قحطی په موده کې چې په مصر باندې راتلونکې ده ورڅخه کار واخيستل شي ترڅو هېواد د قحطی په اثر وران نه شي.>

﴿۳۷﴾ دغه وړانديز د فرعون او د هغه د ټولو درباريانو په نظر کې ښه ښکاره شو. ﴿۳۸﴾ نو فرعون د هغوی څخه پوښتنه وکړه: <آيا کولی شو چې د يوسف په شان يو څوک راپيدا کړو چې د خدای پاک روح په کې دی؟> ﴿۳۹﴾ نو فرعون حضرت يوسف ته وويل: <ځرنګه چې خدای پاک دا هرڅه تاته ښودلي دي نو ستا په شان د حکمت خاوند او پوه سړی نشته. ﴿۴۰﴾ زه به تا د ټول هېواد دوهم مشر کړم او زما ټول قوم به ستا حکمونه مني او د واک په لحاظ به ته زما څخه پس دوهم نفر يې.>

## حضرت يوسف د مصر دوهم مشر

﴿۴۱﴾ نو فرعون حضرت يوسف ته وويل: <په دې ډول مې ته د مصر د ټول هېواد دوهم مشر وټاکلې.> ﴿۴۲﴾ فرعون د خپلې ګوتې څخه هغه ګوته راوويستله چې په هغې کې د پادشاهی مهر لګېدلی ؤ او هغه يې حضرت يوسف ته ور په ګوته کړه. هغه حضرت يوسف ته د کتان ډېره ښه چپنه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورواغوستله او د سرو زرو زنځير يې د هغه په غاړه کې واچاوه. ۴۳ فرعون هغه ته خپله دوهمه
شاهي ګاډی ورکړه چې په کې سپور شي او خلکو د هغه په مخکې نارې وهلې: <لاره پرېږدئ! لاره
پرېږدئ!> په دې ډول يې حضرت يوسف د مصر د ټول هېواد دوهم مشر وټاکه. ۴۴ فرعون
حضرت يوسف ته وويل: <زه فرعون يم، مګر هيڅوک به ستا له اجازې څخه پرته په ټول مصر کې
هيڅ نه شي کولی.> ۴۵ فرعون په حضرت يوسف باندې صفنات فعنيح نوم کېښود او د اون د
کاهن فوطي فارع لور اسنات يې هغه ته په نکاح ورکړه. نو په دې ډول حضرت يوسف د مصر په
ټول هېواد باندې واک ترلاسه کړ. ۴۶ حضرت يوسف دېرش کلن ؤ چې د مصر د پادشاه يعنې
فرعون په خدمت کولو يې پيل وکړ. حضرت يوسف د فرعون د حضور څخه لاړ او په ټول مصر کې
وګرځېد. ۴۷ د اووه کالو پرېمانی په موده کې ځمکې ډېر زيات حاصلات ورکړل. ۴۸ په دې
موده کې حضرت يوسف په مصر کې ټول خوراکي مواد راټول کړل او هغه يې په ښارونو کې ذخيره
کړل او د هر ښار د شاوخوا ځمکو خوراکي مواد يې په هماغه ښار کې ذخيره کړل. ۴۹ حضرت
يوسف لکه د درياب د شګو په شان ډېره زياته غله ذخيره کړه او هغه دومره زياته وه چې د حساب
څخه وتلې وه.

۵۰ د قحطی د کالونو د راتلو څخه مخکې د اون د کاهن فوطي فارع لور اسنات حضرت يوسف ته
دوه زامن وزېږول. ۵۱ حضرت يوسف د خپل مشر زوی نوم منسي کېښود، نو ځکه يې وفرمايل:
<خدای پاک زما ټولې سختۍ او زما د پلار ټوله کورنۍ زما څخه هېره کړه.> ۵۲ او بيا د دوهم
زوی نوم يې افرايم کېښود او ويې فرمايل: <دا ځکه چې خدای پاک ماته په هغه وطن کې اولادونه
راکړل چې زه په کې په تکليف وم.>

۵۳ نو هغه پرېماني چې د اووه کالو دپاره په مصر کې وه پای ته ورسېدله. ۵۴ لکه څنګه چې
حضرت يوسف فرمايلي وو، د قحطی اووه کاله شروع شول. په نورو ټولو هېوادونو کې قحطي وه مګر
په ټول مصر کې غله وه. ۵۵ کله چې مصريان وږي شول، نو د ډوډۍ دپاره يې فرعون ته فرياد
وکړ. نو فرعون ټولو مصريانو ته وويل: <يوسف ته ورشئ او هرڅه چې تاسو ته وايي هغه وکړئ.>
۵۶ قحطي ډېره سخته شوه او په ټول هېواد کې خپره شوه، نو حضرت يوسف ګودامونه پرانيستل او
په مصريانو باندې يې غله خرخوله. ۵۷ د ټولو هېوادونو خلک مصر ته راتلل چې د حضرت



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یوسف څخه غله واخلي، ځکه چي په ټوله دنیا کي سخته قحطي وه.

## د حضرت یوسف ورونه د غلو دانو اخیستلو دپاره مصر ته ځي

**۴۲** (۱) کله چي حضرت یعقوب خبر شو چي په مصر کي غلي داني شته، نو هغه خپلو زامنو ته وویل: <تاسو ولي هسي ناست یئ او یو او بل ته ګورئ؟ (۲) ما اوریدلي دي چي په مصر کي غلي داني شته. هلته لاړ شئ او زمونږ دپاره یو څه واخلئ چي له لوږي څخه مړه نه شو.> (۳) نو د حضرت یوسف لس ورونه د غلو دانو د اخیستلو دپاره مصر ته لاړل. (۴) مګر حضرت یعقوب د حضرت یوسف ورور بنیامین د هغوی سره ونه لیږه ځکه چي هغه ویریده چي کوم زیان ورته ونه رسیږي.

(۵) نو د حضرت یعقوب زامن هم د هغو کنعانیانو په ډله کي وو چي د غلي د اخیستلو دپاره راغلي وو، ځکه چي په کنعان کي هم قحطي وه. (۶) حضرت یوسف د مصر د دوهم مشر په توګه د ټولي دنیا په خلکو باندي غله خرڅوله، نو کله چي د حضرت یوسف ورونه راورسیدل هغه ته په سجده پریوتل. (۷) څنګه چي حضرت یوسف خپل ورونه ولیدل هغوی یي وپیژندل مګر ځان یي هغوی ته لکه د یو پردي په شان وښود او د هغوی سره یي په سخته لهجه خبري وکړي. هغه پوښتنه ورڅخه وکړه: <له کوم ځای څخه راغلي یئ؟>

هغوی ځواب ورکړ: <مونږ د کنعان څخه راغلي یو چي یو څه غله واخلو.>

(۸) که څه هم حضرت یوسف خپل ورونه وپیژندل مګر هغوی حضرت یوسف ونه پیژانده. (۹) په دي وخت کي حضرت یوسف خپل هغه خوبونه رایاد کړل چي د هغوی په باره کي یي لیدلي وو او هغوی ته یي وفرمایل: <تاسو جاسوسان یئ! تاسو د دي دپاره راغلي یئ چي وګورئ زمونږ په هیواد کي د کوم ځای امنیت کمزوری دی.>

(۱۰) هغوی ځواب ورکړ: <نه زما باداره، ستا غلامان د غلي د اخیستلو دپاره راغلي دي. (۱۱) مونږ ټول ورونه یو. مونږ جاسوسان نه یو، مونږ صادق خلک یو.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٢ حضرت یوسف هغوی ته وفرمایل: <نه! تاسو د دې دپاره راغلي یئ چې وګورئ زمونږ په هېواد کې د کوم ځای امنیت کمزوری دی.>

١٣ هغوی ځواب ورکړ: <ستا غلامان دولس ورونه د یو سړي زامن یو چې هغه د کنعان په خاوره کې اوسیږي. یو ورور مو مړ شوی دی او کشر ورور اوس زمونږ د پلار سره دی.>

١٤ حضرت یوسف هغوی ته وفرمایل: <دا همدا خبره ده لکه څنګه چې ما درته ویلي وو. تاسو جاسوسان یئ. ١٥ اوس به تاسو په دې ډول وازمایلی شئ. زه د فرعون په ژوندون باندې قسم خورم چې تاسو به هیڅکله له دې ځایه لاړ نه شئ تر هغې پورې چې ستاسو کشر ورور دلته رانه شي. ١٦ ستاسو څخه دې یو تن لاړ شي چې ستاسو ورور راولي او پاتې به په زندان کې وساتل شي ترڅو ستاسو خبره وازمایلی شي چې تاسو رښتیا وایئ او که نه. که داسې نه وي نو د فرعون په نامه باندې قسم خورم چې تاسو جاسوسان یئ.> ١٧ هغوی یې درې ورځې په زندان کې وساتل.

١٨ په دریمه ورځ حضرت یوسف هغوی ته وفرمایل: <زه له خدایه وېرېږم. زه به تاسو په یو شرط ژوندي پرېږدم، ١٩ که چېرې تاسو صادقان یئ، نو ستاسو د ورونو څخه دې یو نفر په زندان کې پاتې شي او نور کولی شي چې لاړ شي او خپلو وږیو کورنیو ته غله یوسي. ٢٠ مګر تاسو خامخا خپل کشر ورور ماته راولئ نو ستاسو خبره به ثابته شي چې رښتیا وایئ او تاسو به مړه نه شئ.>

هغوی رضا شول ٢١ او یو بل ته یې وویل: <اوس مونږ دغه تکلیف د هغه کار په نتیجه کې وینو چې د خپل ورور سره مو کړی دی. مونږ ولیدل چې هغه په لوی مصیبت کې ؤ او مونږ ته یې د خپل ژوند دپاره زاري کوله، مګر مونږ قبوله نه کړه. په همدې سبب دغه مصیبت په مونږ باندې راغلی دی.>

٢٢ روبین ځواب ورکړ: <آیا تاسو ته مې ونه ویل چې د دې هلک په مقابل کې ګناه مه کوئ؟ مګر تاسو زما خبره ونه منله! اوس به مونږ د هغه د وینې حساب ورکوو.> ٢٣ هغوی ته معلومه نه وه چې حضرت یوسف د هغوی په خبرو باندې پوهیږي، ځکه چې دوی د هغه سره د ترجمان په



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وسيله خبرې کولې. ﴿۲۴﴾ حضرت يوسف د هغوی څخه لېرې لاړ او په ژړا شو. مګر بېرته دوی ته راستون شو او بيا يې د هغوی سره خبرې وکړې. د هغوی څخه يې شمعون ونيوه او د هغوی په مخ کې يې وتاړه.

## د حضرت يوسف ورونه کنعان ته ورستنيږي

﴿۲۵﴾ حضرت يوسف امر وکړ چې د هغوی بوجۍ دې د غلو دانو څخه ډکې شي او د هر نفر پيسې دې بېرته د هغه په بوجۍ کې کېښودلې شي او هغوی ته دې د سفر دپاره خواړه ورکړای شي. نو همداسې يې ورسره وکړل. ﴿۲۶﴾ هغوی غله په خپلو خرو باندې بار کړه او روان شول. ﴿۲۷﴾ په هغه ځای کې چې هغوی د شپې تېرولو دپاره پاتې شول، يو تن خپله بوجۍ خلاصه کړه چې خپل خره ته خوراک ورکړي. خپلې پيسې يې وليدلې چې د بوجۍ په خوله کې وې. ﴿۲۸﴾ هغه خپلو ورونو ته وويل: <زما پيسې يې بېرته ماته راکړې دي او دلته زما په بوجۍ کې دي.> د هغوی زړونه ولوېدل او په رېږدېدلو يې يو بل ته مخ واړاوه او ويې وويل: <دا څه دي چې خدای پاک زمونږ سره وکړل؟>

﴿۲۹﴾ کله چې هغوی خپل پلار حضرت يعقوب ته د کنعان خاورې ته راغلل، نو هغه څه چې په هغوی باندې تېر شوي وو هغه ته يې بيان کړل او ويې ويل: ﴿۳۰﴾ <د مصر دوهم مشر زمونږ سره په سخته لهجه خبرې وکړې او په مونږ باندې يې دا تور ولګاوه چې مونږ د هغه په خاوره کې جاسوسي کوو. ﴿۳۱﴾ مګر مونږ هغه ته وويل چې مونږ صادق خلک يو، مونږ جاسوسان نه يو. ﴿۳۲﴾ مونږ دولس ورونه او د يو پلار زامن يو. زمونږ يو ورور مړ شوی دی او کشر ورور مو په کنعان کې زمونږ د پلار سره دی. ﴿۳۳﴾ د مصر دوهم مشر په ځواب کې وويل: هغه وخت به زه پوه شم چې تاسو صادقان يئ چې د خپلو ورونو څخه يو دلته زما سره پرېږدئ او د خپلو وږيو کورنيو دپاره غله واخلئ او لاړ شئ. ﴿۳۴﴾ مګر خپل کشر ورور ماته راولئ، نو زه به پوه شم چې تاسو جاسوسان نه يئ بلکه صادقان يئ. بيا به هغه وخت تاسو ته خپل ورور بېرته درکړم او تاسو به وکولی شئ چې دلته پاتې شئ او سوداګري وکړئ.>

﴿۳۵﴾ نو څنګه چې هغوی خپلې بوجۍ خالي کړې، د هر نفر په بوجۍ کې د هغه د پيسو کڅوړه وه.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کله چې هغوی او د هغوی پلار د پیسو کڅوړې ولیدلې نو ووېرېدل. ۳۶ د هغوی پلار حضرت
یعقوب هغوی ته وفرمایل: <تاسو زه د خپلو اولادونو څخه بې برخې کړم، یوسف نور نشته او
شمعون نور نشته. اوس غواړئ چې بنیامین بوځئ. دا هرڅه زما سره کیږي!>

۳۷ په دې وخت کې روبین خپل پلار ته وویل: <که بنیامین مې بېرته تاته رانه وست زما دواړه
زامن ووژنه. هغه ماته وسپاره زه به یې بېرته راولم.>

۳۸ مګر حضرت یعقوب وفرمایل: <زما زوی به ستاسو سره هلته نه ځي. د هغه ورور مړ شوی
دی او هغه یوازې پاتې دی. که چېرې په لاره کې په هغه باندې څه پېښه وشي نو زه زوړ سړی یم،
له غمه به مړ شم او تاسو ټول به ملامته شئ.>

## مصر ته دوهم سفر

۴۳ ۱ په کنعان کې قحطي نوره هم سخته شوه. ۲ نو کله چې هغوی هغه ټوله غله چې د
مصر څخه یې راوړې وه وخوړله، نو حضرت یعقوب خپلو زامنو ته وفرمایل: <بېرته لاړ شئ او لږه
نوره غله زمونږ دپاره واخلئ.>

۳ مګر یهودا هغه ته وویل: <هغه سړي مونږ ته په ټینګه خبرداری راکړی دی چې ترڅو پورې
چې ستاسو ورور ستاسو سره نه وي، زما مخ به بیا ونه وینئ. ۴ که زمونږ ورور دې زمونږ سره
ولېږه نو مونږ به لاړ شو او ستا دپاره به خواړه واخلو. ۵ مګر که هغه دې ونه لېږه نو مونږ نه ځو،
ځکه چې هغه سړي مونږ ته وویل: ترڅو پورې چې ستاسو ورور ستاسو سره نه وي نو نور به زما
مخ ونه وینئ.>

۶ حضرت یعقوب وفرمایل: <زه مو ولې د داسې سخت تکلیف سره مخامخ کړم چې هغه سړي
ته مو وویل چې ستاسو بل ورور هم شته؟>

۷ هغوی ځواب ورکړ: <هغه سړي په ډېر غور سره زمونږ او زمونږ د کورنۍ په باره کې زمونږ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څخه پوښتنې وکړې ويې ويل: آيا ستاسو پلار تر اوسه پورې ژوندی دی؟ ستاسو بل ورور شته؟
مونږ يوازې د هغه پوښتنو ته ځواب ورکړی دی. مونږ څه پوهېدلو چې هغه به مونږ ته ووايي چې
خپل ورور دلته راولئ.>

۸ يهودا خپل پلار حضرت يعقوب ته وويل: <هلک زما سره ولېږه. مونږ به سمدستي لاړ شو
چې مونږ او تاسو او زمونږ ماشومان ژوندي پاتې شو او له لوږې څخه مړه نه شو. ۹ زه به خپله
د هغه د سلامتيا ضمانت کوم. ته کولی شې چې د هغه مسئوليت زما په غاړه واچوې. که چېرې هغه
تاته رانه ولم او ستا په مخکې يې حاضر نه کړم، زه به تاته د تل دپاره ملامت يم. ۱۰ که چېرې
مونږ ځنډ نه وای کړی نو تر اوسه پورې به مونږ دوه ځلې تللي او بېرته به راغلي وای.>

۱۱ بيا د هغوی پلار حضرت يعقوب هغوی ته وفرمايل: <که داسې وي نو دا کار وکړئ. د خپل
هېواد د ډېرو ښو پيداوارو څخه يو څه واخلئ او په خپلو بوجيو کې يې واچوئ او لږ څه ملهم،
شات، مساله، کنډ، پسته او بادام هغه سړي ته د سوغات په توګه يوسئ. ۱۲ دوه چنده پيسې د
ځانه سره واخلئ ځکه هغه پيسې چې بېرته ستاسو د بوجيو په خولو کې اېښودل شوې وې بايد
بېرته ورکړئ. کېدای شي چې د هغوی څخه سهوه شوې وي. ۱۳ خپل ورور هم واخلئ او
سمدستي بېرته هغه سړي ته ورشئ. ۱۴ مطلق قادر خدای دې هغه سړی په تاسو باندې مهربانه
کړي ترڅو هغه بنيامين او ستاسو بل ورور بېرته تاسو ته درکړي. که چېرې زه بې اولاده کېږم نو
بې اولاده دې شم.>

۱۵ نو هغو ورونو سوغاتونه او دوه چنده پيسې واخيستلې او د بنيامين سره مصر ته روان شول او
هغوی خپل ځانونه حضرت يوسف ته ورحاضر کړل. ۱۶ کله چې حضرت يوسف د هغوی سره
بنيامين وليد نو د خپل کور ناظر ته يې وفرمايل: <دا خلک زما کور ته بوځه او يو حيوان حلال کړه
او تيار يې کړه چې دوی به غرمه زما سره ډوډۍ خوري.> ۱۷ لکه څنګه چې حضرت يوسف امر
کړی ؤ هغه سړي هماغه شان وکړل او هغه خلک يې د حضرت يوسف کور ته راوستل.

۱۸ کله چې هغوی د حضرت يوسف کور ته راوستل شول نو ووېرېدل. دوی فکر کاوه: <مونږ د
هغو پيسو په سبب چې په اول ځل زمونږ په بوجيو کې بېرته اېښودل شوې وې، دلته راوستل شوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يو. هغه غواړي چې مونږ بنديان کړي، مونږ خپل غلامان کړي او زمونږ څخه خره واخلي.> (۱۹) نو
هغوی د حضرت يوسف ناظر ته ورغلل او د کور په دروازه کې يې د هغه سره خبرې وکړې. (۲۰)
هغوی وويل: <ای باداره! مونږ دلته يو ځلې مخکې د غلو دانو د اخيستلو دپاره راغلي وو، (۲۱) خو
کله چې په يو ځای کې د شپې تېرولو دپاره ودرېدو، مونږ خپلې بوجۍ پرانيستلې او هر يو خپلې
پيسې په هماغه خپله اندازه د خپلو بوجيو په خولو کې وموندلې. نو مونږ هغه بېرته د خپل ځان سره
راوړې دي. (۲۲) همدارنګه مونږ نورې پيسې هم د ځان سره راوړې دي چې نوره غله واخلو. مونږ
نه پوهېږو چې چا زمونږ په بوجيو کې هغه پيسې اچولې وې.>

(۲۳) ناظر وويل: <اندېښنه مه کوئ او مه وېرېږئ. ستاسو او ستاسو د پلار خدای ستاسو په بوجيو
کې تاسو ته خزانه ايښې ده. ستاسو پيسې ماته راورسېدلې.> نو شمعون يې هغوی ته راوست.

(۲۴) ناظر د حضرت يوسف ورونه د هغه کور ته دننه بوتلل او هغوی ته يې اوبه ورکړې چې خپلې
پښې ومينځي او د هغوی خرو ته يې واښه ورکړل. (۲۵) هغوی سوغاتونه تيار کړل چې حضرت
يوسف به غرمې ته راشي، ځکه چې دوی ته ويل شوي وو چې دوی به هلته وخوري. (۲۶) کله
چې حضرت يوسف کور ته راغی، نو دوی هغه سوغاتونه چې کور ته يې راوړي وو هغه ته وړاندې
کړل او د هغه په مخکې په ځمکه پرېوتل او سجده يې ورته وکړه. (۲۷) هغه د دوی د روغتيا په
هکله پوښتنه وکړه او بيا يې وفرمايل: <ستاسو زوړ پلار چې تاسو د هغه په باره کې ويلي وو څنګه
دی؟ آيا هغه تر اوسه پورې ژوندی دی؟>

(۲۸) هغوی وويل: <ستا غلام يعنې زمونږ پلار تر اوسه پورې ژوندی دی او ښه دی.> دوی
پړمخې پرېوتل او د هغه په وړاندې يې د احترام سرونه ټيټ کړل.

(۲۹) کله چې حضرت يوسف خپل سکه ورور بنيامين وليده، هغه پوښتنه وکړه: <آيا ستاسو کشر
ورور چې تاسو ماته د هغه په باره کې ويلي وو دا دی؟ ای زما زويه! خدای پاک دې تاته برکت
درکړي.> (۳۰) حضرت يوسف سمدستي لاړ، ځکه چې د خپل ورور په ليدلو باندې ډېر احساساتي
شو او د ژړا ځای يې لټاوه. هغه خپلې شخصي کوټې ته ننوت او هلته يې وژړل. (۳۱) وروسته له
هغې چې خپل مخ يې ومينځه دباندې راووت. خپل ځان يې کنترول کړ او ويې فرمايل: <ډوډۍ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوړئ.> ۳۲ حضرت یوسف ته يې په یو دسترخوان باندې ډوډۍ ورکړه او د هغه ورونو ته يې په بل دسترخوان باندې. مصریانو ته يې چې هلته يې ډوډۍ خوړله جدا کېښودله ځکه چې هغوی به د عبرانیانو سره ډوډۍ نه خوړله. مصریانو د عبرانیانو سره ډوډۍ خوړل حرام ګڼل. ۳۳ د هغه ورونه د هغوی د عمر له مخې د مشر څخه تر کشره پورې د حضرت یوسف په مخکې کښېنول شول او هغوی په حیرانتیا سره یو بل ته کتل. ۳۴ هغوی ته د حضرت یوسف د دسترخوان څخه ډوډۍ ورکړای شوه او د بنیامین برخه د نورو ټولو څخه پنځه چنده زیاته وه. نو هغوی د حضرت یوسف سره وخوړل او وېې څښل او خوشالي يې وکړه ترڅو چې نېشه شول.

## د حضرت یوسف د سپینو زرو جام

**۴۴** ۱ حضرت یوسف د خپل کور ناظر ته امر وکړ: <د دې خلکو بوجۍ ګانې د غلو دانو څخه دومره ډکې کړه چې څومره دوی وړلی شي او د هر نفر پیسې د هغه د بوجۍ په خوله کې کېږده. ۲ زما د سپینو زرو جام د کشر ورور د بوجۍ په خوله کې د هغه د غلو دانو د پیسو سره کېږده.> نو څنګه چې حضرت یوسف هغه ته فرمایلي وو همداسې يې وکړل. ۳ سهار وختي د حضرت یوسف ورونه د خپلو خرو سره په خپله لاره رخصت کړای شول. ۴ هغوی لا د ښار څخه دومره لېرې نه وو تللي چې حضرت یوسف د خپل کور ناظر ته وفرمایل: <پاڅه او هغو خلکو پسې ورشه او کله چې هغوی ته ورسېدلې ورته ووایه چې تاسو ولې د نېکۍ په بدل کې بدي وکړه؟ ۵ تاسو ولې زما د بادار د سپینو زرو جام چې هغه په کې څښل کوي او فال وربانديې ګوري غلا کړ؟ تاسو ډېر بد کار وکړ.>

۶ کله چې ناظر هغوی ته وورورسېد نو دا خبرې يې هغوی ته تکرار کړې. ۷ مګر هغوی ورته ځواب ورکړ: <ای زمونږ باداره، ولې داسې خبرې کوې؟ مونږ قسم خورو چې مونږ داسې کار نه دی کړی. ۸ ګوره! هغه پیسې چې مونږ د خپلو بوجیو په خولو کې پیدا کړې بېرته مو د کنعان د خاورې څخه تاسو ته راوړلې، نو څنګه به ستا د بادار د کور څخه سره زر یا سپین زر غلا کړو؟ ۹ که هغه په مونږ کې د کوم یو سره پیدا شي هغه دې ووژل شي او مونږ دې ستا غلامان شو.>

۱۰ بیا هغه وویل: <ډېر ښه. مګر یوازې هغه چا سره چې جام پیدا شي هغه به زما غلام شي او



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو نور به د ملامتیا څخه خلاص شئ.> ۱۱ هغوی هر یو په چالاکی سره خپله بوجی کوزه کړه
او هغه یې پرانیستلې. ۱۲ بیا ناظر شروع وکړه او د مشر څخه نیولې تر کشره پورې یې په غور
سره ولټول او جام د بنیامین په بوجی کې وموندل شو. ۱۳ په دې وخت کې هغوی له غمه خپل
کالي وشکول، خپل خره یې بار کړل او ښار ته راستانه شول.

۱۴ کله چې یهودا او د هغه ورونه د حضرت یوسف کور ته راغلل، هغه لا هلته ؤ او هغوی د
حضرت یوسف په مخ کې په ځمکه پرېوتل. ۱۵ حضرت یوسف هغوی ته وفرمایل: <تاسو څه
وکړل؟ آیا تاسو نه پوهېدلئ چې زما په شان سړی کولی شي چې د فال په وسیله شیان راپیدا
کړي؟>

۱۶ یهودا ځواب ورکړ: <ای باداره، تاسو ته څه ووایو؟ مونږ څه ویلی شو؟ خپله بې ګناهي څرنګه
ثابته کړو؟ خدای پاک زمونږ ګناه ښکاره کړه. اوس به مونږ ټول او هغه چې جام ورسره پیدا شوی
دی ستاسو غلامان شو.>

۱۷ مګر حضرت یوسف وفرمایل: <نه! زه به هیڅکله داسې ونه کړم! یوازې هغه څوک به زما
غلام شي چې جام ورسره موندل شوی دی او تاسو نور په خیر سره بېرته خپل پلار ته لاړ شئ.>

## یهودا د بنیامین دپاره زاري کوي

۱۸ بیا یهودا حضرت یوسف ته ورغی او ویې ویل: <ای باداره، زه پوهېږم چې تاسو د فرعون په
شان قدرت لرئ، نو په ما باندې په قهر نه شئ او د مهربانی له مخې اجازه راکړئ چې تاسو سره
سپینې خبرې وکړم. ۱۹ زما باداره، تاسو زمونږ څخه پوښتنه وکړه چې ستاسو پلار یا بل ورور
شته؟ ۲۰ مونږ ځواب درکړ چې زمونږ پلار زوړ دی او کشر ورور هم لرو چې هغه ته په سپین
ږیرتوب کې پیدا شوی دی. د هلک ورور مړ شوی دی او هغه د خپلې مور د اولادونو څخه یوازینی
زوی دی چې ژوندی دی او پلار یې ورسره زیاته مینه کوي. ۲۱ باداره، تاسو مونږ ته وویل چې
هغه دلته راولئ چې په خپله یې ووینم. ۲۲ مونږ تاسو ته وویل چې هغه هلک د خپل پلار څخه نه
شي جدا کېدلی او که چېرې جدا شي نو پلار به یې مړ شي. ۲۳ مګر تاسو مونږ ته وویل چې تر



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغې پورې چې ستاسو کشر ورور ستاسو سره رانه شي نو زما مخ به بیا ونه وینئ.

۲۴ نو کله چې مونږ خپل پلار ته ورغلو، ستاسو خبرې مو ورته بیان کړې. ۲۵ نو زمونږ پلار
وویل: بېرته لاړ شئ او لږې نورې غلې دانې واخلئ. ۲۶ مګر مونږ ځواب ورکړ: مونږ نه شو تللی.
خو که زمونږ کشر ورور زمونږ سره وي نو لاړ به شو. که زمونږ کشر ورور راسره نه وي نو د هغه
سړي مخ نه شو لیدلی. ۲۷ زمونږ پلار مونږ ته وویل: تاسو پوهېږئ چې ماته زما د ښځې راحیل
څخه یوازې دوه زامن پیدا شوي دي. ۲۸ د هغوی څخه یو یې ورک شوی دی. هغه به خامخا د
کوم داړونکي ځناور له خوا ټوټې ټوټې شوی وي او له هغه وخت راهیسې مې نه دی لیدلی. ۲۹ نو
که تاسو دا هم له ما څخه بوځئ او په هغه باندې څه وشي نو ځرنګه چې زه سپین ږیری یم د هغه
غم له امله به چې تاسو مې ورباندې اخته کوئ مړ شم.

۳۰ نو اوس که چېرې زه بېرته خپل پلار ته ورشم او هلک زمونږ سره نه وي، نو که زما پلار چې
ژوند یې د هلک د ژوند سره تړلی دی ۳۱ وګوري چې هلک نشته هغه به مړ شي. هغه دومره زوړ
دی چې هغه غم چې مونږ یې په هغه باندې راولو، هغه به ووژني. ۳۲ ما خپل پلار ته د دې هلک
د ساتنې ضمانت ورکړی دی ویلي مې دي: که هغه مې بېرته تاته رانه وست، نو زه به ټول عمر تاته
ملامت یم. ۳۳ نو اوس ای باداره، زه به د هلک په ځای ستاسو د غلام په توګه دلته پاتې شم. هغه
پرېږدئ چې د خپلو ورونو سره بېرته لاړ شي. ۳۴ که هلک زما سره نه وي خپل پلار ته به ځنګه
بېرته ورشم؟ زه دا نه شم زغملی چې هغه بدبختې چې زما په پلار باندې به راشي ووینم.>

## حضرت یوسف خپل ځان خپلو ورونو ته ورپېژني

**۴۵** ۱ حضرت یوسف نور د خپلو نوکرانو په مخ کې ځان ټینګ نه کړای شو. هغه چیغې کړې:
<ټول د کوټې څخه ووزئ!> نو کله چې حضرت یوسف خپل ځان خپلو ورونو ته وروپېژانده هلته
بل څوک نه ؤ. ۲ هغه په داسې لوړ اواز سره وژړل چې مصریانو دا ژړا واورېدله او د فرعون
درباریانو هم دا خبره واورېدله. ۳ حضرت یوسف خپلو ورونو ته وفرمایل: <زه یوسف یم! آیا
زما پلار لا تر اوسه پوري ژوندی دی؟> مګر کله چې د هغه ورونو دا خبره واورېدله ډېر سخت



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووېرېدل. ورونو يې نه شو کولی چې هغه ته ځواب ورکړي. ۴ بيا حضرت يوسف خپلو ورونو ته وفرمايل: <ماته رانژدې شئ.> کله چې هغوی ورنژدې شول، هغه وفرمايل: <زه ستاسو ورور يوسف يم، هغه يوسف چې تاسو د نورو په لاس په مصر کې خرڅ کړی ؤ. ۵ اوس مه پرېشانه کېږئ او خپل ځانونه په دې باندې مه ملامتوئ چې زه تاسو دلته خرڅ کړم، ځکه چې خدای پاک زه ستاسو څخه مخکې د خلکو د ژوند د ژغورلو دپاره دلته رالېږلی يم. ۶ ځکه چې دوه کاله کيږي چې په دې هېواد کې قحطي ده او د راتلونکو پنځو کالو دپاره به دلته کرل او رېبل نه وي. ۷ مګر خدای پاک زه ستاسو څخه مخکې راولېږلم چې تاسو په يوه عجيبه طريقه وژغوري چې تاسې او ستاسو اولاده ژوندی پاتې شي. ۸ نو په رښتيا سره تاسو زه دلته نه يم رالېږلی بلکه خدای پاک رالېږلی يم. هغه زه د فرعون ډېر لوړ رتبه درباري وټاکلم او زه د ټول هېواد دوهم مشر يم.

۹ اوس ژر شئ، زما پلار ته بېرته ورشئ او هغه ته ووايئ چې ستا زوی يوسف داسې وايي چې خدای پاک زه د مصر دوهم مشر کړی يم. بې له کومه ځنډه ماته راشئ. ۱۰ تاسو به د جوشن په سيمه کې اوسېږئ ترڅو تاسو، ستاسو اولادونه، ستاسو لمسيان، ستاسو رمې او پادې او خپلو ټولو شيانو سره چې درسره دي زما سره نژدې اوسئ. ۱۱ زه به هلته په تاسو پام کوم، ځکه چې د قحطی پنځه کاله لا پاتې دي. که تاسو رانه شئ نو تاسو، ستاسو کورنۍ او ستاسو حيوانات به له لوږې څخه مړه شي.

۱۲ تاسو په خپله او همدارنګه زما ورور بنيامين وينې چې په رښتيا سره دا زه يم چې ستاسو سره خبرې کوم. ۱۳ نو زما پلار په مصر کې زما د عزت او هغه څه څخه چې تاسو وليدل خبر کړئ او ژر هغه دلته راولئ.>

۱۴ بيا هغه خپل لاسونه د خپل ورور بنيامين څخه راتاو کړل او ويې ژړل او بنيامين هغه په غېږ کې ونيوه او ويې ژړل. ۱۵ هغه خپل ټول ورونه ښکل کړل او ورته ويې ژړل. له هغې څخه وروسته ورونو يې ورسره خبرې وکړې.

۱۶ کله چې د فرعون ماڼۍ ته د حضرت يوسف د ورونو د راتلو خبر ورسېده نو فرعون او د هغه ټول درباريان خوشاله شول. ۱۷ فرعون حضرت يوسف ته ووېل: <خپلو ورونو ته ووايه چې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې وکړئ، خپل حیوانات بار کړئ او د کنعان خاورې ته ستانه شئ. ۱۸ خپل پلار او خپلې
کورنۍ ماته راولئ. هغوی ته به د مصر ترټولو ښه ځمکه ورکړم او هغوی به د خپل ژوندانه د اړتیا
څخه زیات ولري. ۱۹ تاته زما امر دی چې هغوی ته ووایه: داسې وکړئ چې د مصر څخه د خپلو
اولادونو او خپلو ښځو دپاره ګاډۍ ګانې بوځئ او خپل پلار د ځان سره راواخلئ او راشئ. ۲۰ د
هغو شیانو په باره کې چې تاسو یې د ځان سره نه شئ راوړلی هیڅ اندېښنه مه کوئ ځکه چې د
مصر ترټولو ښه ځمکه به ستاسو وي.>

۲۱ نو د حضرت یعقوب زامنو همداسې وکړل او لکه څنګه چې فرعون امر کړی ؤ حضرت یوسف
هغوی ته ګاډۍ ګانې ورکړې او هغوی ته یې د سفر خواړه هم ورکړل. ۲۲ هغوی هر یو ته یې یوه
یوه جوړه کالې ورکړل، مګر بنیامین ته یې درې سوه مثقاله سپین زر او پنځه جوړه کالې ورکړل.
۲۳ او خپل پلار ته یې د مصر ترټولو ښو شیانو څخه د خرو لس باره او په ډوډۍ، غلو دانو او
نورو خواړو باندې بار لس خرې د هغه د سفر دپاره ولېږلې. ۲۴ بیا هغه خپل ورونه رخصت کړل
او څنګه چې روان شول نو هغوی ته یې وفرمایل: <په لاره کې شخړه مه کوئ.>

۲۵ نو دوی د مصر څخه ووتل او په کنعان کې خپل پلار حضرت یعقوب ته راغلل. ۲۶ هغه یې
خبر کړ: <یوسف تر اوسه پورې ژوندی دی او د مصر دوهم مشر دی.> حضرت یعقوب هک حیران
شو او د هغوی په خبره یې باور ونه کړ.

۲۷ مګر کله چې هغوی د حضرت یوسف ټولې خبرې حضرت یعقوب ته بیان کړې او هغه
ګاډۍ ګانې یې چې حضرت یوسف د هغه د راوستلو دپاره رالېږلې وې ولیدلې، نو د هغوی په پلار
حضرت یعقوب کې بېرته ساه راپیدا شوه. ۲۸ حضرت یعقوب وفرمایل: <زه باور لرم چې زما
زوی یوسف تر اوسه پورې ژوندی دی. زه به لاړ شم او د خپل مرګ څخه مخکې به هغه ووینم.>

## حضرت یعقوب د خپلې کورنۍ سره مصر ته ځي

**۴۶** ۱ حضرت یعقوب چې هرڅه درلودل هغه یې واخیستل او بئرشبع ته لاړ او هلته یې د
خپل پلار حضرت اسحاق خدای ته قرباني وړاندې کړه. ۲ خدای پاک د حضرت یعقوب سره د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شپې په رویا کې خبرې وکړې او ویې فرمایل: <ای یعقوبه، ای یعقوبه!>

هغه ځواب ورکړ: <زه حاضر یم.>

۳ هغه وفرمایل: <زه خدای یم، ستا د پلار خدای. مصر ته د تللو څخه مه وېرېږه، ځکه چې
هلته به ستا څخه یو لوی قوم جوړ کړم. ۴ زه به ستا سره مصر ته لاړ شم او په یقین سره به ستا
اولاده بېرته دې وطن ته راولم. کله چې ته مړ شوې نو یوسف به دې ښخ کړي.>

۵ نو حضرت یعقوب د بئرشبع څخه روان شو. د هغه زامنو خپل پلار حضرت یعقوب، خپل
اولادونه او خپلې ښځې واخیستلې او په هغو ګاډیو کې یې سپرې کړلې چې فرعون د هغوی د
راوستلو دپاره لېږلې وې. ۶ همدارنګه هغوی خپل حیوانات او شتمنې چې په کنعان کې یې ګټلې
وو واخیستل او حضرت یعقوب او د هغه ټوله اولاده مصر ته لاړل. ۷ نو هغه د ځان سره خپل
زامن، لمسیان، خپلې لورګانې، لمسیانې او خپله ټوله اولاده مصر ته بوتلل.

۸ د حضرت یعقوب د کورنۍ غړې چې د هغه سره مصر ته راغلل دا دي: د حضرت یعقوب مشر
زوی روبین. ۹ د روبین زامن: حنوک، فلو، حصرون او کرمي. ۱۰ شمعون او د هغه زامن:
یموئیل، یامین، اوحد، یاکین، صوحر او شائول د کنعانۍ ښځې زوی. ۱۱ لاوي او د هغه زامن:
جرشون، قهات او مراري. ۱۲ یهودا او د هغه زامن: عیر، اونان، شیله، فارص او زارح. (مګر عیر او
اونان په کنعان کې مړه شوي وو.) د فارص زامن حصرون او حامول وو. ۱۳ یساکار او د هغه زامن:
تولاع، فوه، یوب او شمرون. ۱۴ زبولون او د هغه زامن: سارد، ایلون او یاحلئیل. ۱۵ دا د لیه
زامن وو چې په بین النهرین کې یې حضرت یعقوب ته وزېږول چې په هغو کې د هغې لور دینه هم
شامله وه. د لیه د اولادې ټول شمېر دري دېرش تنه وو.

۱۶ جاد او د هغه زامن: صفیون، حجي، شوني، اصبون، عیري، ارودي او ارئیلي. ۱۷ اشیر او د
هغه زامن: یمنه، یشوه، یشوي، بریعه او د هغوی خور سارح وه. او د بریعه زامن حابر او ملکیئیل وو.
۱۸ دغه شپاړس تنه د حضرت یعقوب اولاده وه چې د زلفې څخه پیدا شوي وو او زلفه هغه وینځه
وه چې لابان خپلې لور لیه ته ورکړې وه.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(١٩) د حضرت یعقوب د ښځې راحیل زامن: حضرت یوسف او بنیامین. (٢٠) په مصر کې د اون د
کاهن لور اسنات حضرت یوسف ته منسي او افرایم وزېږول. (٢١) بنیامین او د هغه زامن: بالع، باکر،
اشبیل، جیرا، نعمان، ایحي، رش، مفیم، حفیم او آرد. (٢٢) دغه څوارلس تنه د حضرت یعقوب اولاده
وه چې د راحیل څخه پیدا شوي وو.

(٢٣) دان او د هغه زوی حوشیم. (٢٤) نفتالي او د هغه زامن: یحصئیل، جوني، یصر او شلیم. (٢٥)
دغه اووه تنه د حضرت یعقوب اولاده وه چې د بلهې څخه پیدا شوي وو او بلهه هغه وینځه وه چې
لابان خپلې لور راحیل ته ورکړې وه.

(٢٦) د هغو نفرو شمېر چې په خپله د حضرت یعقوب د نسل څخه وو او د هغه سره مصر ته تللي
وو ټول شپږشپېته تنه وو چې په هغو کې د حضرت یعقوب د زامنو ښځې شاملې نه وې. (٢٧) د
حضرت یوسف زامن چې په مصر کې پیدا شول دوه تنه وو. نو د حضرت یعقوب د کورنۍ غړي چې
مصر ته تللي وو ټول اویا تنه وو.

## حضرت یعقوب او د هغه کورنۍ په مصر کې

(٢٨) حضرت یعقوب یهودا د ځان څخه مخکې حضرت یوسف ته ولېږه چې د جوشن لاره ورته
وروښایي. کله چې هغوی د جوشن سیمې ته ورسېدل، (٢٩) حضرت یوسف خپله جنګي ګاډۍ تیاره
کړه او جوشن ته د خپل پلار د لیدلو دپاره روان شو او څنګه چې یې هغه ولیده په غېږ کې یې ونیوه
او ډېر یې وژړل. (٣٠) حضرت یعقوب یوسف ته وفرمایل: <اوس زه مرګ ته تیار یم، ځکه چې ته
مې ولیدلې او پوه شوم چې تر اوسه پورې ژوندی یې.>

(٣١) نو بیا حضرت یوسف خپلو ورونو او د خپل پلار کورنۍ ته وفرمایل: <زه ځم او د فرعون سره
خبرې کوم او ورته به ووایم چې زما ورونه او زما د پلار ټوله کورنۍ چې په کنعان کې اوسېدل ماته
راغلي دي. (٣٢) دا خلک شپانه دي او حیوانات ساتي او خپلې رمې، پادې او هرڅه چې یې
درلودل له ځان سره یې راوړي دي. (٣٣) کله چې فرعون تاسو راوغواړي او پوښتنه درڅخه وکړي
چې تاسو څه کسب کوئ، (٣٤) نو تاسو باید ځواب ورکړئ چې مونږ د هلکتوب څخه د خپلو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نیکونو په شان تر اوسه پورې حیوانات ساتو. نو بیا به تاسو ته اجازه درکړي چې د جوشن په سیمه
کې واوسېږئ. حضرت یوسف دا خبره په دې خاطر وکړه چې مصریان د شپانو څخه کرکه کوي.>

## ۴۷

۱ نو حضرت یوسف لاړ او فرعون ته یې وفرمایل: <زما پلار او زما ورونه د خپلو رمو،
پادو او خپلو ټولو شیانو سره چې درلودل یې د کنعان څخه راغلي دي او اوس د جوشن په سیمه کې
دي.> ۲ هغه د خپلو ورونو څخه پنځه تنه انتخاب کړل او فرعون ته یې وروپېژندل. ۳
فرعون د هغوی څخه پوښتنه وکړه: <تاسو څه کار کوئ؟>

هغوی ځواب ورکړ: <مونږ د خپلو نیکونو په شان شپانه یو. ۴ مونږ راغلي یو چې د یو څه
مودې دپاره په دې وطن کې واوسېږو، ځکه چې د کنعان په خاوره کې ډېره سخته قحطي ده او هلته
زمونږ د رمو دپاره څرځای نشته. نو اوس مونږ ته اجازه راکړئ چې د جوشن په سیمه کې
واوسېږو.> ۵ فرعون حضرت یوسف ته وویل: <اوس چې ستا پلار او ورونه تاته راغلي دي،
۶ د مصر ځمکه ستا په مخ کې ده. پرېږده چې هغوی د جوشن په سیمه کې چې د دې هېواد
ترټولو ښه ځمکه ده واوسېږي. همدارنګه زه غواړم چې ستاسو ډېر ښه شپانه دې زما پسونه او وزې
وساتي.>

۷ بیا حضرت یوسف خپل پلار حضرت یعقوب راوست او فرعون ته یې وروپېژانده. حضرت
یعقوب فرعون ته برکت ورکړ. ۸ فرعون د حضرت یعقوب څخه پوښتنه وکړه: <ستا عمر څومره
دی؟>

۹ حضرت یعقوب ځواب ورکړ: <زما د عمر یوسلو دېرش کاله شوي دي او له یو ځای څخه مې
بل ځای ته کډه کړې ده. زما پلرونو او نیکونو هم له یو ځای څخه بل ځای ته کډه کړې ده. مګر
هغوی اوږد عمر درلود او د هغوی ژوند زما د ژوند په شان سخت نه ؤ.> ۱۰ حضرت یعقوب یو
ځل بیا فرعون ته برکت ورکړ او د هغه د حضور څخه لاړ. ۱۱ نو حضرت یوسف د فرعون د امر
سره سم خپل پلار او ورونو ته په مصر کې ډېر ښه ځای چې د رعمسیس ښار ته نژدې ؤ ورکړ.
۱۲ حضرت یوسف خپل پلار، خپلو ورونو او د خپل پلار ټولې کورنۍ ته د هغوی د اولادونو د
شمېر سره سم خواړه برابرول.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## قحطي

۱۳ قحطي دومره سخته شوه چې په ټوله سيمه کې ډوډۍ نه وه او د کنعان او مصر خلک د لوږې له لاسه کمزوري شول. ۱۴ د مصر او کنعان د خلکو سره چې څومره پيسې وې هغه ټولې يې د غلو د اخيستلو په بدل کې حضرت يوسف ته ورکړې او حضرت يوسف هغه پيسې واخيستلې او د فرعون په خزانه کې يې کېښودلې. ۱۵ کله چې د مصر او د کنعان د خلکو پيسې خلاصې شوې نو ټول مصريان حضرت يوسف ته راغلل او ويې ويل: <زمونږ ټولې پيسې خلاصې شوې، مونږ ته غلې داني راکړئ. دې ته مو مه پرېږدئ چې تاسو راته ګورئ او مونږ مړه کېږو.>

۱۶ حضرت يوسف ځواب ورکړ: <که چېرې ستاسو پيسې خلاصې شوې وي نو خپل حيوانات راولئ. زه به ستاسو د حيواناتو په بدل کې په تاسو باندې غلې داني خرڅې کړم.> ۱۷ نو هغوی حضرت يوسف ته خپل حيوانات راوستل او حضرت يوسف د هغوی د اسونو، پسونو، وزو، غوايانو او خرو په بدل کې ورته غله ورکړه او په هغه کال يې هغوی ته د دوی د ټولو حيواناتو په بدل کې غله ورسوله.

۱۸ کله چې هغه کال تېر شو، د قحطۍ په بل کال هغوی حضرت يوسف ته راغلل او ويې ويل: <باداره، ستاسو څخه دا حقيقت نه شو پټولی چې زمونږ ټولې پيسې خلاصې شوې دي او زمونږ حيوانات هم ستاسو شول. زمونږ سره د خپل ځان او ځمکې څخه پرته نور څه نه دي پاتې چې تاسو ته يې درکړو. ۱۹ مونږ دې ته مه پرېږدئ چې مړه شو! مه پرېږدئ چې زمونږ ځمکه شاړه شي. مونږ او زمونږ ځمکه د غلو دانو په بدل کې واخلئ. مونږ به د فرعون غلامان شو او هغه به زمونږ د ځمکې خاوند شي. مونږ ته غله راکړئ چې ژوندي پاتې شو او تخم راکړئ چې خپلې ځمکې وکرو.>

۲۰ نو حضرت يوسف د مصر ټوله ځمکه فرعون ته واخيستله. مصريانو هر يو خپله ځمکه خرڅه کړه ځکه چې په هغوی باندې سخته قحطي شوه او ځمکه د فرعون شوه. ۲۱ حضرت يوسف د مصر د يو سر څخه تر بل سر پورې خلک غلامان کړل. ۲۲ يوازينۍ ځمکه چې حضرت يوسف په بيه نه وه اخيستې هغه د کاهنانو ځمکه وه، ځکه چې کاهنانو ته به د فرعون له خوا يو څه ورکول



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کېدل چې خپل ژوند وربانديې وکړي. په دې سبب هغوی خپله ځمکه خرڅه نه کړه. ۲۳ حضرت یوسف خلکو ته وفرمایل: <اوس چې ما ستاسو ځمکې او تاسو د فرعون دپاره اخیستي یئ، دا دی تخم ستاسو دپاره چې په خپلو ځمکو کې یې وکرئ. ۲۴ مګر کله چې د حاصل وخت راشي، نو تاسو به د هغې څخه پنځمه برخه فرعون ته ورکړئ او پاتې څلور برخې د ځمکو د تخم او خپل ځان، خپلو کورنیو او خپلو ماشومانو ته د خوراک دپاره وساتئ.>

۲۵ هغوی وویل: <باداره، تاسو زمونږ سره نېکي وکړله او زمونږ ژوند مو وژغوره. نو مونږ به د فرعون غلامان یو.> ۲۶ نو حضرت یوسف د مصر په خاوره کې دا قانون وټاکه چې د محصولاتو پنځمه برخه به د فرعون وي. دغه قانون تر نن ورځې پورې په خپل قوت پاتې دی. یوازې د کاهنانو ځمکه د فرعون جایداد نه شو.

## د حضرت یعقوب اخرنی غوښتنه

۲۷ نو اسراییلیان په مصر کې د جوشن په سیمه کې اوسېدل. په هغه ځای کې دوی شتمني لاس ته راوړه او د ډېرو اولادونو خاوندان شول. ۲۸ حضرت یعقوب په مصر کې اوولس کاله ژوند وکړ او په یوسلو اووه څلوېښت کلنۍ کې وفات شو. ۲۹ کله چې د حضرت یعقوب د وفات کېدلو وخت رانژدې شو، هغه خپل زوی حضرت یوسف راوغوښت او هغه ته یې وفرمایل: <که چېرې زه دربانديې په رښتیا ګران یم نو خپل لاس دې زما د ورون لاندې کېږده او زما سره لوظ وکړه چې ما به په مصر کې نه ښخوې. ۳۰ زه غواړم په هغه ځای کې ښخ کړای شم چې زما نیکونه په کې ښخ دي. ما د مصر څخه یوسه او په کوم ځای کې چې هغوی ښخ شوي دي هلته مې ښخ کړه.>

حضرت یوسف ځواب ورکړ: <ځنګه چې ته وایې همداسې به وکړم.>

۳۱ حضرت یعقوب وفرمایل: <زما سره لوظ وکړه چې ته به دا کار کوې.> حضرت یوسف لوظ وکړ او حضرت یعقوب په خپل کټ باندې سر ټیټ کړ او شکر یې ادا کړ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## حضرت یعقوب افرایم او منسي ته برکت ورکوي

**۴۸** ۱ څه موده وروسته حضرت یوسف ته خبر ورسېد چې پلار يې ناروغ دی. نو هغه خپل دواړه زامن منسي او افرایم د ځان سره واخیستل او د خپل پلار لیدلو ته ورغی. ۲ کله چې حضرت یعقوب خبر شو چې د هغه زوی حضرت یوسف د هغه د لیدلو دپاره راغلی دی نو هغه د خپل ټول قوت څخه کار واخیست ترڅو په خپل کټ باندې کښېناست. ۳ حضرت یعقوب یوسف ته وفرمایل: <مطلق قادر خدای ماته د کنعان په وطن کې په لوز کې راښکاره شو او برکت يې راته راکړ. ۴ ماته يې وفرمایل: تاته به زیات اولادونه درکړم. ستا د نسل څخه به زیات قومونه جوړ کړم او دغه ځمکه به ستا څخه وروسته ستا اولادې ته د هغوی د دایمي ملکیت په توګه ورکړم.

۵ نو اوس ستا دوه زامن چې زما د راتللو څخه مخکې په مصر کې زیږېدلي وو، هغوی زما دي. افرایم او منسي د روبین او شمعون په شان زما زامن دي. ۶ له دوی څخه وروسته چې ستا کوم اولادونه پیدا کیږي هغه به ستا وي او د هغوی میراث به د افرایم او منسي څخه وي. ۷ څه وخت چې زه د بین النهرین څخه راتلم نو په خواشینۍ سره راحیل د کنعان په خاوره کې افراتې ته نژدې په لاره کې مړه شوه. نو هغه مې د افراتې د لارې تر څنګه ښخه کړه.> (هغه ځای اوس د بیت الحم په نوم یادیږي.)

۸ کله چې حضرت یعقوب د حضرت یوسف زامن ولیدل هغه پوښتنه وکړه: <دا څوک دي؟>

۹ حضرت یوسف خپل پلار ته وفرمایل: <دا زما زامن دي چې خدای پاک ماته دلته په مصر کې راکړي دي.>

بیا حضرت یعقوب وفرمایل: <هغوی ماته راوله چې زه ورته برکت ورکړم.> ۱۰ د حضرت یعقوب سترګې د زوړوالي له کبله دومره کمزورې شوې وې چې څه شی ورته سم نه ښکاره کېده. نو حضرت یوسف خپل زامن هغه ته ورنژدې کړل او د هغه پلار هغوی ښکل کړل او په خپل غېږ کې يې ونیول. ۱۱ حضرت یعقوب یوسف ته وفرمایل: <ما هیڅکله دا امید نه درلود چې ستا مخ به بیا ووینم او اوس خدای پاک زه دې ته پرېښودم چې ستا اولادونه هم ووینم.> ۱۲ بیا حضرت



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یوسف هغوی د خپل پلار د زنګنونو څخه لیرې کړل او د احترام په خاطر یې هغه ته خپل سر ټیټ کړ.

۱۳ حضرت یوسف افرایم د حضرت یعقوب چپ لاس ته او منسي یې د هغه ښي لاس ته نژدې راوستل. ۱۴ مګر حضرت یعقوب خپل ښي لاس اوږد کړ او هغه یې د افرایم په سر باندې کېښود، که څه هم هغه کشر ؤ او خپل چپ لاس یې د منسي په سر باندې چې مشر ؤ کېښود. ۱۵ بیا هغه حضرت یوسف ته برکت ورکړ او ویې فرمایل: <هغه خدای چې زما پلرونو حضرت ابراهیم او حضرت اسحاق یې خدمت کړی دی، هغه دې دغو هلکانو ته برکت ورکړي! هغه خدای چې تر دې ورځې پورې یې زما لارښوونه کړې، هغوی ته دې برکت ورکړي! ۱۶ هغه فرښته دې هغوی ته برکت ورکړي چې زه یې د ټولو بدو څخه ژغورلی یم! زما او زما د نیکونو حضرت ابراهیم او حضرت اسحاق نومونه دې د دوی په وسیله ژوندي وساتل شي او هغوی دې ډېره اولاده ولري.>

۱۷ کله چې حضرت یوسف ولیدل چې پلار یې خپل ښي لاس د افرایم په سر باندې کېښود هغه خفه شو. نو د خپل پلار لاس یې ونیوه چې د افرایم له سر څخه یې د منسي سرته راواړوي. ۱۸ حضرت یوسف هغه ته وویل: <نه پلاره، دغه مشر هلک دی. خپل ښي لاس دې د هغه په سر باندې کېږده.>

۱۹ مګر د هغه پلار انکار وکړ او ویې ویل: <ای زویه، زه پوهېږم! زه پوهېږم چې د منسي څخه به هم یو لوی قوم جوړ شي. مګر د هغه کشر ورور به د هغه څخه لوی سړی شي ځکه چې د هغه د اولادې څخه به لوی قومونه پیدا شي.>

۲۰ په هغه ورځ حضرت یعقوب هغوی ته برکت ورکړ ویې فرمایل: <د اسراییلو قوم به یو او بل ته ستاسو په نوم برکت غواړي او داسې به وایي چې خدای پاک دې تا د افرایم او منسي په شان کړي.> په دې ډول حضرت یعقوب افرایم ته په منسي باندې د لومړي توب حق ورکړ.

۲۱ بیا حضرت یعقوب یوسف ته وفرمایل: <ګوره، زه مرګ ته نژدې یم خو خدای پاک به ستاسو سره مل وي او تاسو به بېرته د خپلو نیکونو وطن ته بوځي. ۲۲ د شکیم هغه حاصلخیزه سیمه چې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما د اموریانو څخه د خپلې توري او لیندې په زور نیولې ده، ستا ورونو ته نه، بلکه تاته درکوم.>

## د حضرت یعقوب اخرنۍ خبرې

**۴۹** ﴿١﴾ حضرت یعقوب خپل زامن راوغوښتل او ورته ویې فرمایل: <راغونډ شئ ترڅو تاسو له هغه څه څخه خبر کړم چې په راتلونکې کې به په تاسو باندې پېښ شي.

﴿٢﴾ د یعقوب زامنو سره راټول شئ واورئ

غوږ مو ونیسئ خپل پلار اسراییل ته

﴿٣﴾ ای روبینه! زما مشر زویه

زما قوت یې ته زما د نارینتوب اولنۍ نښه یې

یې په عزت کې بهتر او په قدرت کې بهتر

﴿۴﴾ یې بې کنټروله د سیلاب په شان

نور به د ټولو نه بهتر نه یې

په دې خاطر چې زما وینځې سره څملاستلې

او د خپل پلار کټ دې ناپاکه کړ

﴿۵﴾ دې شمعون او لاوي دواړه سره ورونه

خپلو وسلو نه هغوی کار اخلي چې ظلم وکړي

﴿۶﴾ د دوی په پټو پلانونو کې شریک به نه شم



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه به د دوی په مجلسونو کې زه برخه واخلم

په دې خاطر چې په خپل قهر کې یې خلک ووژل

او په ملنډو یې غوایان ګوډ کړل

۷ لعنت دې وي د دوی په قهر باندې ځکه چې ډېر سخت ؤ

او په غضب د هغوی چې ډېر بې رحمه ؤ

د دوی نسل به په ټولو اسراییلو کې زه خپور کړم

او د خپل قوم په منځ کې به یې تیت کړم

۸ د ستا ستاینه به کوي ستا ورونه ای یهودا

خپل دښمنان به له اورمېږه نیسې

ستا ورونه کاندې به هم تاته سجده

۹ ای یهودا! ته د زمري بچی یې

چې خپل ښکار ووژنې راستون شې هغه خپل غار ته

د زمري په شان ټیټیږي او خملي

هیڅوک نه شي کړای جرأت هغه ناارام کړي

۱۰ یهودا سره به وي شاهانه امسا

اولاده به یې همېش کړي حکومت



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټول قومونه به هغه ته راوړي باج

د ده په مخکې ټيټوي به هغوی د اطاعت سرونه

۱۱ د انګور تاک پوري به خپل خر تړي

په ډېر ښه شاخ پوري به کوتې تړي

هغه کالي خپل په شرابو مينځي

هغو شرابو کې چينه وينځي چې دي د وينو په شان

۱۲ له شرابو څخه سترګې د ده سرې دي

له شيدو څخه دي سپين د ده غاښونه

۱۳ زبولون به د درياب په غاړه اوسي

وي بندر به د کشتيو

تر صيدونه به يې سيمه ورسيږي

۱۴ يساکار دی په مثال د قوي خر

چې پرېوزي دی د دوه خورجينو منځ کې

۱۵ دی چې وګوري چې ځای د اوسېدو يې ښه دی

او هغه خاوره خوشالوونکې ده

دی به بار ته خپله ملا کاندي راټيټه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د غلام په شان به کار ته شي مجبوره

۱۶ دان به کاندي په خپل قوم حکومت

وي به هغوی لکه د نورو قبیلو د اسراییلو په شان

۱۷ دان د سرک د غاړې مار به وي

دی به په لار کې منګری مار وي

هغه به پوندې د اسونو چیچي

ترڅو سپور نفر يې له شا ولوېږي

۱۸ ستا د خلاصون په انتظار

یمه زه ای ښتنته

۱۹ په جاد به وشي یرغل د یرغلګرو له خوا

دی به له شا نه په هغوی باندې یرغل وکړي

۲۰ د اشیر ځمکه به وي ښه حاصلخېزه

ښه خوندور شاهي خواړه به يې تیار کړي له حاصله خپله

۲۱ نفتالي هغه هوسی ده چې وهي ازادې منډې

زېږوي ښکلي بچي

۲۲ دی یوسف یو حاصلخېزه تاک



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یوه مېوه داره ونه چې وي چینې په غاړه

چې یې څانګې وي ختلې په دېوال باندې

۲۳ کوي ده باندې سخته حمله خپل دښمنان

د خپلو غشو او لیندو سره په ده پسې شول

۲۴ خو لینده د هغه پاتې شوه ثابته

او د هغه متې قوي شوې

د یعقوب د قوي خدای په قدرت

هغه شپونکي په وسیله

چې ساتندوی د اسراییلو دی

۲۵ دا دی خدای د ستا د پلار چې کړي کومک درسره

مطلق قادر خدای دی چې تاته برکت درکوي

برکتونه د باران درکوي پاس له اسمانه ښخه

او د چینو له اوبو چې دي د ځمکې لاندې

برکتونه به د ډېرو اولادونو او پادو درکړي

۲۶ ستا پلار چې کوم برکتونه دي موندلي

خپلو نیکونو ښخه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ډېر لوی دي له هغو لوی دي

کوم چې راځي له ابدي غرونو

برکتونه دې دا ټول وي د یوسف په سر

د هغه چا په تندي چې شهزاده دی

د خپلو ورونو منځ کې

٢٧ بنیامین دی په مثال د داړونکي لېوه

په سهار کې دی خوري ښکار خپل

په ماښام کې هغه وېشي غنیمت خپل>

٢٨ دا ټولې د اسراییلو دولس قبیلې دي او دا هغه څه وو چې د هغوی پلار دوی ته د برکت
ورکولو په وخت کې وویل او هر یو ته یې هغه برکت ورکړ چې ورسره مناسب ؤ.

## د حضرت یعقوب وفات کېدل

٢٩ وروسته بیا حضرت یعقوب هغوی ته دغه وصیت وکړ: <زه به ژر مړ شم او د خپلو نیکونو
سره به یوځای شم. ما د خپلو نیکونو سره په هغې سمڅې کې ښخ کړئ چې د حیتي عفرون په پټې
کې ده. ٣٠ دا هغه سمڅه ده چې د مکفیلې په پټې کې ممرې ته مخامخ د کنعان په خاوره کې پرته
ده او حضرت ابراهیم هغه د پټې سره د عفرون څخه د هدیرې دپاره اخیستې وه. ٣١ دا هغه ځای
دی چې حضرت ابراهیم او د هغه ښځه ساره او حضرت اسحاق او د هغه ښځه ربکا په کې ښخ شوي
وو او هلته مې لیه هم ښخه کړه. ٣٢ هغه پټې او سمڅه د حیتیانو څخه اخیستل شوي وو.> ٣٣
کله چې حضرت یعقوب خپلو زامنو ته دا وصیت وکړ، هغه بېرته څملاست او وفات شو.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵۰ ① حضرت یوسف په خپل پلار باندې ورپرېوت او په هغه باندې يې وژړل او ښکل يې کړ. ② بيا حضرت یوسف خپلو خاصو طبيبانو ته چې د هغه خدمت يې کاوه حکم وکړ چې د هغه پلار حضرت یعقوب موميايي کړي. نو طبيبانو هغه موميايي کړ. ③ په دې کار باندې پوره څلوېښت ورځې ولګېدلې او د مصر خلک اويا ورځې په هغه باندې غمجن وو.

④ کله چې د هغه د غم ورځې تېرې شوې نو حضرت یوسف د فرعون درباريانو ته وفرمايل: >که په ما مهرباني کوئ نو زما په خاطر د فرعون سره خبرې وکړئ او هغه ته ووايئ: ⑤ زما پلار ماته قسم راکړی دی او ويې ويل: زه مړ کېږم. ما د کنعان په خاوره کې په هغه قبر کې چې پخوا جوړ شوی ؤ ښخ کړه. اوس ماته اجازه راکړئ چې لاړ شم او پلار مې ښخ کړم. بيا به بېرته راشم.<

⑥ فرعون ځواب ورکړ: >لاړ شه او لکه څنګه چې پلار دې درته قسم درکړی دی هغه ښخ کړه.<

⑦ نو حضرت یوسف روان شو چې خپل پلار ښخ کړي. د فرعون ټول درباريان، د دربار لوړ رتبه خلک او د مصر ټول مشران د حضرت یوسف سره لاړل. ⑧ د دوی سره د حضرت یوسف د کورنۍ ټول غړي، د هغه ورونه او د هغه د پلار کورنۍ هم لاړل. يوازې د هغوی اولادونه، رمې او پادې په جوشن کې پاتې شول. ⑨ جنګي ګاډۍ ګانې او اس سواران هم د هغوی سره لاړل او دا يوه لويه قافله وه.

⑩ کله چې دوی د اطاد درمند ځای ته چې د اردن د سيند په لمرخاته کې دی ورسېدل نو ډېر سخت او په لوړ اواز وژړل او حضرت یوسف په هغه ځای کې د خپل پلار دپاره اووه ورځې د مړيني مراسم ونيول. ⑪ کله چې د هغه ځای اوسېدونکو کنعانيانو دا وليدل نو هغوی وويل: >مصريان ډېر سخت غم او ژړا کوي.< نو ځکه هغه ځای چې د اردن د سيند په لمرخاته کې دی د آبل مصرايم په نوم ياد کړای شو.

⑫ نو څنګه چې حضرت یعقوب وصيت کړی ؤ زامنو يې هماغسې وکړل. ⑬ هغوی هغه د کنعان خاورې ته يووړ او ممرې ته نژدې يې د مکفيله د پټې په سمڅه کې چې حضرت ابراهيم هغه د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پټي سره د حیتي عفرون څخه د هدیرې دپاره اخیستې وه ښخ کړ. ۱۴ حضرت یوسف د خپل پلار
د ښخولو څخه وروسته د خپلو ورونو او هغو ټولو خلکو سره چې د جنازې دپاره د هغه سره تللي
وو مصر ته راستون شو.

## حضرت یوسف خپلو ورونو ته تسلي ورکوي

۱۵ کله چې د حضرت یوسف ورونو ولیدل چې د هغوی پلار وفات شو نو هغوی وویل: <که
چېرې یوسف زمونږ څخه لا تر اوسه هم کرکه کوي او وغواړي چې د ټولو هغو بدو بدله چې مونږ
ورسره کړې دي زمونږ څخه واخلي، نو بیا به څه کوو؟> ۱۶ نو هغوی حضرت یوسف ته پیغام
ورولیږه او ویې ویل: <زمونږ پلار د خپل مرګ څخه مخکې دغه حکم کړی دی: ۱۷ یوسف ته به
داسې ووایئ چې زه ستا څخه دا غوښتنه کوم چې د خپلو ورونو ګناهونه او خطاګانې او هغه بده
رویه چې ستا سره یې کړې ده وبخښه. اوس زمونږ یعنې د خپل پلار د خدای د غلامانو ګناهونه
وبخښه.> کله چې حضرت یوسف د هغوی پیغام ترلاسه کړ نو ویې ژړل.

۱۸ بیا د هغه ورونه په خپله راغلل او د هغه په وړاندې یې خپل سرونه ټیټ کړل ویې ویل: <مونږ
ستا غلامان یو.>

۱۹ مګر حضرت یوسف هغوی ته وفرمایل: <مه وېرېږئ. آیا زه خدای یم؟ ۲۰ تاسو زما په
خلاف د بدو پلان درلود، خو خدای پاک هغه په نیکۍ باندې بدل کړ د دې دپاره چې د ډېرو خلکو
ژوند وژغوري او لکه څنګه چې وشول هغوی نن ژوندي پاتې دي. ۲۱ نو بیا مه وېرېږئ. زه به په
تاسو او ستاسو په اولادونو باندې پام کوم.> نو هغوی ته یې تسلي ورکړه او په مهربانۍ سره یې
ورسره خبرې وکړې.

## د حضرت یوسف وفات کېدل

۲۲ حضرت یوسف د خپل پلار د ټولې کورنۍ سره په مصر کې پاتې شو. هغه یوسلو لس کاله ژوند
وکړ. ۲۳ حضرت یوسف د افرایم د اولادونو او لمسیانو د لیدلو پورې ژوندی ؤ او همدارنګه هغه تر



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغې پورې ژوندی ؤ چې د منسي د زوی ماخير اولادونه يې هم په خپله کورنی کې وليدل. ۲۴
حضرت يوسف خپلو ورونو ته وفرمايل: <زه مرګ ته نژدې شوی يم. خو بې شکه چې خدای پاک
به تاسو وساتي او تاسو به له دې وطن څخه هغه وطن ته بوځي چې د حضرت ابراهيم، حضرت
اسحاق او حضرت يعقوب سره يې کلکه وعده کړې ده.> ۲۵ حضرت يوسف د حضرت يعقوب د
کورنی خلکو ته قسمورکړ او ويې فرمايل: <زما سره دا وعده وکړئ کله چې خدای پاک تاسو هغه
هېواد ته بيايي، نو زما مړی به له ځان سره وړئ.> ۲۶ نو حضرت يوسف د يوسلو لس کالو په
عمر په مصر کې وفات شو. وروسته له دې چې هغه يې موميايي کړ، په تابوت کې يې کېښود.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
afghanbibles.org © د ختيځ افغانستان ۲۰۲۱
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.